شهامت

دبرماې مسلمانانو ٦٠ كلنې غمیزې راتلونكیاو داسلامي نړۍ مسؤلیت....

داسلامي امت درد وونكى انځور او دوا كمنو مجرمانه چوپتیا!

شپږم كال شپږمه ګڼه. پرلپسې ۲۸ ګڼه. ربیع الثاني - جمادی الاولی ۱۴۳۴هق. مارچ ۲۰۱۳م

په كاپیسا كې دجهادي بهیرلیدنه او ارزونه

بګرام ، هلته چې دڅلورنیم زره انسانانو په ژوند لوبې كیږي

دبدخشان ولایت دجهادي مرستیال مركه

غرب دمسلمانانو لپاره څه ډول اسلام غواړي؟

كرزي له قطره څه راوړل؟

دوالیبال لوبه او دښځو حقوق !!

جنگهای صلیبی

شكست مفتضحانه و خروج فلاكت بار...

د كوریا د شخړې پرون او نن

شهامت

علمي، کلتوري او اسلامي مجله

شپږم کال شپږمه مه ګڼه، پرلپسې38 ګڼه،ربيع الثاني – جمادی الاولی1434هق، مارچ2013 م

لړليک

مخ	عنوان	ګڼه
1	سرليکنه	1
3	په عربو کې (محمد) لومړی نوم	2
5	دمذاکراتو دبهیر چټکتیا دڅه لپاره	3
8	پر مالي دلویدیځ یرغل دڅه لپاره ؟	4
12	نور څه دول مصؤنیت	5
15	حملات علیه ارګان جاسوسی دشمن ، انتقام از	6
17	دحدیث شریف دتدوین تاریخ	7
22	دجدی ۲۸ مه دروحانیت پر خلانده ډېوو دکمونستي	8
27	څو شیبې دکندهار له مجاهدینو سره	9
33	په تیر ۲۰۱۲ کال کې دملکي تلفاتومستند ارقام	10
39	که یو عسکر هم پاته و	11
42	ګلورينې پاڼې	12
44	دتخار جهادي بهیر ته لنډه کتنه	13
47	جنګي لګښتونو امریکا څملوله	14
49	وروستی پیښې په هند کې دمېرمنو ناوړه حالت	15
53	په مصر کې نوی بحران ، داسلامي ګوندونو برياوې	16
57	مناقشه، شبهاتی درمورد مشارکت در دیمکراسی و	17
63	الاکابر ، حضرت عبدالله ابن مسعود ﷺ	18
65	درواني پېړۍ لوی شکست	19
69	اسلامي هیوادو کې داسلامیت او مغربیت ترمنځ	20
72	سفر کرزی برای پیمان استراتیژیک یا تجدید پیمان	21
74	عملیات اخیر کابل هوشدار نوین ومژده پیروزی	22
76	جنګهای صلیبی	23
79	دالقاعدې په نامه جګړه	24
81	دشهامت دار الافتاء	25

دامتیاز خاوند :

دافغانستان اسلامي امارت

دفرهنګي چارو کمېسیون

مســـؤل مدیر :

ابو ظهير

کتـــنـــپــــلاوی :

شاهد "حقاني " لطيف عزم

حسن " علوي " بلال "وحيد"

نعيم " صافی " عابد مجاهد

بـــيـــه :

يوه ګڼه 20 افغانۍ او 30

کلداري په پاکستان کې

تخنيکي مسؤل :

زرملوال او حقمل

يـــادونـــه

شهامت له سرمقالې پر ته دنورو لیکنو

مسؤلیت په غاړه نه اخلي

ادرس : کابل کارته پروان عقب سینمای بهارستان برېښناليک :Sham.shahamat@yahoo.com

بسم الله الرحمن الرحيم

سرمقاله

داسلامي امت دردوونكى انځوراو دواكمنو مجرمانه چوپتيا !!

هو! اوس مهال نړۍ كې تر ټولو دردوونكي او ځوروونكى انځور له يونيم مليارده دزياتو هغوانسانانو دي چې مسلمانان اوداسلام پيروان بلل كېږي !! دنورو اديانو منونكو دوينو سره په مقايسه دهغوئ وينې داوبو په څېر ارزانه بهول كېږي ؛ بېلابېلو كفري او اسلام ضد ځواكونو په فلسطين ، دمشق ، بغدادبرما او افغانستان كې پر مسلمانانو قيامت جوړ كړى او په ډېره بې دردۍ اوبې رحمۍ يې داسلامي امت نسلي تولو پيل كړې !چې په وړاندې يې داسلامي نړۍ دواكمنو قيادتو نومجرمانه چوپتيا دپخوا پشان دوام لري ، هغوئ نړۍ كې د مسلمانانوله حال اوقال نه ځانونه بې پروا نيولي، ډېر افسوس! چې يولوى شمېر غلام ضميره واكمنان دمسلمانانو او اسلام پر ضد داغيارو په صف كې ولاړ دي او تاريخ په دې شاهددى چې نړۍ كې تل دمسلمانانو دغه كمزوري احساس، اوخپل منځې سياليو او رقابتونو داسلام اومسلمانانو دښمنانو ته دېري چانسونه په لاس ور كړي .

دخبري رسنيو په استناد: تر دې شپږ پورې د ګوانتنامو په جهنمي زندان كې دعظيم الشان قرآن دبيحرمتۍ اوسپكاوي جسار ت په بياتكراراولو دځلوېښت پنځه ځلوېښت ورځو راهيسي له ۲۴ زياتو مظلومو بنديانو دنه خوړو په اعتصاب لاس پورې كړى ، چې پكې د۸ تنو حالت د زياتې اندېښنې وړ ښودل شوى خوسخت زړي امريكايان ور ته دوامدار دجسماني تعذيبونو تر څنګ روحانې او ذهنې اذيتونو رسولو په غرض دعظيم الشان قران له توهينه بيا بياكار اخلي ! دغه راز داسرايلو دغاصب رژيم په وحشيانه زندانو كې له پنځه زره نه زيات فلسطيني مسلمانان دسختو ظلمونو او شكنجو ښكار دي ، چې پر نارينه وو سربيره يو شمېر ميرمنې هم داسرايلي درنده ګانو دوحشتونوله امله نه يواځي له خپلو حقوقو څخه بې برخي بلكې دعامو بشرې اوانسانې حقوقو نه هم محرومي شوې دي .

نړۍ كې په مسلمانانو كيدونكو ظلمونو اووحشتونودنړيوال امنيت اوبشريت دحقوقوعلمبر دارو (ملكرو ملتونو او دبشر حقوقو سازمانو) لخوا ستر ګې پټول ددې ښكارندويي كوي چې دغه سازمانونه له شك اوتردد پر ته له مسلمانانو سره دمورميري سلوك لري او دمسلمانانوپه اړه يې اوسنى كردار هيڅكله صاف اوشفاف نشي كېدلى .

څو ورځي وړاندې دمشق كې ددغه هېواددظالم رژيم عسكرو لخوا په ۱۲ساعتونو كې د ۶زره څخه زياتو سني مسلمانانو ټولوژنه ؛ په برما كې دبودايې ترهګرو لخوا يوې دينې مدرسې ته او راچول اوهلته د ۱۳په خوب ويدو طالبانو سېزل داسلامي امت اومسلمانانو دډېر زيات مظلومانه حالت انځورونه كوي ، دكتونكو په اند: راتلونكې كې اندېښني شته چې دغه ډول وحشيانه ټولوژنې نور هم پراختيا ومومي اودنړۍ په يوشمېر نورو هېوادو كې به په مسلمانانو او داسلام په پيروانو باندې دژوند كړۍ نوره هم تنګه شي .

ليكن د" هر كه برماست ازماست " په مصداق دمسلمانانودرواني بدحالۍ ډېر مسؤليت بير ته خپله د مسلمانانو اودهغوئ د واكمنو قيادتونو غاړې ته لوېږي ،ولې چې له يوې اوږدې مودې راهيسي دمسلمانانو دواك دچارو محور په هغه چا دى چې هغوئ ته دمسلمانانود ملي او اجتماعي مصالحو په ځاى خپل عيشونه او شخصي ګټي وټي اوليت لري ، څكه په هر ځل چې په نړۍ كې ديوه هېواد پر مسلمانانو د يوچا لخوا ظلم اوتيرى كېږي داسلامي هېوادو واكمن تنها درسمې اوتشريفاتي غندنو ترحده خپل مسؤليتونه ادابولي! حال داچې ددې روان دردوونكي حالت نه دمسلمانانو وېستل دټولو اسلامي هېوادو دواكمنو ګډ مسؤليت دى ، پكار دى هغوئ له دې حالته داسلامي امت دنجات لپاره ټول خپلمنځي رقابتونه اوسيالۍ شاته كړي! څكه داسلام دمبين دين لاربنوونو ته په پام دنړۍ مسلمانان ديوه تن په څېر دي، هر كله چې دبدن په يوه غړي درد وي، له امله يې ټول بدن ناآرامه اودردمن وي ! نو ضرور اوحتمې اړ تيا ده چې د كفرې ځواكونو داسلام ضد ارادو پر وړاندې ټول اسلامي هېوادونه اوقيادتونه دخپلو ملي او اسلامي مسؤليتونو له مخې په ښه نيت ، ايماني فراست اوديووالي په فولادې روحيه دمسلمانانو دسوكاله راتلونكې لپاره سره يوځواك اويو غږ شي ، څو مسلمانان نړۍ كې دارامۍ ساه واخلي او ددې اوسنيوغميزو له ګردابه په برياليتوب دنجات ساحل ته لار ومومي...!

کرزي له قطره څه راوړل ؟

شاهد

داهغه پوښتنه ده چې ځواب یې ډیر بر ملا او ډاګیز دی ،څکه داڅوور ځې کیږي چې رسنیو د(کرزي)بیچاره پر دې ناکام سفر اوخالي لاس راستیدلودخپلو ویندویانو کومې وچ کړل ، که دکابل دارګ ژبور (ایمل فیضي)هر څومره ور ته توجیهات برابروي او غواړي چې په شنو الفافو کې یې وپوښي ،نور څوک لا څه چې دشمال دټوپکوالونوی بې وسلې سالار (عبدالله خان)یې هم نه مني !

همداپرون یې یوې خبري غونډه پرې راغوښتې وه اود(کرزي)پټ رازونه یې رسوا کړل ، عبدالله خان ددې سوله پال !!دسوله ایزو هڅوغوزه په هغه زنګین نشتر ووهله چې خپلوزړومحسنانوور ته له (کولاب) اونوي رغول شوي (روسیې) نه راولیږلی او داسلام اوهیواد دې قسم خوړلو دښمنانو پرې ور ته تازه ژمنې ور کړې وې ،چې له (۲۰۱۴)ز کال نه وروسته چې کله دامپریالیزم لښکرې ووځي ،نو بیر ته به دکوشیر شوي (کرملین) سره اربابان ور ته خونکارې لښکرې راولیږې او ددې بدنامې ټلوالې ملابه وتړې .

همداسې نورو تکنو کراتانواود(کلیسا)په درستر خوان ناستو تیارخورو هم چندان دکرزي دقطرسفر کامیاب ندی ارزولی اوپه خپلولیکنواو غبر ګونونو کې یې دده تش لاس راستیدل ور ته له شرمه ډک بللې .

.ښه نو!!

قطر ته ولې د کابل داداري دغه زړه سواندی مشر اپه ډیره تلوسه ورغی او څه لپې لپې هیلې یې هم ور سره وتړلې ؟ ځر ګنده ده چې قطر یودهغو اسلامي او عربي هیوادونو څخه دی چې ښه په نره یې داسلامي امارت دسیاسي پلاوي کوربه توب ته ټټر وواهه ،اوافغان ولس مسلمان ولس یې لدې امله هم داحسان پوروړی دی چې د(۵۶)ګڼ هیوادیزغربي یرغل په روانو کلونو کې یې کابل ته سفارت یا سیاسي آتشه ورنکړه او له افغان ولس سره یې خپله خواخوږې تلپاتې وساتله !

نړۍ ته چې دطالبانوپه اړه خپلوبړیخواود کلیساپاپانو سم معلومات نه وو ور کړي او اوس یو څه دحقایقو پیژندنې تل ته کوزشوي ،له ډیره وخته یې ددې تلوسه درلوده چې دطالبانولپاره په کوم خارجي هیواد کې دخپلو مرکچیانودتګ راتګ لپاره پداسې مناسب ځای موافقه وکړي ، دوئ چې د جنګ په ډګر کې څه ندې ترلاسه کړي دسیاسي دیالوګ له لارې دخپلوعسکرو دوتلولپاره څه دیپلوماتیک ضمانتونه ترلاسه اوڅه ناڅه خپل ولس ته له ځانه سره ډاډمن پیغام یوسې .

داسلامي امارت مجاهدینوچې دیر غلګر دښمن په وړاندې یې له بل هر وخت نه دمقاومت لمن وغځیده ،دنړۍ داغفال شویو ولسونواودوئ دسیاسي چارواکیوسره

دپیداشویوابهاماتواوشکوکودرفع او دفع په غرض ددې پلوي وو ،چې یوداسې دیپلوماتیک دفتربايد وي چې دروان جهادله اهدافونه خلک خبر کړي اودنړیوالو دابهام اوشک وریځونورې لیرې کړي ،خپل غږاودخپل مقدس جهادپیغام باید دنړیوالو غوږونو ته ورسوي ،تر څونړیوال زمونږدپر حقانیت ،افاقیت اوجهان بینۍ څه ناڅه خبر شي او دکابل دګوډاګي اداري له مرستواوخونکاروعسکرو له متداوم ځورنې زمونږمظلوم ولس نور خلاص شي ،دطالبانودسیاسي دفتر همداترجیحات ، ایجاب اوپر حقایقوولاړ تصویرو ،چې په هره بیه چې وي باید یوداسې دیپلوماتیک دفتر دځان لپاره ولرې چې دافغان ولس اومورچل کې دناستوطالبانوپه استازولۍ له خپلو اهدافواو دراتلونکې افغانستان له تګلارو دنیاوال وپوهوي او دنړۍ ولسونو ته دخپل ځان او خپلې اسلامي رغنده پالیسۍ په باب کوټلې معلومات ور کړي چې دداسې سیاسي آتشې دیپلوماتیک شتون پخپله پرغلګرو ته ددوئ دهغوالزاماتو منطقي اوغابن ماتونکی ځواب هم و،چې دوئ به پر طالبانو واردول اودوئ به یې دپر مختګ او ترقۍ سره متضاد بلل!

ددې آرونواولړ تیاووپر بناء داګام واخستل شواود طالبانودیپلوماتیک افاقیت ،سیاسي نړۍ لید اورغندوګامونو دادی نن ددې جوګه کړل چې دیوه میګ یا کوچنۍ ګوښي پرځای یې پلاوي نیغ په نیغه خپل جهادي اهداف اواسلامي منشورپه پرله پسې توګه تشریح کوي ،دجاپان اوپاریس په آسیایي او اروپایې زره کې یې دسیاسي اشتراک پر وخت دروان جهاد اهداف برالا داشغاګرو پلرونواواستاذانو ته ورسول او دهغوئ غوږونو کې یې پیچاري کړل .

خود کابل دداراړې چارواکیو ته داهیڅکله دزغم ورنه وه چې داسلامي امارت دپوځي ځواکمنتیا په څیر دې ددوئ سیاسي لور هم دومره په قوت وځلیږي چې دکابل دپردیپالي اداري نه دې میدان وګټي او دااداره دې تر شعاع لاندې راولي ،نوهماغه وو چې دقطر سیاسي پرمختګ ددوئ ستر ګې داغزي غوندې جوخولې اوهر ه شیبه به یې پرې دنیو کوغشي ورول ، کله به یې ویل چې ولې دادفتر طالبان کابل کې نه جوړوي ، کله به یې ویل چې نړۍ ولې له طالبانوته دومره ستر تنازل وکړ داخو ددوئ دپه رسمیت پیژندلو په معنی دي ! داهر څه باید زمونږپه مشوره شوی وی او نیغ په نیغه باید چې لویځوالوله اسلامي امارت سره دخبرو دروازه نوی خلاص کړی! بلکې داهر څه چې کیدای نو دوئ باید پکې وی او .....او.....!

خواسلامي امارت چې لاله لومړۍ ورځې نه یې همدادریغ و ،چې دقضیې اصل لوری طالبان او امریکایان یاناټوال دي ، که دهیواد پر سره هره طرح او تصمیم وي، باید دهمدوئ تر منځ وي ، دکابل دداراړې چارواکي هماغه ځوک دي چې دلویدیځوالو په الوتکو کې سپاره کابل ته له اروپا او امریکانه راوړل شوي ،نو ددوئ سره هره معامله به بې ګټې او کومه فایده به پرې مرتب نشي ،هماغسې یې وکړل چې نن یې دادی سیاسي افق فتح کړاودکابل تش په نوم واکمنان یې هیښ او لاس تر زنې حیران پریښودل .

نن طالبان یوسیاسي طاقت اونړۍ ور ته دیوه سیاسي او نظامي ځواک په ستر ګه ګوري اودهیواد راتلونکی به هم انشاءالله دداسې نویوپر مختګونوشاهد وي !

اوس چې کابل کې دکرزي اداره پوهیدلې چې دغربیانوله وتلو وروسته به دیوه بدیل ځواک په توګه داسلامي امارت تشکیلات ددوئ تشه ډکوي ،نو تر پخوایې مندې تیزې کړي او دادی پدې لړ کې دروان ۲۰۱۳ کال دمارچ په (۳۰)دیرشمه دقطر هیواد ته په دوه ورځني سفر لاړ اوبیر ته تش لاسونه او خالي ورغوی راغی ،نه ورسره داسلامي امارت سیاسي پلاوو کتلې اونه پدې بریالی شوی چې دقطر داسلامي هیواد مشران پدې قانع کړي چې طالبانوباندې کوم ډول فشار وارد کړي ،بلکې تر راستنیدو وروسته یې دالاسته راوړنه وه چې د((طالبانو مشرملامحمد عمرهم کولای شي چې راتلونکې ولسمشریزوانتخاباتو کې برخه واخلي))او ویاندیې(ایمل فیضي)رسنیو ته وویل چې ګوندې قطر کې دامارت کوم رهبري کدر نه وچې کرزي ورسره لیدنه کړې وی !

يووخت چې ملامحمدعمر مجاهد خدای ج مکره ددوئ په ژبه ترهګر و، دادی نن ور ته دکانديدوبلنه ور کوي ،اوس نه ترهګر دی او نه دخاورې دښمن !!

نړيوالو رسنيو پدې سفر داسې غبر ګون وښود ((.... حامد کرزی، قطر ته له دوه ورځني سفر وروسته، بېر ته هېواد ته راستون شو . کرزی او ملګری پلاوی يې، چې دوې ورځې مخکې (د وري په لسمه)، د قطر پلازمېنې دوحې ته په يوه دوه ورځني رسمي سفر تللي و، د دغه هېواد له چارواکو سره، تر ليدنو کتنو وروسته، تېر ماښام هېواد ته راستون شو . د دغه سفر موخه، د افغانستان د سولې د بهير پياوړ تيا ښودل شوې وه، تر څو قطر هېواد طالبان د افغانستان له حکومت سره د خبرو اترو مېز ته کښېنوي . خو د ولسمشر وياند ايمل فيضي له دغه سفر وروسته رسنيو ته ويل، چې په قطر کې د وسله والو طالبانو داسې کوم مخکښ مشر نه و، چې خبرې اترې ورسره وشي . طالبانو هم د افغانستان له حکومت سره هر ډول خبرې اترې رد کړې دي او ويلي يې دي، چې په قطر کې د طالبانو د سياسي دفتر پرانېسته د افغانستان له حکومت سره څه تړاو نه لري . د وسله والو طالبانو وياند ذبيح الله مجاهد وايي: ((په قطر کې د سولې د خبرو اترو لپاره د دفتر جوړېدل، په کرزي پورې اړه نه لري او دا موضوع د قطر د حکومت او طالبانو تر منځ ده)). د دغه دفتر د پرانېستل کېدلو پر مهال هم افغان دولت ناخوښي ښودلې وه او له همدې امله يې په قطر کې د افغانستان سفير خالد احمد زکريا کابل ته راوغوښت . خو د افغان چاوراکو په اند، .... د افغانستان د سولې په بهير کې رښتيني مرسته نه ده کړې او قطر د سولې د بهير د پرمختګ لپاره يوه بله لار بلل کېږي . خو داسې ښکاري، چې په دغه سفر کې د افغانستان د سولې د بهير په اړه کوم د پام وړ پرمختګ نه دی شوی !

د کرزي وياند ايمل فيضي پخپل ليکنيز وضاحت کې رسنيو ته داسې وليکل ((د قطر دې سفر کې دافغان قطر ډيپلوماتيکه اړيکو او د سولې په بهير خبرې وشوې

حامد کرزی د قطر د امير حمد بن خليفه آل ثاني په رسمي بلنه د مارچ مياشتې په دېرشمه د قطر هېواد ته سفر وکړ.

قطري چارواکو څو ځلې مخکې هم له افغانستان څخه غوښتې وو چې د دواړو هېوادونو ترمنځ دې تګ راتګ زيات شي چې د کابل او دوحې تر منځ اړيکې لا پياوړې شي .

.... حامد کرزي د قطر د امير دابلنه ومنله او د سفر پر اجنډا کار پيل شو .

د دې سفر لپاره دوه هدفونه وټاکل شول، لومړی دا چې د کابل او دوحې تر منځ بايد په سياسي او ډيپلوماتيک ډګر کې دوه اړخېزې همکارۍ او تماسونه ډېر شي چې په نورو برخو لکه تجارت او اقتصاد کې هم اړيکې رامنځته شي .

دوهم، د سولې د بهير په اړه چې کوم ابهامات د قطر د رسمي موقف او په دوحه کې د طالبانو د دفتر د پرانيستلو په اړه موجود ول، وضاحت راشي .... په دغه کتنه کې د ولسمشر کرزي او د قطر د امير تر منځ د دوه اړخيزو اړيکو او د سولې د مذاکراتو په اړه خبرې وشوې .

په کتنه کې په دې بحث وشو چې د قطر شاهي دولت او امير يې څه ډول کولای شي د سولې په بهير کې له افغانستان سره همکاري وکړي او زمونږ د دولت له وسله والو مخالفينو سره د مذاکراتو زمينه برابره کړي .

د قطر امير په افغانستان کې د سولې په اړوند د خپلې بشپړې همکارۍ ډاډ ور کړ او د دغه بهير د پياوړي کېدو او په دې برخه کې د افغان دولت د مهم او بنسټيز رول پلوي يې وکړه .

قطر کې طالبان :

قطري لوري آماده ګي وښوده چې په افغانستان کې خپل سفارت پرانيزي او په بېلابېلو برخو کې به خپلې اړيکې له افغان لوري سره پياوړې کړي .

په مذاکراتو کې دا څرګنده شوه چې قطر د طالبانو لپاره، د نورو په غوښتنه، د کوربه حيثيت لري او بس .

د يادولو وړ ده چې د دغه سفر په جريان کې افغان پلاوي د طالبانو په نماينده ګۍ له هيچا سره ليده کاته ونه کړل، دا ځکه چې دا سفر يوازې د دوارو هېوادونو تر منځ د دوه اړخيزو اړيکو د ټينګښت په هدف و او بل دا چې تر دې دمه په دوحه کې د طالبانو د تحريک له رهبرۍ څخه څوک وجود نه لري.

له سفر مخکې د کابل رسنيو د ځينو تش په نامه "کارشناسانو" داسې تحليلونه نشر کړل چې د سفر په اړه يې د غير واقعي انتظاراتو فضا رامنځ ته کړې وه .

ياد سفر د قطر د امير په دعوت تر سره شو چې پايله يې په بېلا بېلو برخو کې د دوارو هېوادونو د اړيکو ټينګښت او د سولې د بهير په اړه د قطر د موقف روښانول وو چې دواړه اهداف تر لاسه شول ....

خو بيا په خپله کرزي دالجزيرې تلويزوين سره په مرکه کې تر هغې وروسته چې دطالبانو دفتر يې نشوزغملای او اوس يې ګټو ته ژمن دی بالاخره داسې وويل :

کرزی: د دوحې دفتر له طالبانو سره د خبرو اسانتيا رامنځته کولی شي

حامد کرزي نن /چهارشنبه/ له الجزيرې تلويزيون سره په مرکه کې وويل: په دوحه کې طالبانو ته د دفتر جوړېدا له دې دلې سره د خبرو اسانتيا رامنځته کولی شي.

کرزي، چې ديکشنبې په ورځ په دوحه کې د قطر له امير سره د خليج د سيمې په دغه هيواد کې طالبانو ته د دفتر پر پرانستلو خبرې کړې وې، الجزيرې ته وويل، دی لېوال دی چې مخکې تر دې چې راتلونکی کال ناټو په افغانستان کې خپل پوځي عمليات پای ته ورسوي په افغانستان کې له سولې سره د مرستې لپاره له طالبانو سره کار وکړي.

د افغانستان ولسمشر همدارنګه وويل: « هيڅکله زموږ پلان دا نه وچې طالبان کاملاً له منځه يوسو. نه ما، نه افغانانو او نه د افغانستان حکومت داسې غوښتي. هغه شېبه چې زه د حکومت مشر اعلان شوم، ما ټولو طالبانو ته، له مشره رانيولې تر کشره پورې ، بشپړه عفوه اعلان کړه.»

کرزي د خپلو خبرو په دوام کې وويل: « پلان دا و چې دوی راولو او په افغاني ټولنه کې يې د نورو خلکو په شان جذب کړو.»

د افغانستان ولسمشر په دوحه کې د قطر له مشر سره د خپلو خبرو په اړه وويل، له شيخ حمد بن خليفه الثاني سره د ده خبرې پر دې متمرکزې وې چې د خليج د سيمې دا شتمن هيواد څرنګه د افغانستان د سولې په بهير کې مرسته کولی شي.

د افغانستان ولسمشر پخوا په قطر کې د طالبانو لپاره د دفتر له پرانستل کېدو سره مخالفت کړی و.

وسله وال طالبان وايي چې د کرزي له حکومت سره خبرې نه کوي خو حاضر دي چې له امريکايانو سره د افغانستان د راتلونکې په باب ورغږېږي.

ولسمشر کرزي الجزيرې تلويزيون ته په مرکه کې وويل، په دوحه کې طالبانو ته د دفتر پرانستنه کېدای شي له هغوی سره د مخامخ خبرو او تماسونو لار اواره کړي او په دې وسيله بنايي په افغانستان کې د سولې بهير پر مخ لاړ شي

نور پرېکړه تاسو کړئ چې کرزي څومره لاسته راوړنه درلوده او دقطر نه يې کومه تمه او اسره چې يې درلوده پوره کړای شوه !

کرزي بيچاره چې دخپلې ګډې وډې اداري په تنه اوبوده کې دواکمنو جنګ سالارانو تاديب اواصلاح نشي کولای اوتل دهغوئ له نيوکو سره لاس وګريبان وي، نو څنګه به داسې کوم غوڅ تصميم ونيسي چې ټول ولس او ومقاومت لوری پرې رضا کړای شي او دسولې نامنظم جريان ته وده ورکړي، بنه شول چې له قطر نه هم تش لاسونه راستون شواو دخپلو داخلي کمونستانواو ټوپکمارو له ګواوښونونه هم سالم پاتې نشوده چې ور ته ترهګر ويل دادی نن يې په زاريو جرګو ته راولې، خو اين خيال است ومحال است وجنون !!

بګرام

هلته چې د څلورنیم زره انسانانو په ژوند لوبې کیږي

حبیب مجاهد..........................

کله چې دبګرام قضیه یادوو هدف مو دهغو څلورنیم زره افغانانو برخلیک دی ، چې له کلونو راهیسې دکابل دشمال په ۲۰ کیلومترۍ کې دپروان ولایت مربوط دبګرام په سیمه کې په یوه لوی محبس کې را ایسار شوي دي ، خو ایساروونکي یې ددې په ځای چې ددغه بې ګناه انسانانو دژوند اوحقوقو په فکر کې شي ، ددوی دبرخلیک له مسئلې څخه یې دخپلې سیاسي تبلیغاتي لوبې قطعه جوړه کړې ، او په پوره ناترسۍ یې په تبلیغاتي میدان کې لوبوي.

له ډیرې مودې راهیسې په نړیوالو او کورنیو رسنیو کې دبګرام دزندان او زندانیانو په اړه خبرې ګرمې دي ، امریکا او دکرزي رژیم په دې چنې وهي ، چې دزندان واک باید د چا په لاس کې وي ، له اوږدو مصنوعي ناندریو وروسته امریکا دې ته حاضریږي چې دکرزي غوښتنه ومني او دیو شمیر زندانیانو دوسیې وروسپاري ، خو ددې ټولې لوبې یوازینی هدف دادی چې بادار (امریکا) خپل حلقه بګوش غلام (حامد کرزی) افغانانو او نړیوالو ته خپلواک معرفي کړي ، چې لږ ترلږه له امریکا سره دعوه راپورته کولی او خپل غوښتنه پرې منلی شي ، په عین حال کې تښتیدونکي امریکایان غواړي په دا ډول مصنوعي صحنه سازیو سره وښیي چې دانتقال او مسؤلیت سپارلو بهیر روان دی او دکرزي په شړیدونکي رژیم کې دا وس شته چې دبګرام غوندې دیوه مشهور زندان واک په لاس کې واخلي.

خو د بادار او غلام ددې منافقانه لوبې ترمنځ هغه څوک چې حقوق یې پایمالیږي ، هغه څلورنیم زره افغانان دي ، چې دبګرام په زندان کې له کلونو راهیسې پراته دي.

دبګرام زندان چې پخوا یې د مېن فلور او کسپین په نامه یوازې دوه بلاکونه درلودل او شپږنیم سوه بندیان په کې ساتل کیدل په دې وروستیو کې تر اټکل زیات پراخ شوی دی ، امریکایانو په وروستیو کلونو کې په دې زندان کې ۹ نوي بلاکونه جوړ کړي او دبندیانو شمیرې د ترلاسه شویو شمیرو له مخې څلورنیم زرو ته رسولی دی.

د بګرام دزندان په اړه دنړیوالو ادارو غوندې دکرزي رژیم هم دا مني چې مطلق اکثریت محبوسین یې بې ګناه او عام ولسي وګړي دي ، چې امریکایانو له جهادي مناطقو څخه دانتقام او تعذیب په موخه راوړي دي ، په دوی کې حتی تر ۱۲ کلنو پورې کم

عمره ماشومان او ۷۰ کلن سپین ږیري هم شته ، ډیر ځله داسې پیښ شوي چې امریکایانو دغلط راپور له مخې په یوه کور چاپه وهلې وي ، او دکور ټول نارینه یې دې زندان ته اچولي وي ، له همدې امله خو په دې بګرام کې ډیر داسې افغانان بندیان دي چې کورونه یې بې سرپرسته پاته دي.

د بګرام امریکایي زندان له دې امله دمنحصر بفرد زندانونو له جملې څخه دی ، چې محبوسین یې دمحاکمې ، وکیل نیولو ، له خپلوانو سره دمخامخ ملاقات او دخپل برخلیک په اړه دپوښتنې چانس نلري ، بندیان وایي دا زندان ځکه دګوانتانامو له زندان څخه بد دی چې هلته خو لږترلږه بندیانو ته دیوې نمایشي محاکمې چانس ورکول کیده ، خو په بګرام کې دمحاکمې او برخلیک ټاکل کیدو په نامه هیڅ هم نشته ، څو میاشتې وړاندې چې یوه کابل میشتې حقوقي څارونکي پلاوي ددې زندان له محبوسینو سره لیدل کتل کړي وو د ۲۷۰۰ بندیانو یوازینۍ غوښتنه دا وه چې دوی دې زرترزره محکمې ته وړاندې شي ، ترڅو یې برخلیک معلوم شي ، دغه راز دزندان مطلق اکثریت بندیانو پلاوي ته ویلي وو چې دوی لا هم نه پوهیږي چې ولې نیول شوي ، او جرم یې څه دی.

دافغانستان دکندهار ولایت یو سپین ږیری شپون چې ۲ کاله یې دبګرام په زندان کې تیر کړي ، هم دهغو کسانو له جملې څخه دی چې نه پوهیږي ولې امریکایانو نیولی وو ، نوموړی وایي دکندهار په یوه دښتي سیمه کې مې خپله رمه څروله ، سخت تږی شوم ، په دې وخت کې امریکایي ټانګونه په همدې دښته راغلل ، زه چې سخت تږی وم په دې خاطر ورغلم چې که لږ اوبه ترې ترلاسه کړم ، مګر هغوی زه ونیولم سترګې یې راپلستر کړې او دبګرام زندان ته یې واچولم ، په بګرام کې یې بیا بیا تحقیق راڅخه وکړ ، ما دخپل ژوند په اړه یوازې همدا معلومات ورکړل چې زه یو شپون یم ، او ټول عمر مې رمه پوولې ، دوی همدا خبرې لیکلې او پوښتنې یې هم ټول د شپنۍ او مېږو په اړه وي ، زما په دوسیه کې له همدې خبرو پرته بل هیڅ هم نه وو او نه یې بله پوښتنه راڅخه کړې ، مګر په دې سربیره یې هم شپږ کاله په بګرام زندان کې راباندې تېر کړل.

داسې نور په زرګونو افغانان شته چې امریکایانو په ناموجهه توګه نیولي وي او بیا یې کلونه کلونه بې له دې چې سبب یې معلوم شي دبګرام په زندان کې ساتلي وي.

دبګرام دزندانیانو بل عمده مشکل له خپلو خپلوانو سره دملاقات په اړه دی ، دبګرام بندیانو ته له خپلو پایوازانو سره دمخامخ ملاقات زمینه نه ده برابره ، دوی یوازې دانټرنیټي ویډیو له لارې کولای شي له خپلو خپلوانو سره لنډ ملاقات وکړي ، خو څرنګه چې په بګرام پوځي اډه کې دبندیانو ملاقاتیان سخت پلټل کیږي او په ډیره بې عزتۍ تلاشي کیږي ، دبندیانو زیاتره خپلوان په تیره ښځینه دې ته زړه نه ښه کوي چې دخپلو زنداني قریبانو ملاقات وکړي ، دغه راز مکررا داسې پیښ شوي چې دملاقات لپاره ورغلي کسان هم په ناموجهه توګه زندان ته اچول شوي ، چې همدې ویرې هم دبندیانو سره دخپلو کورنیو دملاقات مخه نیولې.

د بګرام په زندان کې دامریکایي ظلمونو ، تعذیبونو ، بې عدالتیو او وحشت په اړه په تفصیل سره که څه لیکو شاید دا مطلب خورا اوږد شي ، په دې زندان کې د تورجبل په نامه یو ځانګړی زندان شته چې تراوسه یې په اړه لا هم ډیر رازونه پټ پاته دي

، ويل کيږي چې په دې زندان کې له بنديانو سره سخت وحشت کيږي ، او په ډول ډول شکنجو تعذيبيږي.

دا چې څو ورځې وړاندې نړيوالو مطبوعاتو او دکرزي او امريکا حکومتونو په لوړه کچه دا خبره اعلام کړه چې ددې زندان مسؤليت دکرزي رژيم ته وسپارل شو ، دبګرام زندان څخه يو راخلاص شوی زنداني دغزني دناوې اوسيدونکی مولوي حضرت يوسف يې په اړه وايي چې دا خبرې ترډيره يوازې تبليغاتي او نمايشي رنګ لري ، ځکه دوی چې دامريکايي عسکرو او داخلي چارواکو ترمنځ مناسبات او تعامل له نږدې ليدلی ، دا ډول سپارنې او ظاهري مراسم هيڅ رښتينی مصداق هم نه شي درلودلی.

مولوي حضرت يوسف وايي امريکايي عسکر دکرزي له چارواکو سره خورا له حقارت څخه ډک چلند کوي ، او که په ظاهره کوم مسؤليت ور وسپاري هم هر وخت کولای شي ، خلع صلاحيت يې کړي.

مولوي حضرت يوسف دخپلې خبرې داستناد لپاره دکرزي او امريکايانو ترمنځ دمسؤليت دانتقال دپروسې دلومړني مسؤل اشرف غني احمدزي کيسه کوي چې څنګه ديوه عادي امريکايي عسکر په مقابل کې بې وسه وو.

نوموړی وايي دبګرام زندان ته اشرف غني احمدزی دکرزي دحکومت په نمايندګي راغلی وو ، موږ ته يې وويل چې ستاسو شکايتونه څه دي ، ويې ليکئ ترڅو يې زه راسره يوسم ، موږ ورته وويل تاسو به دومره واک نلرئ ، اشرف غني احمدزي په ډير غرور وويل چې زه له امريکايانو څخه دمسؤليت اخيستلو دپروسې مشر يم ، نور موږ خپلواک يو ، زه تاسو ته دحامد کرزي په استازيتوب راغلی يم ، تاسو خپل شکايتونه په يوه کاغذ وليکئ او ماته يې وسپارئ ، مولوي حضرت يوسف وايي موږ خپل شکايتونه وليکل ، خو کله مو چې اشرف غني احمدزي ته ورکړل په دې مهال په دې ځای کې ديوه امريکايي پيره دار عسکر ورته پام شو په اشرف غني احمدزي يې حمله وکړه په او په زور يې هغه کاغذ ترې واخيست او ويې څيره ، امريکايي عسکر اشرف غني ته وويل چې ته حق نلرې چې له دې ځايه کوم کاغذ وباسې ، ځکه دلته واک زموږ دی ، اشرف غني احمدزی چې زموږ ترمخ ډير ژوبل شوی وو ، امريکايي عسکر ته يې وويل چې دا زما وطن دی او زه حق لرم چې هرڅه وکړم مګر امريکايي عسکر ورته وويل چې وطن به ستا وي مګر اوس موږ په کې اړولي ، مولوي حضرت يوسف وايي دمسؤليت اخيستلو دپروسې په مشر اشرف غني احمدزي باندې بنديانو وخندل ، خو ده وويل زما حافظه ډيره قوي ده ستاسو شکايتونه زما ياد دي زه به يې ورسوم .

دې پيښې ته پام سره سړی پوهيږي چې دبګرام دزندان په سر ناندرۍ او دمسؤليت انتقال هسې يوه ظاهري تبليغاتي پروسه وه ، ددې په ځای هغه څه چې دبنديانو مسلم انساني حق او غوښتنه ده داده چې دکابل رژيم او امريکا دبنديانو په برخليک دلوبې کولو په ځای دهغوی خدای ورکړی حق (ازادي) ورکړي ، او دافغان اولس دا ځلورنيم زره ځوانان ، سپين ږيري او ماشومان پريږدي چې له خپلو کورنيو سره ازاد ژوند وکړي

دواليبال لوبه اودښځو حقوق !!

دروان کال د وري په 6 نيټه دامريکا دبهرنيوچاروو زير (جان کيري) افغانستان ته دخپل بزدلانه سفر په ترځ کې په نوروپټو اوښکاره کټنو او شيطانتونوسربيره دافغان ښځو دبشري حقوقو ددفاع! لپاره له يو شمير افغاني ميرمنو سره په امريکايي سفارت خانه کې دواليبال لوبه‌مترسره کړه !!

. امريکايانوچې ۱۳ کاله وړاندې دافغانستان په پاک حريم خپل ناولی قدم ايښوده نوترټولوبارز اوتودشعاريې داوه چې دوی به افغاني ميرمنې له اسارت څخه ژغوري ، پايمال بشري حقوق به يې ورته سپاري ، مترقي اوسوکاله ژوندبه‌و رته بښي ، امنيت به يې خوندي کوي اوپه‌خپلو متوبه‌يې متکي ګرځوي !!.

خوله يوې لسيزې څخه‌په دغه لويه موده کې وليدل شول اوليدل کيږي چې امريکايي اشغالګرو افغاني ميرمنو اوښځوته څه ورکړل اوڅه يې پرې ولورول ؟

په افغانستان کې دځان سوځونې مسلسلې اوپه سوونو پيښې که يې ارقام په دقيق ډول راټول اوياواوريدل شي دافغانستان په‌ټول تاريخ کې يې څوک ساری اوپرتله نشي وړاندې کولای ؛ خودامريکايي ديمکراسی تروزرولاندې په

تيرولسوکلونوکې دټول افغانستان په کچه نيږدې ۱۰ زرو ښځو دځان سوځونې هڅه کړې ، همداډول دجنسي تيريواوهغه هم په وسلوال دولتي يونوفورم کې دپيښوراپوررونه خوله شميروتلي دي ، داخبره چا دافغانستان په تاريخ کې نه و ه اوريدلې چې له وړوماشومانوسره دي تيري شوي وي خوامريکايي ملعوني ديمکراسی داشرم اوعارهم په افغاني لمن کيښود ، داهم‌نه وه اوريدل شوي چې افغانانو دې کوم پی‌رودونکي ماشوم دفقراوغربت له کبله خرڅلاوته وړاندې کړي وي . خوامريکاي ي غداري ديمکراسی په‌تيروپنځو کلونوکې يواځې په شمال اوجنوب غرب حوزه کې د۴زرو دغسې بوړنونکوپيښوته زمينه‌سازی کړيدي .

دروان اشغال په اوږدوکې به داسې شپه نه‌وي سهارشوي چې امريکاځناورانو اوګوډاګيانوبه دملکي خلکوپه کورنودچاپواوتالاشيو په دروان کې په لس‌ګونو نارينه‌ووسربيره زمونږ په درځنو عفيفي خويندې اوميندې هدف نه‌وي ګرځولي ، اودوسلوججوري‌دې پرې نه‌وي تشي کړي داخوپرځای پريږده چې په‌توره شپه‌کې به هغوی له‌څه ډول رواني کړاوو اوبيم سره مخ شوي اوڅومره کوکې اوفريادونه به‌ترې ختلي‌وي !!!

خو لاهم ! دامریکایي دیمکراسی زړه یخ
اوسوړندی اوس یې چې لښکرې دنابودی اوتیښتې په
حالت کې هم دي لکه دکمونیزم دګلم جمانو په څیر د(
اربکیانو) اوبې وجدانه لوچکانو ډلې اوډلګی
دافغانستان په هره سیمه اوقریه کې جوړې کړي
ترڅو پاتې افغاني عفت اوعصمت دهغوی په زریعه
لوټ اوتلان کړي.

دامریکایانو دښځونمایشي حقوق:

امریکایانو صرف دایوکارکړی چې په خپلو
انجیوګانو اوموسساتوکې یې یوشمیر جاذبې پیغلې
اوهغه افغاني میرمنې چې عمرونه یې له ۳۰ کلونو
کښته دي دکاراوماموریت په نامه نیولي اوپه
دندوګمارلي چې له شک پرته یې له هغوڅخه یې
هدف ناوړه اوناروااستفاده کول دی.

داسې کره راپورونه شته چې امریکایانو
دکاراودندوپه نوم نیږدي ۵۰۰افغاني میرمنې اوپیغلې
، دبګرام هوایي اډې ته جذب کړې اوپه اختیارکې لري
چې په ډیرمعذرت هغوی له امریکایي عسکروسره د
جنسي اړیکو له ساتلو اولرلوپرته نورهیڅ کوم
کاراومصروفیت نلري !؟

له بل لوري هغه افغان میرمنې چې دبشري
حقوقونړي یې له تیرو ۱۳کلونو راهیسې تودي ساتلي
اوپه پارلمان اوپانوروودولتي پوستونوکې نمایشي
دندې لري هغوی ته هم امریکایان اوغربي حلقې
هڅونې اوډالرورکوي چې اوازونه اوچت کړي
دښځودحقوقو په پلمه شعارونه پورته کړي
اوافغانانوته وښیي چې دکابل په امریکایي رژیم کې
دښځولپاره دومره ازادي شته چې په خلاص مټ
اورساڼغ دښځواومیرمنو حقوق غواړي اوهم په کابل
چارواکو اونړیوالې ټولنې صریح اعتراضونه کولای
شي.

که داسې نه وي نو دکابل دغه دولتي مبلغینې
اودانجیوګانوراشن خورې چې دامریکادبهرنیو چارو
له وزیر سره دفوټبال لوبه سرته رسوي اوپه ضمن کې
دافغاني میرمنو دحقوقو دمطالبې تکې هم ورته زمزمه
دوی دهغوښځو په حقوقو ولې ړندې اوکڼې دي چې
هره ورځ یې امریکایي عسکر اواربکی ملیشې
دافغانستان په لروپرتوسیمو اوولایاتوکې په ډیرکبر
اوجبر ترپښو لاندې کوي ، په ډله ییزډول قتلوي ،
ویروي یې په کورونو یې وراوري ، په سپیویې داړي ،
تالاشې کوي یې ، ترې یې ، بکسونه اودکورسامان
الات یې ورته سوځوي اوزیورات یې ترینه لوټوي !!

ایاڼندپه لنده داڅوورځې وړاندې دلوګر دبرکي
برک دسجاوندپه سیمه کې امریکایي عسکرو
اودهغوی غلامانو دنوروملکي وګروپه کتارکې ۱۰
میرمنې اوکوچني ماشومان له تیغه تیرنکړل؟چایې
غږ واورید اوامریکایي ډوله مطبوعاتوخو داجرم هم
وکړ چې دغه ۱۰ تنه ښځې اوماشومان یې هم رومبی
ددوی په ژبه د وسلوالو (طالبانو) په کتارکې یادکړل
اولدې یې هم انکارکاوه چې هلته دې اشغالګرو ښځې
اوماشومان وژلي وي !

جان کیري څه فکرکوي چې افغانان به له
یوڅوفحاشو افغان نمانښځوسره دفوټبال په لوبه
دامریکایي وحشي لښکروپه باب افغان ذهنیت
خاموش اوپه هغوفجایعوچې په خاص ډول یې
دافغاني میرمنوپه حق سرته رسولی پرده واچوي
اوهیربه یې کړي ؟

دامریکادبهرنیوچاروزیردې دهغې یوې
پروژې اوپلان نوم واخلي چې دوي یې داشغال په دروان
کې دبنسټ ډبره ایښې وي اودافغاني
میرمنودژونددبهبود ، ترقی اودفقر
اومحتاجګیودمخنیوي په برخه کې مهم رول لوبولي
وي ؟

ایاکوم مجهز روغتون جوړکړی ، دکونډو اومحتاجو میرمنولپاره یې دمرستې کوم مرکز تاسیس کړی اوددې ترڅنګ یې هغه جنګسالاران چې له ښځوسره اجباري ودونه کوي اوډول ډول زورزیاتي یې په حق کې سرته رسوي دهغوی په وړاندې یې کوم ګام پورته کړی ؟

جان کیری ، دعراق دمیرمنو اوښځوپه هکله چې داشغال په مهال یې هلته کوم جنایتونه ترسره کړي څه ځواب وایي اودهغې سروې په اړه چې دیوه بشري سازمان 'ریلیف اینترنشنال' له لورې تیرکال ترسره شوې چې وایي دامریکایي یرغل له امله دعراق ۵۹ فیصده میرمنې کونډې شوي او دسرسیوري بې امریکایي جګړې اوتجاوز ځوړلي څه جواب لري ؟

په همدې ترڅ کې نوموړی سازمان وایي چې امریکایي اشغالګرو په زرګونه عراقي میرمنې اوپیغلې بې پته کړي او داسې باندونه یې هلته جوړاوپړی ایښي چې له ۲۰۰۳ کال څخه تردې دمه یې څه باندې یونیم لک عراقي پیغلې دبدلمنیو لپاره غرب اونورهیوادونو ته قاچاق او تښتولي دي.

جان کیري دې اول دابوغریب په زندان کې دسوونو شکنجه شوو عراقي میرمنو جنایتونو اوفجایعوته ځواب پیداکړی بیادې دښځو دحقوقو په اړه خبري اوقضاوت وکړي.

یواځې عراق اوافغانستان ندي چې هلته امریکایي وحشیانو دښځو اومیرمنو په حق کې ظلم وحشت اوفحشاسرته رسولي ، بلکې هرهیوادته چې امریکایان داخل شوي اوفوځي مداخله یې کړي همدغه جرمونه یې سرته رسولي.

دهیفاء زنګنه، په نامه یوعراقي لیکوال په خپل یوه تحلیل کې وایي: تجربو ښوولې چې امریکایان هرهیوادته تللي اوپوځي اډې یې جوړې کړي هلته یې پرته له وژنو ، فساداوفسق اودمخدره توکو دتجارت له عامولو علاوه بل څه ندي تحفه کړي !

دګارډین انګلیسي ورځپاڼې په دې وروستیوکې دامریکایی سناتور "لینزی ګراهم" له قوله ویلي چې هرکال په توربازارکې ۲۰۰تنه عراقي قاچاق شوي ماشومان د ۲۸۲ اود ۵۷۲۰ ډالرو ترمنځ خرڅیږي !

له ښځو اوماشومانو سره دجرم اوجنایت اودښمنۍ پورته خبرې هسې مشت نمونه خروارمعنا لري ، که تنها زمونږ په هیوادکې دښځو په حق کې امریکایي مظالم راجمع اوپه دقیق ډول راټول شي یې شمیره اولوی لوی کتابونه پرې لیکل کیدای اوبرابریدای شي.

خولدغو ټولوتیریو سره سره نړیوال بشري سازمانونه دامریکایي عسکرو په فجایعو اودښځو اوماشومانو په وړاندې دزورزیاتیو په هکله خولې پټې نیولي او هرکال په ډیرصراحت اوسپین سترګی دموراوماشوم اوهم دښځې ورځ لمانځي !

اواوس خو جان کیري دخلکو دتیرایستلو لپاره په کابل کې له افغاني میرمنو سره لس دقیقې دوالیبال لوبه هم پرمخ بوتله چې وښیي دافغان میرمنو نورټول حقوق اوارتیاوې امریکایانو پوره کړي صرف دوالیبال لوبه پاتې ده چې هغه هم جان کیري پوره اوسرته ورسوله

خوویښ اوریښتینی افغان ضمیر پوهیږي چې دوالیبال دغه نیرنګ دافغاني پت اوحرمت په وړاندې دامریکاله یوې بلې ګستاخی او په زخمونوله نمک پاشي څخه پرته بله معنا اوتعبیرنلري !

د ګوانتانامو جهنم کې د تاریخ تر ټولو اوږد اعتصاب!

او د بشري حقوقو د علمبردارو ازموینه!!

بشیر

د افغانستان اسلامي امارت ته د ځینو باعتماده او ثقه معلوماتي سرچینو د لارې انکشاف شوی چې د خلوېښت ورځو راهیسې د ګوانتانامو په جهنم(زندان)کې مظلومو او دېرو بې وسه مسلمانو بندیانو د نه خوړو په اعتصاب لاس پورې کړی کوم چې تراوسه دوام لري...او د امریکا ظالم چارواکې د هغوئ خوړانو د حقه غوښتنو له منلو انکار کوي.. ښکاره ده چې د دغه توراو وحشي زندان د ننه امریکایان پرلپسې اخلاقي ارزښتونه او انساني کرامت تر پښو لاندې کوي ،هلته د بندیانو سره د تېرو یوولس کلو په اوږدو کې د ټولو نړیوالو معیارونو او بشري قوانینو شوي سرغړونې ، ظالمانه رویه او ناوړه چال چلند له هېچا پټ ندی،او دوامدار بندیانو ته د جسماني شکنجو ،وهلو ټکولو او تعذیبونو سربیره د روحاني، اخلاقي او ذهني اذیتونو رسول هم نه دربغوي ،په ډېره ناخوانمردی، اسلامي مقدسات توهینوي.. او د عظیم الشان قرآن د سپېڅلو نسخو د سپکاوي او بیحرمتۍ جسارتونه بیا بیا کوي... هم دا لامل شوی چې د امریکایانو د دې ناوړه کړو وړو پر ضد هلته مظلومو بندیانو د تېرو خلوېښت ورځو راهیسې د نه خوړو په اعتصاب لاس پورې کړی دی...او غوښتنه کوي چې د ګوانتانامو زندان مسؤلین دې له دوئ سره خپل موجوده ظالمانه روش پای ته ورسوي.. د معلوماتو له مخې امریکایانو د هغوئ غوښتنې له پامه غورځولي... او په اړه یې غوږونه کاڼه کړي... اسلامي امارت په ملګرو ملتونو ، د بشرحقوقو په ساتندویه ټولنو او خبري رسنیو غږ کړی چې د دغه خوراګورېنوونکي ستونزې حلولو لپاره دې مسؤلانه ګامونه پورته کړي او د امریکایانو لخوا په روانو ظلمونو او ناانصافیو دې سترګې پټول پای ته ورسوي.

دډېر افسوس وړ ده چې د خلوېښت ورځو پرلپسې اوږده اعتصاب وروسته بیاهم ډېرزړي او وحشي امریکایي مسؤلان تیارندي چې د ګوانتانامو د مظلومانو بندیانو حقه غوښتنې او مني... او هنوز لا په هغوئ د ظلم او ستم درانه، درانه غرونه نړوي د کومو په اړه چې تردې مهاله د ملګرو ملتونو د

نړیوالې ټولنې په ګډون دبشر حقوقو علمبر دارانو ، اسلامي کانفرانس او خبري رسنیو لخوا چوپتیا نیول ددغو ادارو رول اوکردارترپوښتنې لاندې راولي چې ورته په کتودنړۍ مسلمانان له دې پلوه حق په جانب دي چې هغوئ دملګرو ملتونو اودبشرحقوقو دسازمانونو کړه وړه بیطرفه اوپه انصاف ولاړ نه بولي.

دکیوبا په ګوانتانامو کې دوحشتونو دغه تورپنډ غالی دومره بوږنوونکی اوتریخ داستان لري، چې هلته امریکائي وحشتګر انساني کرامت او بشري اقدارو ته احترام نلري....

د نولسمې پیړۍ په پیل کې چې کله امریکایانو کیوبا اشغال کړه ، پر ضد یې هلته پراخ پاڅونونه پیل شول ، د افغانستان پشان هلته هم هره ورځ پر امریکائي یرغلګرو دبریدونو او حملو لړۍ توده روانه‌وه ، تردې پورې چې په ۱۹۰۰ زکال کې کیوبایانوپه لوی شمېر امریکایان ووژل ، کله‌چې دامریکا فلوریډا ایالت‌ته ددغو وژل شویو امریکایانو له مړو ډک تابوتونه ویوړل شول ،هلته یې له امله په ټوله امریکا کې خلک پورته شول د....کیوبا ژر خالي کړئ... ! ناره پورته شوه... هغه‌و چې امریکایان د کیوبا پرېښودوته اړشول... لیکن په تلو تلو کې امریکایانو دکیوبا پر سیاسي چارو کې دلاسوهنې یو اعظمي چانس ترلاسه کړ دهمدې چانس په ځواک د اوږدې مودې لپاره دکیوبا دځمکې یوه برخه دځان لپاره اجاره کړه ...هلته یې خپله سمندري هډه جوړه کړه... امریکا دخپلو پوځونو ویستو پر مهال دسیاسي لاسوهنې پر ځواک د ۱۹۰۲ز دمئ په ۲۰ مه‌نیټه یو پخوانی پوځي جنرال "توماس ایسترا ډا مالما " دکیوبا لپاره ولسمشرغوره کړ ، په ۱۹۰۳ زکې یې له ولسمشر "مالما "سره دګوانتانامو B جزیرې په اړه یوتړون لاسلیک کړ...په دې هلته له وړاندې جوړه مؤقته سمندري هډه یې خپله دائمي پوځي هډه وګرځوله... په ۱۹۰۴ زکې دفروري په ۵مه نیټه دامریکایانو دوروستۍ ډلې په وتو په "هوانا "کې دامریکا بیرغ را ښکته شو اودپارلمان د ودانۍ له بره هم دکیوبا بیرغ زوړند شو.

دګوانتانامو جزیره ۴۵ میله مربع خورابنائسته اوشنه ځمکه‌ده ، چې له امریکا څخه فقط د ۷۰ـ ۸۰ میله په مسافت واقع ده... امریکا دغه‌ټوله جزیره د۲زره طلائې سکو یعني ۴زره ۸۵ ډالرو په بیه ترلاسه کړې ، امریکا هر کال کیوباته له همدې درکه ۵زره ۸۵ ډالر ورکوي او دا له امریکا څخه دباندې دامریکا ترټولو پخوانۍ سمندري هم هډه ده...

په دې جزیره کې امریکاپه ۴٪۱۷ میله‌ځمکه یو پنډغالی جوړ کړی ، دهغه شاوخوا یې وسپنیز اغزن تار تاو کړی ، دادنړۍ ترټولو بد اووحشتناک پنډغالی دی ... چې پکې امریکایان په ښکاره دخپلو قوانینو ترڅنګ نړیوال قوانین ، اخلاقي اقدار اوټولنیز معیارونه پایمالوي ، دبشري حقوقو یوه کارپوه ددغه پنډ غالي په اړه رښتیا ویلي:ګوانتانامو جزیرې ته چې هر سړی

ورځي هغه به هر مرو داسې انګېږي "چې دلته دنړۍ ټول قوانین ، اصول او اخلاقیات لغوه شوي ... " او دا به محسوسوي "چې پر دي ۱۷٪۴ میل زمکه بشریت لس زره کاله پر شا تګ کړی دی ... " دا پنډغالی دنړۍ ترټولو بوږنوونکی اوډارونکی زندان دی ... پکې دځه باندې ځلوښتو هیوادو نیږدې ۷ سوه وګړي دنویو سائنسي تعذیبونوښکار دي ..

په ګوانتانامو کې امریکایان هر بندي له لاسو اوپښو تړي ... خوله ورته په "ربړتیپ" بندوي .. دسر اوږیږي ویښتان یې لنډوي ... ، د ستر ګو له بره ورته توري ښیښې لګوي ... پوزو ته یې ماسک اچوي ... په غوږو کې یې داسې الات ږدي چې داوریدلو حس زیانمنوي .. لاسوته یې پېړۍ اودرنې دستکښې اغوندي ... دا دتشدد اوتعذیب ترټولو نوی ډول دی .. چې له یو ه مظلوم بندي پنځه ګونې حسونه داسې بیګانه کړي ... چې هغه نه څه وینې ... نه څه اوري ... نه څه بویوي ... نه څه ویلای شي ... اونه د څه شي په لمسولو پوهیږي .. له دې وروسته هغه بندي په یوه کو چنې ، قفس اوپنجره کې سوک پوک کېنوي ... هغه تر اوونیو اوونیو په همدې حالت پاته وي ....

ګوانتانامو کې ټول مظلوم بندیان په داسې پنجرو کې اوسي چې ایله دوه متره اوږدوالی لري .. په هغو کې دقضا حاجت اسانتیا نشته .. هغوئ دباندې هیڅ غږ نه اووري ... اته ، اته میاشتې پس ایله اسمان اولمر ویني .. دزیاترو قیدیانو ذهني توازن ګډوډ شوی دی ... اوهر بندي په سلونو ځله دتحقیق له سختو مراحلو تیر شوی دی ، خوبیا تراوسه یې نه جرم تثبیت شوی او نه یې تحقیق ته دبیولو لړۍ پای ته رسېدلې ...

د۲۰۲ز کال په پیل کې دبشري حقوقو څوتنو غړو هلته دمیشتو بندیانو د راخلاصولو لپاره دامریکا محاکمو ته رجوع وکړه ، خو یوې امریکائي محکمې هغوئ په دې دلیل ځواب کړل :چې دګوانتانامو بندیان دامریکا په خاوره کې نشته ... له دې وجې پر هغوئ دامریکا قوانین نه پلي کېږي ....

هو ! داسلامي هیوادونو په پرتله دعیسوي هیوادونو څوتنه استازي ګوانتانامو ته لاړل ، هغوئ هلته له خپلو بندیانو سره ولیدل ، دهغوئ شکایتونه یې و اوریدل ... په امریکایانو دفشارراوړو په وجه ئې هغوئ د خپلو قیدیانولپاره ځیني اسانتیاوې برابرې کړې ... لکه هغه بریتانوی چې دلته افغانستان کې نیول شوی و ، کله چې هغه ګوانتانامو ته ویوړل شو اوبریتانوي رسنیو دهغه په اړه خبرونه خپاره کړل ، دبریتاني خلکو پخپل دولت دومره زیات فشار واچاو چې آن ټوني بلیر یې دیته اړیست ، چې هغه مخامخ دهغه لپاره دبوش سره اړیکه ونیوه ... بلیرامریکا اړ کړه چې بریتانوي تبع بندي امریکا کې یوې محکمې ته وراندې کړي .. خو ددې برعکس په ټوله اسلامي نړۍ کې داسې هیواد نشته چې هغه دې هم دخپلو وګړو په باب له امریکا سره خبرې کړي وي اویادې دهغوئ لپاره کومه اسانتیا برابره کړې وي ..

کله چې امریکا په عراق یرغل وکړ ، اوهلته دجنګ په دوران کې دصدام حسین دولت پنځه بندي امریکایان په تلویزون وښودل ... سملاسي پنځه دقیقې وروسته رمز فیلډ په واشنګټن کې خبري وینا ته وویل: چې دصدام حسین دغه کار دجنیوا کنوانسیون څخه سرغړونه ده ... خو له هغه (رمز فیلډ) نه چې صدام یې ګرم ګانه او د سرغړوني تور یې پرې لګاو ... خپله ګوانتانامو اوهلته شته بندیان هیر وه ...

دجنیوا کنوانسیون ۱۳ ماده وایي: دملګرو ملتونو هیڅ غړی هیواد به دقیدیانو عکسونه نه

خپروي... خو امریکا نه یوا ځي دګوانتانامو بندیانو عکسونه نشر کړل.. بلکې په ځلونو یې په تلویزون له هغوئ څخه جوړ فلمونه هم وښودل...

دجنیوا کنوانسیون د ۱۸مې مادي له مخي دبندیانو لاسونه په زنځیرونو تړل ، په پښو کې ورته زولني او غاړو کې غرابونه اچول منع دي ، خو په ګوانتانامو کې امریکا نه تنها دبندیانو دلاسونو او پښو تړلو جنایتونه کړي بلکې دهغوئ غوږونه ، سترګې ، پوزې خولې او مخونه یې هم په تورو درنو کڅوړو پټ کړي ...

دجنیوا کنوانسیون د ۲۲مې مادي سره سم ټول هیوادونه به دبندیانو دخوړو لپاره جلا خونې ځانګړې کوي ،د۲۸مې مادي په حکم: بندیان به دوکان (کینټین)ته لاس رسی لري... ۳۴مه ماده وایي:دعبادت کولو لپاره به بندیان ځانګړې عبادت ځایونه لري.... د ۳۸ مې مادي له مخي د ورزش او تفریح کولو فرصت به لري... ، د۴۱ مې مادې له مخي بندیان به دجنیوا کنوانسیون دمادو او پرېکړه لیکونو لوستو ته لاس رسی لري... د ۷۱ مادي له مخي د لیکلو اولوست له اسانتیاوو به برخمن وي... د۷۲ مې مادي له مخي:خپل پوستي ډاک او کتابونه به ترلاسه کولی شي.... په ګوانتانامو کې اوس مهال چې څومره بندیان شتون لري هغوئ ټول دجنیوا کنوانسیون په اعلامیه کې دپورته یادو اسانتیاوو او دحقوق بشر سازمانو لخوا داعلان شویو ټولو حقوقو څخه په محرومیت کې ساتل کېږي... تردي پوري چې دلیدلو ، بویولو ، اوریدو ، او دحسولو په څېر له طبعي او فطري حقوقو هم بې برخي کړل شوي ...دنړۍ بشرپال تنظیمونه او د حقوقو علمبرداران یې داشته ټولې ناخوالې او نادودي دیوولس کلو راهیسې په رڼو سترګو وینې ! خو ورباندې چوپ دي... هلته له مسلمانانو سره دکیدونکې ظالمانه سلوک دمحکومولو ،غندلو او مخنیوي لپاره غږ نه پورته کوي ..چې دا په ښکاره ددغو سازمانو دمنافقت لویه بېلګه ده ؟

امریکا په تیرو یوولس کلو کې وښوده چې د ځواک پرته بل هیڅ قانون ، ضابطې ، او اخلاقو ته درناوی نلري...هغه دروا اوناروا ترمنځ امتیاز د ځواک تابع بولي....؟صدام حسین ته دپنځو بندیانو د عکسونو په ښودو مجرم وویل شول... د اسلامي امارت لخوا دیوه امریکائي ویډیو خپرول دجنیوا کنوانسیون له پریکړو څخه سرغړونه تعبیر شوه... خو امریکا چې د ګوانتانامو بې پند غالي کې د ۷سوه زیات بندیان د جسماني تعذیب سربیره په روحاني ، اورواني اذیتونو له ذهني او عقلي توازن محروم کړي ... ایا دا دجنیوا کنوانسیون سرغړونه نده... که د اعین انصاف او دبشري حقوقو دفاع ده ...؟که داسې وي نو لعنت دې وي ! په دې مساوات... ابشرپالنه.. او انصاف !

دعاطفې جهانه ! ولې دې ضمیر مړ دی
انسانیته ! ستا تعریف او ستا تعبیر مړ دی
(ناګار)

په کاپیسا کې دروان جهادي بهیر لیدنه اوارزونه

لیک سید محمد یاسین آغا او ملا محمد نسیم آخند

کاپیسا هم لکه د هېواد دنورو ولایتونو په څېر بنه لرغونی تاریخ لري او دهېواد په خوراهمو او تاریخي سیمو کې راځي، د خپل جغرافیوي موقعیت اوستراتیژک اهمیت له مخې ځانګړی ارزښت لري پکې میشت قومونه او خلک یې د نور وهېوادوالو په څېر خدای پال اودوطن پر ازادۍ مین دي چې هروخت یې دهېواد له ازادۍ او خپلواکۍ نه په بنه میړانه ننګه اودفاع کړې.

هرغلیم اوبرغلګر چې هم زمونږ د خاورې پر پاک حریم یرغل راوړی له نوروباتوروافغاني پر ګنو او قومونو سره څنګ په څنګ یې دنیواکګرو ککرۍ دهغوئ په وینو کې رغړولي ،د انګریز له یرغله د سره کمون اودروان صلیبي یرغل پورې له هریوه سره په نره جنګیدلي اوتیري کوونکي یې تیټ سرونه بیر ته تیښتي ته اړ کړي.

دامریکا په مشرۍ د روان صلیبي یرغل په وړاندې د کاپیسا دخلکو بې سارې قربانیانې اوپه دغه ولایت کې دمجاهدینو لازوال بریاوې اولاسته راوړنې د راتلونکي څلاند افغان تاریخ روښانه باب جوړوي .چې ورته په کتو دافغانستان اسلامي امارت ددغه ولایت په مجاهدینو اودهغوئ په کارنامو ویاړي.

څنګ چې هر کال د افغانستان اسلامي امارت د مشرتابه په حکم د هېواد په ټولوولایتونو او ولسوالیو کې د روان جهادي بهیر د کلکې څارنې او مراقبت تر څنګ دعام ولس د مشکلاتو کموالو او ستونزو دحلولوپاره ولایتونو او ولسوالیو ته باصلاحیته هیئتونه لیږل کېږي. څو دهرلایت اوهرې ولسوالۍ مسؤلین خپلو اړوندودندو اومکلفیتونو ته په بنه توګه متوجه کړي اوبل په هر ولایت کې د اسلامي امارت د حاکمیت او د مجاهدینو دموجودیت جاجونې په باب دمطالعاتي سروېګانو اود معلوماتو راټولولو له لارې داسلامي امارت مسؤلو مقاماتو ته یوجامع معلوماتي راپور وړاندې کړې اوبیا هغه ته په کتو اسلامي امارت خپل اجتماعي، سیاسي اوپوځې پلانونه تنظیم اوجوړ کړي .چې دې لړ کې کاپیسا ته ولایت د اسلامي امارت نظامي کمیسیون په استازېتوب لیږل شوي دوه کسیز هیئت مونږ ته دخپلو ستر ګولیدلی حال په لاندې دول لیکلی؛ اداره

د ۱۴۳۳ ه ق کال د ذیقعدة الحرام میاشتې په ۱۴ مه نیټه څلور بجې د کاپیسا ولایت تګاب ولسوالۍ عمرخیلو کلي په رسیدو،مونږ ته دلوې لارې (سر ک) په سر ددغه ولایت دنظامي کمیسیون غړي قاري حجت الله. او تګاب ولسوالۍ مر ستیال له څو تنو وسلوالو مجاهدینو سره هر کلی ووایه، داددې څر ګندویه وچې لله الحمد دغه عمومي لار د مجاهدینو تربشپړ نفوذ اوکنترول لاندې ده...

له دې ځایه داحمدزیو صاحب زادګانو کلي کې د قاري حجت الله کور ته لاړو، چېر ته چې هغه یو ښه ښائسته مسجد هم جوړ کړی ، له کوم نه چې دخلکود حقوقي موضوعاتو حلولو لپاره دمجاهدینو لخوا دمرکز په حیث هم ترې کار اخستل کېږي.

شپې ته د کاپیسا ولایت لپاره د اسلامي امارت دوالي قاري احسان الله (بریال) په کور کې مومجلس جوړ کړو چې پکې د کاپیسا ولایت د ګڼو جهادي مشرانواو مسؤلینو په ګډون سربیره دسېمي یو شمیر مخورو سپین ګیرو هم ګډون وو. د کاپیسا ولایت پورې اړوند ولسوالیو او مرکز مجاهدینو د عملیاتو په اړه د راپورونو اوریدو سربیره ددغه ولایت ملکې او نظامي وضعیت مومطالعه کړ ، دخلکو نظرونه ، غوښتنې اودهغوئ پیشنهادونه مو واوریدل، اود سبانیو کارونو په اړه مو پلان ونیو، له نیکمرغه چې ټولو مجاهدینو او سپین ګیرو مونږ ته د هر قسم مرستو ډاډ راکړ، په سبا ورځ مو بله ناسته د کاپیسا ولایت له مرسیتال مولوی مصطفی او د تګاب ولسوالۍ د ولسوال قاري صدیق اویو شمیر نورو مجاهدینو سره وه ، هغوئ هم له مونږسره د هر ډول مرستو ، کومک او همکاری ژمنه وکړه ، هم یې راته د کاپیسا ولایت د ټولومسؤلینو لست راکړ.

لدې وروسته په همدې ورځ په لومړي ګام کې شاوخوا ۹ بجې دعمر خیلو سېمي دانا رو په یوه باغ کې د لسو دلګۍ مشرانو ،دولایت د معاون اود ارشاد و دعوت د رئیس په ګډون غونډه جوړه کړه ،د غونډې پیل کې دعظیم الشان قرآن څو ایاتونه تلاوت شول ،ورپسې دعا وشوه ، بیا د اسلامي امارت دمشر تابه لخوا مونږ ته د مجاهدینو او مسؤلینو په نامه راکړل پیغامونه او ځانګړې توصیې هغوئ ته ورسولې، چې په اوریدو ئې دمجاهدینو په مخونو کې د ډاډ اوخوشحالي نښې وځلېدې، د اسلامي امارت دجهادی لایحې د تطبیق په اړه مو ور ته د مشرانو لارښوونې او مشوري ورسولې، هغوئ هیڅ ډول شکایت نه درلود، پخپلو جهادي چارو باندې پوره ډاډ من او خوشحال بریښیدل ،بیا د سېمي له څو تنو سپین ګیرو سره مو هم ولیدل ،له هغوئ نه مود خلکو سره دمجاهدینو د روې په اړه پوښتنې اوګروېږنې وکړې ، په دې زیات خوښ شو لوچې هغوئ له مجاهدینو اود هغوئ دښو اخلاقو او اسلامي روی خوشال بریښیدل.

بیا په پدر نوم منطقه کې له ملکرو سره مجلس وکړ ، چې پکې د ۱۵ پنځلس دلګۍ مشرانو ،علماوو او نورو مجاهدینو ګډون کړی وو ،دشهیدانو ارواحو ته د دعا لپاره مو دقران کریم څو ایاتونه تلاوت کړل او دعامو وکړه ، وروسته بیا د اسلامي امارت دمشر تابه پیغامونه او توصیې مو ولوستې چې په اوریدو یې هغوئ زمونږ له خبرو منته وکړه ،هغوئ هیڅ نوعه شکایت نه درلود، او له خپلو مسؤلینو خوشحال وه، پدې مجلس کې دا خبره هم یاده شوه که هر څوک له مونږ سره کومه خاصه موضوع په پټه شریکول غواړي ، نوشریکولی یې شي ، مونږ هغوئ ته ووېل چې مونږ ددې لپاره راغلي یو څو ستاسي خبري واورو او بیایې تر مشرانو ورسوو، خو هیڅیا دپټو ویلو لپاره څه نه درلودل او له خپلو کارونو مطمئن وو، البته دمنفجراتو په هکله هغوئ داسې طریقه جوړه کړې وه چې ماشومانو یې هلته جوړول، او بیایې د ضرورت په وخت کې د کاپیسا ولایت ټولو مجاهدینو ته چې هغوئ هر چیري غوښتل وررسول.

دغونډې وروسته په بشپړه توګه په مفتوحه سیمه بدراب کې زمونږ مجلس جوړ شو چې پکې د (۱۵) پنځلسو دلګۍ مشرانو په شمول ګڼ شمیر مجاهدینو هم ګډون کړی وو ، دلته مو هم د شهیدانو دپاره دقرآن کریم تلاوت ، او دعا وکړه ، دلته داسې دلګۍ مشران هم وو چې دچاپو ورور شهید شوی و په ځا ی یې بل ورور جهاد کاوه، ټول ملګري ښه متوجه وو، اخلاص، او محبت پکې له ورایه ښکاریده، حتی چې پوښتنه مو وکړه ایا تاسې هره کومه غوښتنه او شکایت لرئ؟ ټولو وویل هیڅ نوعه شکایت نلرو.

دبدراب وروسته بل ملجس د یتیمانو په کلي کې دائر کړو هلته ددغه محاذ مسؤل مولوي عبدالعزیز سره د (۱۴) دلګۍ مشرانو ، موجود و، دلته هم د شهیدانو لپاره د قرآن عظیم الشان تلاوت، او دعا وکړه ، د مشرانو پیغامونه او توصیې مو ور ته ولوستې ،مجاهدین ښه مطمئن و ه ،خو داچې اول خط و، ددښمن سره همیش لاس په لاس

جنګونو سره مخ وه ، نو ځکه یې دمهماتو غوښتنه درلوده، او لا داچې ویلې چې د تګاب سیمه بشپړه ازاده سیمه ده او د اسلامي امارت ملګري چې په کومو ځایونو کې د دښمن لخوا په تنګ وي کولی شي هغوئ دلته راشي مونږ به یې خدمت وکړو او واقعا دغه ساحه جنګې او نظامي ښکاره کیدله ،خو دمجاهدین ،مسؤلین او علماء له ښه قوي مورال څخه برخمن ښکاریدل.

له عامو خلکو ، سپین ګیرو ، او علماوو سره مجلسونه :

۱-دې لړ کې لومړی مجلس په بدراب کې دمیاګل جان آغا صاحب جامع جماعت کې جوړ کړو کوم چې هلته په لوی مسجد یادیږي د اصلاحي شورا سره مو هم مجلس وشو ، دوئ خپل کاري اسناد اوفیصلي رااوښودلي چې تقریبا ۲۵۳ قضایا چې پکې دقتل موضوع ګانې هم فیصله شوي وي ، ددغې شورې غړي ښه تجربه کار او جید علماء وه له مجاهدینو سره یې پوره همکاري کوله او دې شورا واقعاًهم د قوم د عرائضو دحل په لړ کې شرعي او اصلاحي اجرات ترسره کړي وو او مجاهدین یې له حقوقي موضوګانو وزګار کړي وو

۲-دویم مجلس مو نوروز خیلو ساحه کې له سپین ږیرو او قومي مشرانو سره وکړ ، هغوئ هم د اسلامي امارت مجاهدینو اودخلکو د مشکلاتو حل ولو په خاطر یوه اصلاحي شورا جوړه کړي وه، د شورا دغړو تعداد(۱۲) تنه دیني عالمان وه ، او دخلکو دحقوقي موضوع ګانو په حلولو کې یې ښه رول درلود.

۳ – دریم مجلس مو دیتیمانو کلي له سپین ږیرو او قومي مشرانو سره وشو. ددې شورا مشري دیوه سپین ږیري عالم مولوی صاحب عبدالعزیز په غاړه وه، او نورغړي یې هم ښه جید اوو تجربه لرونکي دیني عالمان وه هغوئ مونږ ته وویل چې مونږ هیڅ مشکل نلرو بلکې مونږ پدې ویاړو که زمونږ سپین ږیرو په وس کې مسلحانه جهاد نشته دې نورو خدمتونو ته مو غاړه ایښې ده او اصلاحي کمیټه موجوړه کړې ده له مجاهدینو سره همکاري لرو او د خلکو مشکلات مونږ په خپله حل و فصل کوو، څو مجاهدین یوازي دښمن سره جنګ ته اوزګار وي.

دمحبسونو کتنه :

دبدراب سیمه کې مجاهدینو دیوه محبس یادونه هم وکړه ، مونږ دهغه د لیدو پاره ورغلو دا یوه زړه کلاوه ،دروازي مخ ته یې مسلح پهره داران ولاړ وو، کله چې مونږ وورننوتو د کلا کوټې خرابې وي خود ترمیم یې روان و،مجاهدینو دهغه دودانولو لپاره دمصارفو غوښتنه هم درلوده همدارنګه دوه محبسونه نور هم موجود و چې هغه مونږ له نزدې څخه ونشوای لیدلای.

تګاب ولسوالۍ کې دنظامي کمیسیون له غړو سره مجلس

۱ – حاجي عبدالرازق د کمیسیون مسؤل ، قاري حجت الله او مولوی عبدالعزیز ، او مولوی نعمان یې غړي وه ودوئ سره په مجلس کې د اسلامي امارت دلائحې د تطبیق په اړه مو ورسره خبرې اونظرونه شریک کړل.

۲ – په پای کې د تګاب ولسوالۍ ولسوال قاري صدیق سره د دغه ولسوالۍ دمجاهدینو ، او عامو خلکو سره دښه چلند او د ښه سلوک توصیه وشوه هغه یادونه وکړه چې د درې کاله وړاندې یو شمیر جاسوسان او اربکیان دمجاهدینو لخوا په عملیاتو کې وویشتل شول دهغه مهال وروسته له مشکل سره ندې مخ شوي .

۲-الای سای ته سفر :

دڅلورشنبې په ورځ د آلاسای ولسوالۍ مرکز سره نزدې کلي کې دیو جهادي قوماندان غلام ایشان په کور کې مو شپه وکړه. بیا له هغه ځایه د الا سای ولسوالۍ مسؤل مولوي محمداصف فیضاني صاحب پخپله مدرسه کې ددلګۍ مشرانو سره موجود و، مونږ ور سره مجلس وکړو، او د کار په رابطه مو ور سره خبري وکړي . لومړي ولسوالۍ دوه لوي درې لري چې یوه یې شمال ته د اشپي دره ده او دوهمه یې جنوب طرفته حسن آباد ، او اسکین او کوټې په نوم یادیږي .

۱ – مونږ اشپې درې ته سفر وکړو ، څه لاره پیاده او څه موپه موټر کې مزل وکړ بالاخره چایې خیل په نوم سیمې ته ورسیدو هلته مو یو مجلس دعلماوو، او مجاهدینو سره جوړ کړو ، وروسته بیا قائل ته لاړو هلته بل مجلس جوړ شو چې پکې

دولسوالي مسؤل مولوی محمدآصف فیضاني په شمول ، او د تعلیم او تربیي مدیر سره له دولسو دلگی مشرانو موجود وو دلته هم د شهیدانو دپاره د قرآن کریم تلاوت او دعاوشوه او د اسلامي امارت پیغامونه او توصیي ولوستل شوي ،ددې ولسوالۍ زیاتره سیمې تولی فتحی وي صرف د ولسوالۍ ودانۍ د دښمن سره و ،ډیرې لوي پراخه سیمي چې په ساعتو، ساعتو پکی موټر مزل کاوه ، دمجاهدینو تر کنترول لاندي وي.

۲ – بل مجلس مو په حسن آباد کې دولسوال صاحب په موجودیت کې جوړ کړو همداراز د شهیدانو دپاره د تلاوت او دعا وروسته د اسلامي امارت مشرانوپیغامونه او توصیې ولوستل شوي، مجاهدین ډېر خوشحاله شول په همدې کلي کې زمونږ په لاسو یوه مدرسه افتتاح شوه ، بیا موهغه یومشر مجاهد هم ولیدو چې په یواځې سرېې دخارجی یرغلګرو مخه نیولي وه او څو فرانسویان، او امریکایان یې دجهنم کندي ته لیږلي وو

۳ – بل مجلس مو د الای سای ولسوالۍ په مرکز کې دائر کړو پکې د ولسوال په ګډون د الای ه سای ولسوالۍ نظامي مسؤل هم موجود و دلته هم اول د شهیدانو لپاره د قرآن کریم تلاوت او دعاوشوه بیا داسلامي امارت دمشرانو پیغامونه او توصیې وویل شولي ،پدې مجلس کې سره لدي چې دولسوالۍ مزکز ته نزدې سیمه وه بیاهم ډېرو مسلحو مجاهدینو ګډون درلود.

دسپین ږیرو او علماوو سره ملاقات :

د الای سای ولسوالۍ له سپین ږیرو او علماوو سره مو مجلس جوړ کړو دلته هم مجاهدینو دخلکو د عرائضو او حقوقي مشکلاتو لپاره یوه اصلاحي شورا جوړه کړي وه چې د اولس ډېري موضوع ګانی او مسائل یې حل کړي وو همداراز دالای ولسوالۍ نظامی کمیسیون ښه فعال و.

۳ – نجراب ولسوالۍ ته سفر :

نجراب ولسوالۍ کې هم جهادې عملیات ښه بریالي روان وو ،دنظامی کمیسیون مسؤل مولوي سید رحمن سره مو ولیدل د اسلامي امارت دمشرانو پیغامونه او توصیي مو ور ته ورسولي او د اسلامي امارت دلائحې د تطبیقولو په اړه مو ور ته تاکید اوټینګار وکړ ،مجاهدینو څه خاص شکایت او مشکل نه درلود بلکې خپلو کارونو ته ښه متوجه وو او د نظامي کمیسیون چارې هم فعالي وي.

۴ – دکوه بند ولسوالی مسؤل :

دکوه بند ولسوالۍ مسؤل مولوي عبدالرب حارث سره چی ور سره یو فعال دلګی مشر قاری صاحب حقیار هم و ولیدل او د کار ونو په اړه مو معلومات ترې وغوښتل ، د انفجاراتو یادونه یې وکړه او د کارونو د ښه والي په اړه مو ور ته ګټوري مشورې ور کړي.

۵ – دحصه اول مسؤل :

مولوی سبحان الله ددغه ولسوالۍ مسؤل چې لږ وخت وړاندې په سیمه کېالبته دغه مهال دڅه عذر په بناء کور ته لاړو، په سیمه کې دنومړو مجاهدین موجود وو، چریکي عملیات یې تر سره کول او دچریکې مجاهدینو څو فعال کروپونه هم وو.

۶ – د حصه دو ولسوالی مسؤل :

ملانصرت چې خپله په تکاب کی اوسي له هغه سره په مجلس کې مو په دې ټینګار وکړ چې په سیمه کې دښه باید چریکې عملیاتو ته ډېر پام وکړای شي، خو دیادوني وړ ده چې دغه سیمه واقعاًهم ددښمن لخوا تر سخت تعقیب او تهدیدلاندې قرار لري پکې جبهې عملیات کول ناشوني دي البته دچریکې عملیاتو بهیر هم غنیمت اوددیاد وړ دی .

۷ – د کاپیسا مر کز:

د کاپیساه ولایت مر کز (محمود راقي) ښه فعال مجاهدین درلودل او په داخل کی اوسیدل لله الحمد ډیر ښه کارونه یې پر مخ وړل او د مر کز اړوند سیمو کې فعال مر کزونه لري چی آن تر حصه دو پوری عملیاتو ته تلل او پخپله د کاپیسا په مر کز کی د دښمنانو ګڼ ټانګونه ، کانتینرونه، او د پولیسو قومندانان په ماینونو الوزول شوي دي

دبرمايي مسلمانانو ۶۰ کلني غميزې ژړونکې

اوداسلامي نړۍ مسؤليت...

رحیمی

د تېر ۲۰۱۲ز کال جون په مياشت کې دبرما دوه ميرمني داسلام قبلولوپه سر ترهګرو بودايانو په شهادت ورسولي ،ليکن دهغوئ دوژلو توريې په مسلمانانو پورې کړ . له دې امله دبرماپه اراکان ولايت کې بوديانو دمسلمانانوبې رحمانه او وحشت خوروونکې ټولوژنه پيل کړه . چې په ډېر کم وخت کې د دغه جنګ داورلمبې دمسلمانانو تر کليو ، کورونو ،مسجدونواو ترمدرسو ورسيدي، ددوه مياشتو په موده کې سلګونه بنکلي بنائسته کلي وران ويجاړ شول د ۲۲ څخه مسجدونه شهيدان شول او له دوه لکه څخه زيات مسلمانان په جبر سره د خپلو کورونو پريښودوته اړ کړای شول .

دلږ څند تيرېدووروسته هلته يو وار بيا وحشي بودايانو پر مسلمانانو قيامت جوړ کړ ، دبې بې سي دراپوروئو په استناد: دمارچ په ۲۰مه دبرما په پلازمېنه (رنګون) کې ديوه مسلمان سره هتيوال سره دځوتنو بودايانو دلفظي شخړي اوتکرار په وجه رامنځته اخ و ډب کې يو بودايي راهب ووژل شو. دهغه د بودايي راهب دوژني غچ اخستو لپاره زر ګونو په وسلو سمبال بودايانو دميانمار ښار "ميکتلا" په سېمه (چېري چې ډېر ش په سلو کې مسلمانان ژوند کوي) تهجمي حمله ووړه، هلته يې دمسلمانانو له ۱۳ څخه زياتو مسجدونو په ګډون ګڼو ديني مدرسوته

اودمسلمانوپه لسګونو کورونو ته اوروڼه واچول .د يوې مدرسې دننه يې څلور استادان د ۲۸ طالبانو سره په شهادت ورسول ، چې دنوروتر څنګ دبرما دنوميالي عالم مولانا انوار لحق څوی حافظ احتشام الحق هم پکې شهيد ش و. ډېر زړو بودايانو دهغوئ په وژلو بسيا ونکړه بلکې په بې رحمانه تو ګه دوژلو وروسته يې دهغوئ د جسدونو له بره تيل وشيندل اووي سېزل .

ديادونې وړ ده چې دبرما حکومت په دغو ټولو جنايتونو اوظلمونو ستر ګې پټې کړي او ګام په ګام دبودايي دترهګرو ملاتړ کوي ، تردي چې مسلمانانو ته يې اعلان کړی

دی چې هغوئ دې له برما څخه ووځي اونوروهېوادو ته کډه

شي، دوئ يې د ژوند تضمين نشي ورکولی، ولې ښکاره ده چې دبرما ظالم اودبشريت دښمن حکومت له وړاندې دروند شمېر مسلمانانو ته دځپل هيواد دتابعيت له ورکولو څخه انکا رکوي.

چې له امله يې ۸لکه مسلمانان دتابعيت له حق محروم شوي، دبرما دظالم حکومت په وينا هغوئ له بنګله ديش برما ته کډه شوي، چې داهيڅ حقيقت نلري بلکې هغوئ خوران دبرما اوسېدونکي دي او دبنګال سيکولر دولت هم هغوئ بنګاليان نه بولي، په دې کشمکش کې دواړه هېوادونه دهغوئ منلوته تيارندي چې دادبرما ميشت مسلمانانو ترټولو لويه ستونزه ده.

خوحقيقت دادی چې برما کې په لوی شمېرمسلمانانودپيړيو راهيسې ژوندتير کړی دی او دالومړی ځل ندی، چې هلته بوداېي ترهګر دمسلمانانو نسلي اوټولوژني تهلاس غځولی بلکې دابوږنوونکې اوځورونکې داستان ۶۰ کاله پخوانی دی، په دې اوږده موده کې هلته پر مسلمانانوپنځه لوی يرغلونه شوي او له امله يې تر اوسه له درې لکه څخه زيات مسلمانان په شهادت رسېدلي، او له ۱۷لکه زيات جبرأ دځپلو کليو او کورونو څخه شړل شوي

ددويم نړيوال جنګ پر مهال په ۱۹۴۰ زکال کې داراکان په اکياب ولسوالۍ کې بوداېانو ديوه ترهګر تنظيم بنسټ کېښود. په ۱۹۲۴ز کال دمارچ په ۲۶ مه نېټه دې تنظيم په اراکان کې دميشت روهنګياي مسلمانانو نسلي وژنه پيل کړه، تردرې مياشتو د ظلم اووحشت په نتيجه کې ديونيم لک څخه ډېر مسلمانان ددغه ترهګر تنظيم وحشتګرو په شهادت ورسول اوپنځه لکه شاوخوا يې دځپلو کلو او کورونو پرېښودوته اړ يستل.

دويم په ۱۹۵۰ زکال کې هم دغه تنظيم په لوی شمېر کې مسلمانان شهيدان کړل، درېم په ۱۹۷۸ زکال دبرما دکافر پوځي رژيم لخوا دمسلمانانو پر ضد پوځي عملياتو کې له يولک څخه زيات مسلمانان په شهادت ورسېدل اوپنځه لکه يې ډېر د ځپلو کورونو اوکليو وشړل. څلورم په ۱۹۹۱ زکال کې هم د دغه دحملو له امله په زرګونو مسلمانان په شهادت ورسېدل له درې نيم لکه زيات دځپلو سيمو پرېښودوته اړ کړای شول، دتير ۲۰۱۲ز دجون مياشتې راديخوا پنځم وار دی چې مسلمانان دبوداېانو لخواد پراخو ظالمانه حملوښکاردي، ديوې تازه سروې له مخې دتير ۲۰۱۲ زکال دجون راديخواد ۵۰زره څخه تريولک مسلمانان شهيدان کړل شوي دي.

دروان ۲۰۱۳ دمارچ د ۲۰مې نېټې وروسته په ميکتلا کې دبيړنۍ حالت اعلانيدو وروسته دپوليسو شتون کې په مسجدونو، مدرسو او دمسلمانانو په کورونو اوشتمنيو پيطرول شيندل کيدل او ورته اورونه اچول روان و دشهيدانو دجسدونو له بره دپيطرولو اچولو وروسته ورته اورونه ورته شول، په سباته ورځ نور ۵ مسجدونه وسيزل شول د ۶سوه څخه زياتو مسلمانانو دبوداېي درندګانو څخه دځانونو او اولادو دژغورنې په موخه په يوه لوبغالي کې پناه واخسته د ۸سوه څخه زياتې کورنۍ له ځپلو کورو ووتل د اطرافي سيمو اودسمندر دغاړې ځنګلونوته کډه شول دهغوئ په ډکو کورونو اومالونه بوداېانو چور اوتالان کړ کړ.

دبرما مسلمانانو د حالت تر ټولو ځورونکی انځور دادی چې تر اوسه په اړه یې نړیوالي ورورولۍ اواسلامي هیوادو ځانونه چوپ نیولي دي ،سره ددې چې دحمله کوونکوبودایانو سره دبرما حکومت په پټه او ښکاره دواړه ملاتړ اولاس لري ، خوبیا هم دملګرو ملتونو لخوا ور ته سرزنښت نه ور کول کیږي دیته په پام دبرما دېرې مسلمانان اندیښمن دی که خدای مکړه دغه روان جارحیت اوظلم هم داسې دوام ومومي ، په برما کې به د مسلمانانو شته ټول نسل پناه شي ... دبرما داسلامي تنظیمونو مشران خورا زیات فکرمند دی هغوئ وایي : که په دوئ دبودایانو دپرله پسې حملو مخه ونه نیول شوه ،په راتلونکي کې به ددوئ وجود پاته نشي ددومره ظلم اووحشت سربیره دبرما دظالم حکومت په زندانو کې زر ګونه مسلمانان یواځې په دې جرم بندیان پراته دي چې هغوئ مسلمانان دي اوپه لکونو خلک جبرا له خپلو کوروڅخه بیرون په دېربد او ځورونکې حالت کې ژوندتیرولو ته اړ دي.

دزیات افسوس وړ داده چې دنړۍ مسلمانان او اسلامي هېوادونه هم برما کې د مسلمانانو له دفاع اوور ته دمرستو له رسولو غافل دي !البته په دې لړ کې یواځې دسعودي عربستان دحکومت کردار په ربښتیا هم دستاینلو دی. دخبري رسنیو له قوله : دسعودي عربستان دولت دبرما مظلومومسلمانانو سره دنورومرستو کولو ترڅنګ دا ګام هم پورته کړی چې دبرما مسلمانانو ته یې پخپل هېواد کې د پناه ور کولو پریکړه کړي ، دمکي مکرمي والي (شهزاده خالد الفیصل)ویلي : دوئ په وړیا تو ګه دبرما دوه لکه مهاجرینو ته په ویاداقامو ور کولو څخه علاوه هغوئ ته ټولي طبي او تعلیمي اسانتیاوي هم برابروي . چې سملاسې په دغه پروسه کار هم پیل شوي دی او ور ته نوم لیکنه هم روانه ده.

دسعودي عربستان ددولت لخوا دغه ګام پورته کول واقعا دشابسې اوستاینې وړ دی ،دټولې اسلامي دنیا لپاره مثالي او دتقلید وړ دی ، پکار دی نور اسلامي هیوادونه هم دبرما تاړاک ځپلو اوبې دفاع مسلمانانو په وړاندې دخپلو هیوادونو دروازې پرانیزي او ورسره هر ډول همکاري ونه دریغوي ، په خاصه تو ګه اسلامي هېوادونه او اسلامي کانفرانس دې دبنګله

په برماکي دمسلمانانو تاریخي مسجدونه داورپه لمبوکي

دیش پر حکومت زور راوړي چې هغه ددغو بې وزلو مسلمانانو سره خپله بده رویه پای ته ورسوي او دمهاجرینو بیر ته شړلو څخه ډډه وکړي ولې چې دبنګال ددې غیر اسلامي او غیر اخلاقي روي په وجه دبرما لوی شمېر مسلمانان دیته اړ شوي چې اوس دسمندر دغاړو په ځنګلونو کې یې پناه اخستي اوهلته دډېربد حالت سره مخ دي.

دحدیث شریف

د تدوین تاریخ

ژباړن :شهاب منصور داسلامی نړۍ ثقه دینی عالم اروابناددوکتور محمد حمید الله رح — ترېمه بر خه

په ټولو کې ډېر ثقه انس بن مالک (رضي الله عنه) دی، څوک چې مدینې منورې ته دهجرت پر مهال لس کلن و ،دهغه مور او پلار دواړه مخلص مسلمانان وو ،نوموړی(رضي الله عنه)وایي: کله چې رسول الله (ﷺ) مدینې ته راغی ، مور مې د لاس ونیوم او رسول الله (ﷺ) ته یې بوتلم ،هلته یې درسول الله (ﷺ)په مخکې یې کېنولم ،بیا مې مور په ډېر ویاړ رسول الله (ﷺ) ووېل: دالله رسوله ! دا ځما ځوی په لیک لوست پوهېږي ! ددې داسې مثال دی لکه نن سبا یوڅوک دویاړلو په غرض وایي: ځما ځوی دوکتوره کړیده! غرض داچې دانس (رضي الله عنه)مور پخپل ځوی ویاړل . بیایې ووېل :دالله رسوله ! ځما لپاره به دا ډېر لوی ویاړ لامل شي ، که ځوی ته دخپل خادم په حیث قبول کړي ! انس (رضي الله عنه) وایي :رسول الله (ﷺ) ځما دمور غوښتنه اومنله .زه درسول الله (ﷺ) په کور کې درسول الله (ﷺ) تر وفات پورې پاته وم ، لس کاله پر لېسې هر وخت درسول الله (ﷺ) په کور کې وم ، بیګاه اوسبا مې هم هلته وو ، درسول الله (ﷺ) ظاهري اوباطني ژوند به مې لید، په مسجد کې یې چې څه کول . هغه مې هم لیدل اود کور دننه یې له خپلو میرمنو (ازواج مطهرات) سره څنګه رویه او سلو ک و ؟ خواړه یې څه و ، ملاسته اوناسته یې څنګه وه ؟ ټول ژوند یې ما لیدلو ، ښکاره ده چې دغه ډول امتیاز لویو لویو صحابه وو لکه ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) عمر فاروق(رضي الله عنه) ته هم په برخه نه و ، چې هغوئ له دومره نیږدې درسول الله (ﷺ) د ژوندحال لیدلی . انس (رضي الله عنه) وایي: درسول الله (ﷺ) دوفات وروسته دمسلمانانو شمېر سیوا شو ، هر سړي په ډېر شوق اومینه له دې سره لیوالتیا درلوده چې ځان ته درسول الله (ﷺ) دمبارک ژوند حال معلوم کړي، ددې لپاره ماته په لوی شمېر شاګردان به راتلل ! ددلته درروایت الفاظ دوه دي یو: اذاکثروا(هر کله چې دهغوئ شمېر ډېر شو) بل: اذا اصروا (کله چې هغوئ ډېر اصرار کاو) په هر صورت انس (رضي الله عنه) وایي: ما به دخپل صندوق نه یو پخوانی کتاب راوویست اوخپلو شاګردانو ته به مې وویل :دا هغه څه دي چې ما درسول الله (ﷺ) په اړه یاداښتول ،بیا به مې درسول الله (ﷺ) ته وړاندې کول ، که ما به کومه سهوه یا خطاء کړې وه ، هغه به رسول الله (ﷺ)حذف کړه او اصلاح به یې کړه ، دا دانس (رضي الله عنه)مجموعه (ټولګه) وه ، چې په باور سره په هغه کې څوزره حدیث لیکل شوي وو. دیته دحدیثو یو داسې کتاب ویلای شو چې تر نورو کتابو ډېر صحیح واو دلیکلو وروسته پرې رسول الله (ﷺ) پخپله دویم واري کتنه کړي ، یعنې د اوریدو وروسته یې تصحیح کړی...

دېته ور ته يوبل مثال هم موندل کېږي .نو رازو دېته چې د رسول الله (ﷺ) په مبارک ژوند کې د رسول الله (ﷺ) په اجازه د رسول الله (ﷺ) په حضور کې حديث تدوين او ليکل کيدل . په بخاري شريف کې شته حديث له دوزره ډېر ندي . دڅينو روايتونو له مخې دعبدالله بن عمرو بن العاص (رضي الله عنه) دحديثو په مجموعه کې تر لس زره ډېر حديث وو . له دې څخه تاسو اندازه ولګوئ چې څومره په لوی شمېر کې حديث د رسول الله (ﷺ) په مبارک ژوند کې په ليکلې بڼه تدوين شوي وو . افسوس! چې هغه ټول ترمونږ په کتابي شکل ندي رسېدلي . د کتابونو مصنفينو ګډو وډ شيندلي . يعني هغوئ دعبد الله بن عمرو بن العاص(رضي الله عنه) دمجموعي يو حديث په يوباب کې راوړی، بل يې په بل باب کې ليکلی دی . په دې تو ګه هغه اصل مجموعه پخپل ترتيب تر مونږ ونه رسيده . په هر صورت دا روښانه ده چې د رسول الله (ﷺ) په زمانه کې دحديثو دجمع او تدوين کار پيل شوی و . او يکې زياتوالی هم راغلی و . د رسول الله (ﷺ) دوفات وروسته مونږ دهغو صحابه وو شمېر زيات مومو . کومو چې دخپلو يادابښتونو ليکل ضروري ګڼلي ... د رسول الله (ﷺ) په ژوند کې دهغوئ دېته پام نه و . خو وروسته ورسره دا احساس پيداشو چې رسول الله (ﷺ) ژوندی پاتې نشو .مونږ به هم نن يا سبا ددنيا نه رحلت کوو . که خپل يادابښتونه راټول نکړو . نوهسې ضايع به شي . لږ تر لږه دخپلو اولادونو دزدکړې لپاره به د رسول الله (ﷺ) دژوند حالات وليکو . دلامل دی چې په ګڼو کتابو کې دايادونه راغلي چې د رسول الله (ﷺ) دوفات وروسته څينو صحابه وو لکه حضرت سمره بن جندب (رضي الله عنه) حضرت عبد الله بن مسعود(رضي الله عنه) ،حضرت سعد بن عباده (رضي الله عنه) اونورو کتابونه اورسالې وليکلې . دغو مجموعو څخه ديوې په اړه ابن حجر ليکلي :فيه علم کثير(په دې کې ډېر لوی علم دی) ديوې بلې رسالې په اړه ليکي: زياته ضخيمه وه . دا دحديثو دجمع کولو يو صورت و

اودحديثو دتدوين بل صورت داو : خلکو صحابه وو ته ليکونه ليکل او پوښتني ترې کولې . مثلاً: که يوه تن به د کومې مسئلې په اړه څه پوښتنه درلوده. يوه مشر صحابي ته په دې باور چې هغه پوهېږي . ليک استاو . هغه به د لوستو وروسته . بيرته ځواب وليکه :هو! ما له رسول الله (ﷺ) په دې اړه دا اوريدلي ... يا مې دا ...ليدلي... داسې يې کول ... غرض داچې دليک او خط له لارې دحديثو دتدوين اودرس يوه سلسله هم مومو . په دې لړ کې څينو سترو شخصيتونو لکه ام المؤمنين عائشه صديقه (رضي الله عنها) ته به ګڼ شمېر ليکونه راتلل .هغې به دليک له لارې بيرته ځوابول.. حضرت عبد الله بن ابي اوفی (رضي الله عنه) يوبل صحابي دی په اړه يې بخاري شريف کې راغلي : ور ته يو ليک راغی . دځوابولو وروسته يې هغه ليک بيرته لېږونکي ته ولېږه . دحضرت مغيره بن شعبه (رضي الله عنه) همدغه رنګ حال و. دحضرت معاويه (رضي الله عنه) پشان دوخت خليفه به له هغه نه د ليک دلارې پوښتل :په فلانی مسئله کې ستا معلومات څه دي ؟

اوس رازو دېته کله چې صحابه وو په دې تو ګه د حديثو تدينول پيل کړل .دهغه مهال ځوانانو ته يې دهغو تدريس هم شروع کړ ؟لومړی دصحابه وو په نومو حديث مدون شول . مثلا:له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه په کوم ښار کې دهغه شاګردانو چې حديث لوستل . هلته د هغه روايتونه جمع شول . د بل ښار اوسېدونکو چې له کومو صحابه وو حديث ياد ول هلته دهغوئ روايتونه جمع شول . دابوهريره (رضي الله عنه) شاګردانو ته په نورو ښارونو کې دميشت صحابه وونه داستفادي فرصت په لاس ورنغلو .هم داسې دنورو شاګردانو ته له ابوهريره (رضي الله عنه) څخه داستفادي موقع پيدانشوه . نتيجه داشوه چې لومړی دصحابه وو روايتونه جلا. جلا جمع شول . دصحابه وو په راوروسته دور کې يوه شخص له څو تنو استادانو څخه استفاده وکړه مثلا: دابوهريره (رضي الله عنه) له شاګرد نه دحديثو اوريدو او ليکلو وروسته دبل صحابي شاګرد ته هم لاړ دی .د هغه سره شته روايتونه يې هم اوريدلي . په دې تو ګه کرار کرار ددوه يا درې

نسلونو وروسته دټولو صحابه وو حديث او روايتونه له علماوو سره جمع شول ، ديوبل ځيز يادونه جالبه ده : ابوهريره (رضي الله عنه) هغه صحابي دی چې وروسته مسلمان شوی دی ، يعني دهجرت په اووم کال مسلمان شوی ، يعني د رسول الله (ﷺ) دوفات څخه درې کاله وړاندې يې اسلام قبول کړی ، ددې باوجود دور نه لوی شمېر حديث مروي دي !ددې وجه نوموړی (رضي الله عنه) خپله دا بيانوي: نور صحابه لکه ابوبکر ، عمر ، عثمان ، علي (رضي الله عنهم) اونور فلاني فلاني صحابي به ټوله ورځ پخپل کارونو ، تجارت ، او دژوند په چارو کې مصروف ول، زه ټوله ورځ په نبوي مسجد کې به پروت وم ، د رسول الله (ﷺ) وينا اوريدو ته به غوږوم ، څومره موقع چې ماته په لاس راتله ،هومره لويو لويو صحابه وو ته هم په لاسو نه ورتله ، دنوموړي (رضي الله عنه) حافظه هم ډېره قوي وه ، دعلمي ذوق لرلو سربيره په ليک لوست هم پوهېده ، يوه ورځ يوه شاګرد يې "حسن بن عمرو بن اميه ضمري" وويل: استاد !"تاموږ ته دافلاني حديث ويلی ... "داچې هغه وخت کې استاد ته ياد نه ومنکر شو ،شاګرد دويلي :استاد! تاموږ ته ويلی ... نه وروه! ماندی ويلی ... ماته په ياد ندی ... نه استاد!هم تاموږ ته ويلي ...شاګرد وايي: استاد(ابوهريره رضي الله عنه) زه له ځان سره لاس نيولی دخپل کور په لور روان کړم ... کور ته د رسيدو وړاندې په لار کې راته داوويلي : که تاته ما ريښتيا داحديث ويلي وي نو خامخا به له ما سره ليکلي وي... کور ته دننوتو سره نوموړي له خپلي الماری يو ټوک کتاب را بيرون کړ ، دهغه پاڼې يې اړولې راړولي ، خوپيدا نشو ... بيا يې په دويم ټوک او دريم ټوک نظر تېر کړ ، دلږ ځند وروسته يې غږپور ته کړ ، ما در ته نه ويلي ... که ما ويلي وي ... له ما سره به په ليکلي بڼه شتون لري ... وګوره دادی شته ، سهي ده ما دا ويلي ... دابن حجر په روايت کې دومره الفاظ زيات دي :ارانا کتبا کثيرة من الحديث (موږ ته ابوهريره دحديثو ډېر کتابونه وښودل) يعني ما دابوهريره(رضي الله عنه) ډېر کتابونه دهغه د کور په کتابتون کې وليدل دابوهريره (رضي الله عنه) طرز العمل عالمانه او ډېر زيات جالب و ، نوموړي ته به چې هر شاګرد د راتلو ، ټولو شاګردانو ته يې پوښې نه ويلي ، بلکې هر شاګرد ته يې جلا ، جلا حديث ښودل ، کله چې همام بن منبه نوموړي(رضي الله عنه) ته راغی هغه ته يې دسل پونيم سلو حديثو يوه ځانګړې رساله دليکلو وروسته و سپارله ، چې په "صحيفه همام بن منبه" شهرت لري ، دبل شاګرد د لپاره به يې بله مجموعه وليکله ،چې وروسته به هم هغه نوم ته منسوب شوه ، فرض داچې دابوهريره (رضي الله عنه) په اړه موږ ته جوته ده چې هغه ته زر ګونو حديث يادول او خپلو ګڼو شاګردانو ته يې چې کومې رسالي ليکلي هغه تر ننه خوندي اوشته ،

په ځينو حديثو کې راغلي چې رسول الله (ﷺ) حکم کړی دی چې حديث مه ليکئ ، او ځيني هغه چې ما وړاندې وويل : په هغو کې په صراحت سره حکم شوی دی چې له خپل ښي لاس نه مرسته واخلئ ، يعني خامخا اوضرور يې ليکئ ! ولي چې ددې خولې نه هيڅکله دروغ نه وزي !ددې دواړو ترمنځ شته تضاد به څنګه لري کړای شي ؟ په دې اړه موږ ته د کومې فکرمندۍ اړتيا نشته ، لنډه کېسه داده چې داسې څوتنه صحابه شته چې هغوئ داسې ويلي : حديث ليکل ندي پکار ! خو هغوئ دغه امر د رسول الله (ﷺ) لورته منسوب کړی ندی ، چې دا(حديث مه ليکئ) د رسول الله (ﷺ) ويناياامر دی !بلکې ديوه صحابي خپله رايه ده، هغه خپله رايه بيان کړي ، موږ ته په دې اړه دبحث اړتيا نشته، خو کومو صحابه وو چې داويلي: ورته داحکم (حديث مه ليکئ) رسول الله (ﷺ) کړی دی ! په دې دغور کولو ضرورت شته دې لړ کې ددرې صحابه وونومونه راغلي :يو نوم د ابوهريره (رضي الله عنه) دی چا چې پخپله دحديثو ګڼ کتابونه ليکلي ! دويم نوم دی د حضرت زيدبن ثابت (رضي الله عنه) دريم دی حضرت ابوسعيد خدري (رضي الله عنه) تر کومه ځايه چې دزيدبن ثابت (رضي الله عنه) او دحضرت ابوهريره (رضي الله عنه) پورې اړه لري زموږ دحديثو استادان هغه ردوي، وايي:ددې روايتونو منځ کې راويان ثقه ندي ، هغوئ تېروتنه کړي ده ، دعلم حديث اصولو ته په پام سره دغه دواړه روايتونه دمنلو وړندي يوازې دابو سعيد الخدري روايت دحديث اصولو ته په

پام مهم دی. ولې د صحیح مسلم پشان دحدیثو په صحیح کتاب کې راوړل شوی دی ، دهغه الفاظ دادي: موږ ته رسول الله (ﷺ) وویل: له ما هیڅ حدیث مه لیکئ، او که لیکلي مووي هغه رنګ کړئ! ددې حدیث په شتون کې داپوښتنه پیدا کېږي چې ددې سیاق اوسباق ته په کتنه داڅېړل اړین دي چې داد کوم خاص مورد په اړه دی که عام حکم دی ؟ څما دوست ښاغلی مصطفی الاعظمی چې دحدیثو یو وتلی اومنل شوی استاد دی او اوس د ریاض پوهنتون کې پروفیسر دی ، هغه په دې موضوع ښه په زړ پوري عالمانه څېړنه کړي ده، هغه وایي: په صحیح مسلم کې چې کوم حدیث راغلی ، امام بخاري هغه رد کړی دی ، امام بخاري وایي: په دې کې تېروتنه شوې ، اصلا دا :دابو سعید الخدري (رضي الله عنه) خپله رایه وه ، په منځ کې دیوه راوي په وجه رسول الله (ﷺ) لورته منسوب کړای شوی ، په دې حالاتو کې موږ وینو چې درسول الله (ﷺ) دغه حکم چې حدیث مه لیکئ دحدیث اصولو له مخې څه ثبوت نلري که فرض کړو چې یو وخت رسول الله (ﷺ) دحدیث لیکلو څخه منع کړي وه ، نو ددې حل اسانه دی غالباً په کوم خاص سیاق اوسباق کې یې داحکم صادر کړی و ، ولې چې دابوهریره (رضي الله عنه) مثال موجوددی ، هغه یو دیندار شخص و او په حدیثو باندې عمل کوونکی و ، که واقعاً رسول الله (ﷺ) منع کړي وه ، نو هغه به هیڅکله پخپله دحدیثو ګڼ کتابونه نه لیکل ،ممکن په کومه خاصه وجه یې منع کړي وي ، چې ددې واقعي په اړه یې لیکل مه کوئ ! مثلا :یوه معلومه ورځ حدیث مه لیکئ ، دعامه اجازت وروسته لیکل پیل شوي وي ، لنډه دا چې په کوم خاص سیاق اوسباق کې دنه لیکلو حکم کیدای شي ، مثلاًیوه ورځ رسول الله (ﷺ) صحابه وو ته ترقیامته ټول راتلونکي واقعات بیان کړل اووي فرمایل تاسې به فلاني هیوادنیسئ ، داسې سېموته به لاړشئ ، داسې ، داسې کارونه به پېښ شي ، غرض داچې دقیامت پورې راتلونکې خبري رسول الله (ﷺ) بیان کړې ، په دې لړ کې راغلي چې ځینو صحابه وو (رضي الله عنهم) وویل یا رسول الله (ﷺ) !هر کله چې داهر څه مقدر دي بیا موږ زیار او کوښښ ته ولی اړیو ؟ رسول الله (ﷺ) وفرمایل :داکوښښ کول پخپله مقدر دی ،داسې به کوئ ، ممکن په دې ورځ رسول الله (ﷺ) فرمایلي وي چې دا خبري مه لیکئ ، ولې ځینې صحابه په دې تېروتنه کې مبتلی شول :چې هر څه مقدر دي، کوښښ اوزیار ایستلو ته ضرورت نشته ؟ یا کومه بله وجه کیدا شي ؟ دحضرت زید بن ثابت (رضي الله عنه) لورته هم ځینې کتابونه منسوب دي .

دایوه وروستی نکته ده چې په دې سره زه داوینا پای ته رسوم ، هغه دا چې یوه پوښتنه داهم ده چې حضرت ابوبکر صدیق ، حضرت عمر ، حضرت علي (رضي الله عنهم) په څېر منلو او غوره صحابه وو د حدیث په باره کې څه کړي دي ؟ دابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په اړه دایو روایت شته دی چې هغه درسول الله (ﷺ) دوفات وروسته پخپل پاتې لنډ دوه نیم کلن ژوند کې دحدیثو یوه مجموعه تیاره کړي وه ، پکې شاخوا پنځه سوه حدیث لیکلي وه ، دلیکلو وروسته یې هغه خپلې لور حضرت عائشه صدیقه (رضي الله عنها) ته وسپارله، څما ګومان دادی چې هغې به ورته ورانديز کړی وي ګرانه پلاره !ماته په کتاب کې حدیث ولیکه ! ولې دحضرت عائشه صدیقه (رضي الله عنها) سره دعلم ذوق بیحده ډېرو ، د لیکلو وروسته یې هغې ته وسپارله ،ابوبکر صدیق (رضي الله عنه) په هغه شپه دعائشې (رضي الله عنها) کره ویده شو ، ټوله شپه ورته خوب رانغلو، عائشه (رضي الله عنها) وایي: ذما پلار ټوله شپه کله به یو اړخته کله بل اړخته اوښت رااوښت زه ودار شوم چې ډېر ناروغ دی ، بالاخره چې کله سباشو مازړه ونکړ چې تري دا وپوښتنه وکړم ولې بیګا خو ناروغ وي ؟ پلار مې دخپلو راته وویل: ما چې کوم کتاب در کړی هغه راواخله ! ما راوړ ، سملاسي یې په اوبو سره ووینځه اوړنګ یې کړ ،وي ویل: دې کې ځنې حدیث داسې و چې هغه ما پخپله اوریدلي ، دهغو په اړه زه یقین لرم خو ځینې مې له نورو صحابه وو څخه اوریدلي ، زه اندېښنه لرم چې هسې نه هغه الفاظ درسول الله (ﷺ) نه وي ، زه نه غواړم چې درسول الله (ﷺ) لورته دداسې الفاظو نسبت وکړم چې هغه درسول الله (ﷺ) نه وي ، او د بالمعنی روایت په

ضمن کې راغلي وي . خو ددې حديث دغه اړخ ډېر مهم دی ، که رسول الله (ﷺ) دحديث ليکلو ممانعت کړی و ، نو يقيناً ابوبکر صديق (رضي الله عنه)خبر و ، نو دليکلو جسارت يې هيڅکله نه کاو ، دليکلو وروسته دړنګولو لامل يې دانه و چې رسول الله (ﷺ) منع کړي بلکې د انديښنه وه چې هسې نه په کوم سهې حديث کې تري کمی زياتی نه وي شوی.

دحضرت عمر (رضي الله عنه) په اړه هم يو روايت داسي شته چې غوښتل يې حديث مدون کړي ، ددې لپاره يې خلک دمشوري لپاره هم ورغوښتي وه ، دټولو رايه داوه چې ودې ليکل شي ، خو د کافي بحث مباحثي او مشوري وروسته حضرت عمر (رضي الله عنه) وويل :چې ندي ليکل پکار ! ولې چې پخوانيو امتونو دانبياوو په اقوالو عمل وکړ ، هغه يې خوندي کړل ، خو دالله (جل جلاله) نازل کړی کتاب تري هير شو ، پکې تحريفونه يې وکړل ، زه نه غواړم چې دقرآن په اړه هم دغسې ستونزه رامنځته شي ، حضرت عمر (رضي الله عنه) چې دتدوين کومه اراده کړي وه له هغې نه يقيناً داپه ثبوت راځي چې درسول الله (ﷺ) لخوا يې ممانعت نه و شوی ، که شوی وای هغه به يې دليکلو اراده نه کوله ، دحضرت عمر (رضي الله عنه) دنه ليکلو وجه يوه بله وه ، چې خلک به له قرآن څخه غافل او لا پرواه شي.

حضرت علي (رضي الله عنه) دخپل خلافت په زمانه کې يوه ورځ وفرمايل :هر څوک چې ديوه درهم صدقه کولو وس لري هغوئ دې کاغذ راوړي ،زه حديث ليکم ،هغوئ دې هم وليکي !دهغه له ملګرو نه يو تن بنار ته لاړ ، په يو درهم باندې يط د کاغذ يو بندل راوړو ، علي (رضي الله عنه) ډير شيان وليکل اوهغه تن دځان سره خوندي کړي ل ، له دې څخه هم نتيجه په لاس راځي ، چې رسول الله (ﷺ) دحديث ليکلو څخه منع نه وه کړي ، که کړي وای نو دابوبکر صديق ، حضرت عمر ، اوحضرت علي (رضي الله عنهم) په څېر اکابرو صحابه ووبه هيڅکله دحديث ليکلو يا په نورو باندې دليکلو جسارت نه و کړی

نوربيا

غربي کلتور

يوسړی په پاريس کې دخپل دوست له ليدو وروسته چې کله بير ته کور ته لاړ ، ګوري چې د دروازې په مخ کې يې يوه پيغله انجلۍ ولاړه ده او ژاړي.

دی ډېر حيران شو ويې پوښتل چې ولې ژاړي ؟

هغې ور ته وويل : ته چې دچا لېدو ته راغلې هغه زما پلار دی. په کرايه دويه اطاق دنيولو لپاره ور ته راغلې وم خو هغه انکار وکړ.

– ولې ته خو لوريې ؟

– راته ويل يې چې بل ماته تر تاډېره کرايه هغه ته يې ور کوم

– داڅه وايې ؟!!

ګوره ګوره

شيخ سعدی رح ته پلار په وړو کوالي کې يوه قيمتي ګوته اخيستې وه. سعدی چير ته يواځې په لوبو بوخت و چې کوم چلباز په يو څه خوږه غولولی و او ګوته يې تر اخيستې وه.

پلار ته يې ددې خوږو خبر په ډېره خوشحالي ور کړ هغه ور ته وويل : زويه دومره قيمتي ګوته دې ديوې پيسې خوږو په بدله له لاسه ور کړه ؟! خير ! اوس چې څه شوي هغه شوي دي، خو ګوره زويه ! لکه څرنګه چې ماتاته يوه قيمتي ګوته در کړې وه دغه رنګه خدای تعالی تاته تر هغې ډېره قيمتي ملغلره در کړې چې "انسانيت" نوميږي.

ددنيا واړه واړه لذتونه دهماغو خوږو په څېر دي چې شيطان يې ديوه چلباز په څېر اړوی رااړوي چې تاته يې در کړي او داملغلره در څخه واخلي !

ګوره ګوره ! چې داملغلره ور که نه کړې !

قاري حبيب.......................................

د کوريا
د شخړې پروناوڼ

د کوريا ټاپووزمه د اسيا په ختيځ کې واقع ده ، چې ختيځ او جنوب ته يې د جاپان بحيره ، لويديځ ته يې د کوريا خليج او شمال ته يې چين او د روسيې حدود پراته دي.

کوريا چې ځانګړې ژبه ، نژاد او جغرافيه يې د ختيځې اسيا له سترو نژادونو او هيوادونو(چين ، روسيې ، جاپان) څخه بيلوي ، د اسيا په ختيځ کې يوه مهمه سيمه ده ، چې د تيرې پيړۍ غوندې اوس هم د سياسي او پوځي تشنج له امله تل د خبرونو په سرټکو کې وي.

که د دې جزيرې نړدې تاريخ وګورو را معلومه به شي چې دا ټاپوزمه تل د سترو قدرتونو ترمنځ د اشغالګرانه لوبو او کشمکشونو د ګرپاتې شوې او خلک يې کله هم نه دي پريښودل شوي چې د استعمار له يوغ پرته په خپلوا که توګه په خپله خاوره ژوند وکړي.

نولسمه او شلمه پيړۍ د نړيوالو استعماري او اشغالګرانه لوبو پيړۍ يادېږي ، چې لويو هيوادونو په کې د خپل ګاونډ واړه اولسونه اشغالول او شيېلول ، د کوريا ټاپوزمه چې د چين ، جاپان او روسيې ترمنځ

پرته ده ، د نولسمې پيړۍ په وروستيو او د شلمې په لومړيو کې د دې دريو هيوادونو ترمنځ په سخت کشمکش کې راګير وه ، تر دې چې بالاخره جاپان وتوانېد چين او روسيې دواړو ته ماته ورکړي او په ۱۹۰۵ م کال کې د کوريا ټاپوزمه په بشپړه توګه تر خپله سيطره لاندې راولي ، جاپان څو کاله وروسته دغه ټاپوزمه رسما د جاپان خاوره اعلان کړه ، او خپل

ملکیت یې وباله ، خو محکومو کوریایانو پرلپسې خپل نارضایت ته دوام ورکاوو او له جاپان څخه یې ازادي غوښته چې په دې لړ کې یې ځو ځلې سختې قربانۍ هم ورکړې ، خو جاپانیان هرځل وتوانیدل چې دکوریایانو خپلواکي غوښتونکي پاڅونونه په سختۍ سره وټکوي او خپل اشغال ته دوام ورکړي.

د شلمې پیړۍ په څلورمه لسیزه کې دکوریا خپلواکي غوښتونکو دچین په شانګهای ښار کې جلاوطنه حکومت جوړ کړ او له همدې ځایه یې له جاپان څخه دازادي اخیستلو خوځښت پیل کړ ، خو کله چې ددوهم نړیوال جنګ په پیل کې جاپان په ارام سمندر خپله سیطره بشپړه کړه ، دچین شانګهای ښار یې هم اشغال کړ ، او دکوریا جلاوطنه حکومت یې تیښتې ته اړ کړ.

ددوهم نړیوال جنګ په مهال چې کله لویدیځو هیوادونو ، چین او روسیې په ګډه په ارام سمندر کې دجاپان په خلاف عملیات پیلول ، نو دکوریا له فراري مبارزینو سره یې هم وعده وکړه چې که دجاپان په خلاف په جګړه کې ورسره همکاري وکړي ، نو په بدل کې به له جاپان څخه دکوریا خپلواکي بیرته ورته واخلي او په دې ټاپوزمه کې به دیوه خپلواک ، متحد او مستقل حکومت دجوړول چانس په لاس ورکړي.

دکوریا خپلواکي غوښتونکو دلویدیځو هیوادونو او روسیې په دې خبره باور وکړ ، او په پوره میړانه دمتحدینو په صف کې دجاپان په خلاف وجنګیدل ، خو کله چې جاپان شکست وخوړ او د کوریا دټاپوزمې په شمول یې دختیځې اسیا له ټولو مستعمرو څخه لمن ټوله شوه ، لویدیځوالو او روسیې دکوریایانو سره شوی دخپلواکي ورکولو عهد په ځای نه کړ بلکې په پوره ناځوانۍ یې له جاپاني اشغال څخه ازاد شوي کوریایان دامریکایي او شوروي اشغال بل قفس ته واچول ، امریکایانو او شورویانو دجاپان له عقب نشینۍ وروسته دکوریا ټاپوزمه دپخې ډوډۍ په ډول ترخپل منځ سره دوه ټوټې کړه ، چې شمالي برخه یې دشوروي او جنوبي یې دامریکا په برخه ورسېده ، دوی ددې تقسیم لپاره دمدار ۳۲ درجه حد وټاکه ، چې دهمدې درجې شمالي برخې دشمالي کوریا په نامه دشوروي او جنوبي یې د جنوبي کوریا په نامه دامریکا تر اشغال لاندې راغله.

په ۱۹۴۸ م کال کې دشمالي کوریا کمونیست او دجنوبي کوریا غربي ټېپ دیموکرات جمهوري حکومتونه ددوو بیلابیلو حکومتونو په توګه رامنځته شول او له همدې ځایه دنړیوالو ابرقدرتونو لخوا دکوریا د متحد اولس ترمنځ دبیلتون او کرکې خورا خونړۍ کرښه راتېره کړل شوه ، چې ددې استعماري شیطاني کړنې بدې اغیزې لاهم دکوریا په ټاپوزمه کې دنفرت او تشنج اور بل ساتي.

دکوریا لومړنی جنګ

په ۱۹۵۰ کال کې دکوریا په ټاپوزمه کې پیښ شوي جنګ ته ځکه دکوریا لومړنی جنګ وایي ، چې په دې وروستیو کې دشمالي کوریا پوځي مشرتابه اعلان کړی ، چې دکوریا له دوهم جنګ څخه پرته بله

هیڅ لاره ددې نشته ترڅو په سیمه کې له امریکايي پراختیا غوښتنې سره مقابله وشي ، که څه هم دکوریا دوهم جنګ تراوسه پیښ شوی نه دی خو قوي احتمال شته چې په دې سیمه کې یوځل دغرب دمتکبرانه پالیسو له امله دوهم جنګ هم پیښ شي.

له دوهم نړیوال جنګ وروسته چې دکوریا ټاپوزمه دشوروي او امریکا ترمنځ وویشل شوه ، نو تر ۱۹۴۹ م کال پورې په دې سیمه کې پردي اشغالګر ځواکونه په ګڼ شمیر کې موجود وو ، خو په همدې کال زیاتره قواوې له کوریا څخه ووتلې او یوازې یې سیاسي استازي او محدود پوځیان پرېښودل ، د ۱۹۵۰ م کال په جون کې دشمالي کوریا حکومت په جنوبي کوریا دامریکايي سلطې دختمولو لپاره برید پیل کړ، چې د یرغل په دریمه ورځ یې دجنوبي کوریا پلازمینه سیول هم تراشغال لاندې راوست او امریکايي او دجنوبي کوریا اجیرې قواوې یې جنوبي څنډو ته په شا کړې ، په پیل کې داسې ښکارېده چې دشمالي کوریا په برلاسۍ سره به په جنوبي کوریا دامریکا سلطه پای ته ورسیږي او دکوریا اتحاد به یوځل بیا تامین شي ، خو امریکایان له لسګونو زرو تازه دمو ځواکونو سره جګړې ته وړاندې شول او دشمالي کوریا له عسکرو سره یې سختې جګړې پیل کړې ، داجګړه چې دکوریا په جګړه مشهوره ده او ددې ټاپوزمې ترټولو سخته جګړه بلل کیږي ، تقریبا درې کاله روانه وه ، چې شمالي کوریا دشوروي او چین له خوا حمایه کیده اود جنوبي کوریا په خوا کې امریکايي او دیوشمیر نورو لویدیځو هیوادونو عسکر وو ، دجګړې په مهال دجنوبي کوریا پایتخت څوځله لاس په لاس شو ، دغه راز دشمالي کوریا پلازمینه هم یوځل دامریکایانو لاسته ولوېده ، خو کله چې امریکایان دشمالي کوریا خاورې ته ننوتل نو دچین پوځ په مخامخ ډول په جګړه کې مداخله وکړه او امریکايي عسکر یې بیرته په شا کړل ، دې جګړې د ۱۹۵۱ م په اپریل کې هغه وخت خورا خطرناک لوری خپل کړ ، کله چې دجګړې امریکايي جنرال مک آرتور په چین باندې داتومي برید ګواښ وکړ ، نوموړي له امریکايي مشرتابه وغوښتل چې په چین اتومي بمونه وغورځوي ترڅو دشمالي کوریا له ملاتړ څخه لاس واخلي ، خو امریکايي مشرتابه دخپل جنرال داغوښتنه ونه منله ، نوځکه نوموړي استعفاء وکړه.

دکوریا په جنګ کې ددواړو خواوو څخه په لکونو کسان ووژل شول ، چې له دې جملې یوازې دامریکا ۵۵ زره عسکر مړه ، تر یولک ډیر زخمیان او ۵۰ زره ورک او اسیران شول ، دغه راز دکوریا په دواړو خواوو کې ښارونه ، صنعتي سیمې ، کورونه او عامه تاسیسات په بشپړه توګه له منځه لاړل .

دکوریا جګړه هغه وخت ودرول شوه کله چې د ۱۹۵۳ کال په جولای کې دواړو خواوو دمذاکراتو په لړ کې اوربند اعلان کړ، چې له هغه وروسته همدا اوربند وغځېد چې تراوسه پورې یې دوام درلود .

خو د روان ۲۰۱۳ م کال دمارچ په نیمايي کې شمالي کوریا اعلان وکړ چې له امریکا او جنوبي کوریا سره شوی اوربند یې فسخه کړی دی.

تازه جریانات

د جنګ له ختمېدو وروسته حالاتو په هماغه شکل دوام وکړ ، امریکایي ځواکونو له خپل ټولو پوځي امکاناتو سره په جنوبي کوریا کې پاته شول ، او د شمالي او جنوبي کوریا ترمابین دښمني دجګړې له امله همداسې توده پاته شوه ، شمالي کوریا له چین او شوروي سره اړیکي تودې کړې او دهیواد په صنعتي کولو یې کار پیل کړ چې ورسره یې دپوځي وړتیاوو لوړولو ته هم توجه ډېره وه ، جنوبي کوریا له امریکا سره همداسې پېیلي پاته شوه او لسګونه زره امریکایي سرتیري په کې دتل لپاره میشت شول.

د شمالي کوریا او امریکا ترمنځ په دې وروستیو کې خبرې بیا هغه وخت توندې شوې کله چې دشمالي کوریا دفضایي او اټومي تجربو له امله دامریکا په غوښتنه امنیت شورا په دې هیواد خپل بندیزونه نور هم سخت کړل.

دغه راز شمالي کوریا په امریکا تور پورې کړ چې په دې هیواد دبرید پلان لري ، شمالي کوریا چې په دې وروستیو کې یې خلا ته دفضایي بېړۍ په استولو او دریمې بریالۍ اټومي تجربې سره خپل قوت ښودلی ، ګواښ کړی چې که دامریکا له لوري عنادي چلند دوام وکړي ، په امریکایي اهدافو به بریدونه وکړي.

دروان کال دمارچ په میاشت کې کله چې امریکا او جنوبي کوریا ګډ پوځي تمرینات پیل کړل ، په سیمه کې یې تشنج نور هم زیات کړی دی ، دمارچ په ۲۲ مه دشمالي کوریا مشرتابه پوځ ته دتیارسۍ امر وکړ او خپل اوږدواټني توغندي یې په جنوبي کوریا ، جاپان ، هاوای او ګوام جزیرو کې امریکایي اهدافو ته برابر کړل ، دشمالي کوریا مشرتابه وویل چې دا ګام یې تر هغه وروسته اخیستی کله یې چې ولیدل

دامریکا په پوځي تمریناتو کې دامریکا دهوايي ځواک پرمختللیو الوتکو B52 ګډون وکړ.

که چیرې شمالي کوریا واقعا نیت لري په امریکا برید وکړي آیا دا توان لري چې د امریکا پوځي تاسیسات په اغیزمنه توګه له منځه یوسي ، پوهان په دې باور دي چې شمالي کوریا په دې وروستیو کې خپل اوږدواټني توغندي په خورا پرمختللې بڼه عیار کړي دي ، دغه راز وروستیو پېښو ښودلې چې دا هیواد اټومي ځواک هم لري ، خو له دې سره سره یې پرې کتونکي وايي چې شمالي کوریا یوازې په جاپان ، جنوبي کوریا ، او دارام سمندر په امریکایي جزیرو ګوام او هاوای کې پرتې امریکایي پوځي اډې تر اورلاندې نیولی شي ، ځکه شمالي کوریا تراوسه داسې پرمختللي قاره پیما توغندي نلري چې امریکایي وچه په نښه کړي ، او په اغیزمنه توګه په کې اهداف وولي

د بدخشان د جهادي چارو له مرستيال مسؤل :

مولوي عبدالغني فائق سره مرکه

بدخشان ولايت دافغانستان په شمال ختيځ څنډه کې موقعيت لري ، چې لويديځ ته يې دتخار او پنجشير ولايتونه ، جنوب ته يې نورستان ولايت او دپاکستان هيواد يوه برخه ختيځ يې دچين هيواد يو څه حصه او شمال ته يې دتاجکستان هيواد پروت دی ، بدخشان دافغانستان له سترو ولاياتو څخه شميرل کيږي چې ۴۴۰۵۹ کيلومتره مربع مساحت لري ،اونفوس يې د وروستيو شميرنو له مخې اته لکه درويشت زره تنه ښودل شوی دی بدخشان په مرکز فيض اباد سربيره ۲۸ ولسوالۍ يا اداري واحدونه لري ، بدخشان دطلا ، فيروزې ، زمردو او لاجوردو دمعدنونو دلرلو له امله دافغانستان او نړۍ په سطحه ډير شهرت لري ، دغه راز دا ولايت داوبو ډير پراخ منابع لري او دنوښاغ په نامه لوړه څوکه يې دافغانستان ترټولو جګه غرنۍ څوکه بلل کيږي .

بدخشان چې دهندوکش د غرونو لړۍ يې له منځه تيره شوې ده يو غرنۍ ولايت دی ، ډيرې سيمې يې غرونو او غونډيو پوښلې دغه راز ګڼ شمير لوی او واړه سيندونه هم لري چې دې سيمې ته يې ځانګړې ښکلا وربښلې ده .

دبدخشان ولايت خلک چې زياتره مالداران او ځمکوال غريب کاره خلک دي ، له اسلامي ارزښتونو او ديني علم سره په مينه او علاقه ځانګړی شهرت لري ، له همدې امله خو دې خاورې په تاريخي لحاظ ښه ښه علماء ، مشايخ ، عارفان ، مجاهدين او مبارزين هم درلودلي دي .

په دې وروستيو کې دبدخشان په ولايت کې جهادي عملياتو هم تر اټکل زيات پراخ شوي او زيات شوي دي ، چې په تيرو اوو کورنيو رسنيو کې ورباندې ډيرې تبصرې کيږي ، دبدخشان په وردوج ولسوالۍ کې سږکال دمجاهدينو په بريدونو کې دشمن ته خورا ستر تلفات اوښتي او دښمن يې له سختې وارخطايي سره مخامخ کړی دی ، داچې

د بدخشان په ولایت کې تازه جهادي وضعیت څنګه دی او مجاهدین کومې لاسته راوړنې لري ددې ولایت لپاره د مجاهدینو نائب مسؤل مولوي عبدالغني فائق سره مو مرکه کړې چې تاسو قدرمن لوستونکي یې کتنې ته راغواړو.

پوښتنه: محترم فائق صاحب که له هرڅه وړاندې خپل ځان زموږ لوستونکو ته ورو پیژنئ؟

ځواب: نحمده ونصلي علی رسوله الکریم امابعد

زما نوم مولوي عبدالغني فائق د بدخشان ولایت د داریم ولسوالۍ اوسیدونکی یم او همدا اوس د بدخشان په ولایت کې د جهادي چارو د معاون په حیث دنده اجراء کوم.

پوښتنه: په بدخشان کې که د جهاد د تازه وضعیت په اړه معلومات راکړئ، مهرباني به مو وي؟

ځواب: لکه څنګه چې تاسو له مطبوعاتو خبریږئ، سږکال په بدخشان ولایت کې جهادي کارونه په ډیرا نوي انداز او نوې روحیه سره پیل شوي دي، په داسې حال کې چې مجاهدین د بدخشان په په وردوج، راغ، بارک، کشم، جرم، یمګان، یفتل بالا، شهداء او ارګو ولسوالیو کې ځواکمن، علني او اغیزمن فعالیت لري، دیادو ولسوالیو ډیر سیمې د مجاهدینو په کنټرول کې دي، په دې لړ کې د وردوج ولسوالي چې ډیرا ستراتیژیک اهمیت لري او پراخه سیمه ده له مرکز پرته ټوله د مجاهدینو په ولکه کې ده.

د بدخشان د نورو ولسوالیو له جملې تشکان، درایم، یفتل سفلی او شهربزرګ هغه سیمې دي چې مجاهدین په کې د منځنی کچې فعالیت لري یعني په نیمه علني شکل په کې فعال دي.

د مجاهدینو په مقابل کې چې خارجي او کورنیو دښمنانو تر اوسه کوم عملیات کړي، یا یې دسیسې جوړې کړې دي ټولې له شکست سره مخامخ شوي او هیڅ لاسته راوړنه یې نه ده درلودلې، په بدخشان کې لله الحمد د مجاهدینو شمیر هم ډیرا زیات شوی دی، او د اولسي ملاتړ کچه هم تر بخوا ډیره ښه شوې ده

پوښتنه: تاسو په بدخشان کې د تازه جهادي جریاناتو په اړه وویل ښتیا هم په وروستیو څو اونیو کې په بدخشان کې د مجاهدینو د ښکاره بریاوو له امله دښمن سخت وارخطا دی، حتی یو ځل دښمن داسې ویره وښوده چې کیدای شي دا ولایت بشپړه د مجاهدینو لاس ته ولویږي، که ددې تازه پیښو او لاسته راوړنو په اړه لږ په تفصیل معلومات راکړئ؟

ځواب: په بدخشان کې دغه تازه بریاوې له هغه وروسته لاسته راغلې کله چې یو نیم میاشت وړاندې ددې ولایت په وردوج او جرم ولسوالیو کې مجاهدینو په هماهنګ شکل په پراخ ډول د دښمن په ضد تهاجمي عملیاتو لاس پورې کړې.

په دې لړ کې د بدخشان په مختلفو سیمو کې مجاهدینو ډیرا سترې لاسته راوړنې

درلودې، چې دلته به يې څو مهمو پېښو ته اشاره وکړو.

په ۲۰۱۲/۲/۲م نېټه مجاهدينو دوردوج ولسوالۍ دغنيو په سيمه کې داجيرې اردو په کتاره برید وکړ، چې په نتيجه کې يې ددښمن ۱۵ عسکر مړه او ۱۲ نور ژوندي ونيول
شول، په دې جګړه کې مجاهدينو ددښمن ۸
رينجر موټر وسوزول او ۲ روغ رمټې غنيمت کړل، په دې جګړه کې مجاهدينو لسګونه ميله سپکه وسله هم غنيمت کړه، چې په بدخشان کې په دښمن سږکال لومړنی ستر برید وو.

دمارچ په اتمه دښمن په وردوج کې لومړني ځوابي عمليات پيل کړل، خو دهمدې ولسوالۍ ديخشيره په سيمه کې دمجاهدينو له سخت مقاومت سره مخامخ شول، او عبرتناک شکست يې وخوړل، دښمن په ولسي سيمو انتقامي برید وکړ او دهاوان په ډزو يې ۱۰ تنه ملکي خلک چې ښځې او ماشومان هم په کې وو شهيدان او ټپيان کړل.

دمارچ په لسمه نېټه مجاهدينو دجرم ولسوالۍ په مرکز پراخ برید وکړ، چې په نتيجه کې يې ددښمن ديوه ظالم قومندان قربان په نامه ګڼ عسکر ووژل شول، او ۱۲ تنه يې ټپيان شول مجاهدينو ديوه پيکا او يوه راکټ په شمول ۷ ميله وسله غنيمت کړه، او دولسوالۍ دمرکز په شاوخوا يې ددښمن واک پای ته ورساوه.

دروان کال دمارچ په ۱۷ نېټه دوردوج ولسوالۍ په قريه زوړبې سيمه کې مجاهدينو ددښمن له عسکرو يوځل بيا خوړا سخته جګړه وکړه، تردې مهال چې ددښمن مکرر بريدونه له شکست سره مخامخ شوي وو، دښمن يوځل بيا برید وکړ، چې دمجاهدينو دمقاومت په نتيجه کې ددښمن ۲۰ عسکر مړه يو ټانګ او ۲ رينجر يې وسوزيدل او پاته عسکر يې په تيښته له سيمې لاړل په دې جګړه کې مجاهدينو ۳۰ ميله وسلې غنيمت کړې، چې ګڼ شمير ايم ۱۶ ماشيندار هم په کې وو په دې جګړه کې دمجاهدينو يو سرګروپ اميرالله او دوه نور مجاهدين په شهادت ورسيدل

دمارچ په ۱۹ نېټه په وردوج کې مجاهدينو ددښمن دتيښتې په تعقيب هڅه وکړه ترڅو دښمن له دې ولسوالۍ څخه په بشپړ ډول وباسي، له همدې امله مجاهدينو د ماښام په ۷ بجې دوردوج مرکز ته څېرمه دغنيو او آب جال په سيمو کې ددښمن په پوستو او مرکزونو پراخ برید پيل کړ چې دشپې تر ۱۲ بجو يې ددښمن ۷ پوستې فتحه کړې، په دې عملياتو کې مجاهدينو ددښمن ۱۰ موټر وسوزول، او د ۴ پايه دهشکو په ګډون يې ګڼ شمير سپکې وسلې او پوځي وسائل هم غنيمت

کړل، په دې جګړه کې دښمن ته خوړا دروند زیان واوښت.

تر دې پېښې درې ورځې وروسته دمارچ په ؟؟ مه چې دښمن پوځل بیا په وردوج ولسوالۍ کې پوځي عملیات شروع کړل، د وردوج په دوو سیمو (قریه شیدان او آبچین) کې دمجاهدینو لخوا سخت بریدونه ورباندې وشول، چې لسګونه عسکر یې ووژل شول، ډیر یې په زخمي حالات کې دجګړې په ډګر پاته شول، څو تنو نور یې مجاهدینو ته په لاس ورغلل، دوردوج په دې وروستۍ جګړه کې مجاهدینو ته ددښمن ۵۰ میله مختلف النوع وسلې په لاس ورغلې دي، چې یو درانزکوف او ګڼې شمیر داجیرې اردو ایم ١٦ ټوپکونه هم په کې شامل دي.

تر دې عملیاتو وروسته هم دمجاهدینو عملیاتو په بدخشان کې دوام کړی، په ځانګړي ډول په جرم او وردوج ولسوالیو کې جهادي عملیات دهرې ورځې په تیریدو سره دقوت په حال کې دي او تقریبا هره ورځ مجاهدین عملیات ترسره کوي.

پوښتنه: دروان کال دمارچ دمیاشتې په ؟؟ نیټه دکابل رژیم ادعا وکړه چې دبدخشان په وردوج کې یې ۴۰ تنه مجاهدین په شهادت رسولي، او دهغوی مراکز یې بمبار کړي دي، آیا دې خبرې واقعیت درلود او بله دا چې په دې وروستیو بریالیو عملیاتو کې دمجاهدینو تلفات څومره دي؟

ځواب: باید ووایم چې دښمن په بدخشان کې له سخت شکست سره مخامخ دی، نو ځکه هڅه کوي تبلیغاتي لوبه ګرمه وساتي، په هغه نیټه چې دښمن په مجاهدینو دبمبار او تلفاتو ادعاء کوله دښمن ته په وردوج کې سخت زیان اوښتی وو، نو هڅه یې کوله په دا ډول ادعاء سره خپله ناکامي پټه کړي.

سره له دې چې دجهاد او شهادت سره لازم او ملزوم دي، او هره بریا قرباني غواړي، مګر لله الحمد په بدخشان کې دجهادي بریاوو په نسبت دمجاهدینو تلفات خوړا لږ او په نشت حساب دي، تراوسه په وردوج او جرم کې زموږ دتازه عملیاتو دشهیدانو شمیر ترلسو تنو نه زیاتیږي، او څو تنو نور ملګري مو ټپیان شوي دي، خو ددشمنان تلفات خوړا ډیر دي.

پوښتنه: ویل کیږي چې دبدخشان په تازه جګړو کې ملکي خلکو ته هم زیان رسیدلی په دې اړه که معلومات راکړئ؟

ځواب: په تأسف باید ووایو چې دښمن دنورافغانستان غوندې په بدخشان کې هم دخپل پوځي شکست غچ له ملکي خلکو اخلي، دوی یوځل دوردوج په یخشیره سیمه کې په ملکي کلیوالو سیمه دهاوان او توغندیو بریدونه وکړل او ګڼو کسانو ته یې مرګ ژوبله واړوله، بل ځل یې دمارچ په ۱۵ نیټه په همدې سیمه کې ۲۰۰ کورنۍ په سخت یخ او واورو کې په جبر سره کډه کولو ته اړ کړې، او له خپلو کورونو یې بې ځایه کړې، چې دا ددښمن یو بل مشهود جنایت وو.

دغه راز کله چې دښمن دوردوج په مختلفو سیمو کې سخت شکست وخوړ نو ددې ولسوالۍ په مختلفو کلیوالو سیمو یې راندہ

هوايي بريدونه پيل كړل، دمارچ په ۲۸ او ۲۹ مه دوردوج په ولسوالۍ كې ۱۰ تنه ملكي خلك چې سپين ږيري هم په كې شامل وو، ددښمن په بې رحمانه بمبار كې شهيدان شول او ټپي

نور ټپيان شول.

پوښتنه: دښمنان تبليغات كوي او كوښښ كوي دبدخشان جهاد ته بېل رنګ ور كړي، كله وايي په دې سيمه كې داسلامي امارت مجاهدين نشته بلكې دمنځنۍ اسيا مهاجرينو دلته سنګر نيولى، كله وايي دنشه يي توكو قاچاقچيانو دلته وسلوال مقاومت شروع كړى او كله نور ډول ډول تبليغات كوي، كه دا راته ووايast چې دشمن ولې دبدخشان دپېښو په اړه دومره حساس دى او ولې داسې تبليغات كوي؟

ځواب: بدخشان ولايت دافغانستان په شمال ختيځ كې يوه خورا مهمه سيمه ده، د او ولايت په دې سرېيره چې دافغانستان له دريو ګاونډيو ملكونو سره پوله لري، له ستراتيژيك اړخه خورا پېچلې او غرنۍ سيمه ده، دښمن دا وېره لري كه چې يوځل په دې ولايت كې جهادي پاڅون نور هم عام شي او دولايت ولسوالۍ دمجاهدينو لاس ته ولوېږي بيا به يې كله هم ترې ونه نيسي، ځكه په دې وروستيو جګړو كې هم دا خبره تجربه شوه چې دمناسبې اراضي له امله دمجاهدينو په خلاف دكورنيو او خارجي عسكرو عمليات خورا ناكام وو، دوى هرډول زور وآزمايه خو مجاهدين يې حتى د وردوج ولسوالۍ له يوې محدودې سيمې هم په شاه نه كړل.

بله دا چې دښمن غلط تبليغات كوي، له دې لارې غواړي دبدخشان جهاد بل ډول تعريف كړي او په اړه يې عامه باور وغولوي، ځكه په بدخشان كې جهادي خوځښت ددښمن په هغو ټولو غلطو تبليغاتو دبطلان كرښه راتيروي چې غواړي داسلامي امارت په مجاهدينو پسې كوك.

مثلا دوى وېل چې ديرغلګرو او اجيرانو په خلاف روان جهاد يوازې دافغانستان دپښتنو قومي جنګ دى، او عقيدوي افغانستان شموله انګيزه نلري، مګر بدخشان ولايت چې هيڅ پښتانه اوسېدونكي نلري، دولس له منځه دمجاهدينو راپورته كېدل دا ښيي، چې روان جهاد يوازې ديوه خاص قوم شخصي جګړه نه ده، بلكې دا كفري يرغلګرو په خلاف داسلامي نظام د اقامې لپاره دافغانستان د ټولو مؤمنو اولسونو مشترك عقيدوي او ديني مكلفيت دى، چې بنسټ يې يوازې په عقيده استوار دى.

بله دا چې ښوا به يرغلګرو او دهغوى اجيرانو وېل چې په افغانستان كې جنګېدونكي

مجاهدین له پاکستان سره اړیکې لري او له پاکستان څخه افغانستان ته اوړي ، مګر کله چې دبدخشان غونډې په یوه شمالي ولایت کې چې له پاکستان سره هیڅ کومه داستفادې وړ لار نلري ، دهندوکش او همالیې غرونه یې ترمنځ حائل دي ، هلته جهادي خوځښت دوام مومي ، ددښمن ټول تبلیغات باطلوي .

باید یوځل بیا ووایم چې دبدخشان ولایت جهادي خوځښت داولس له متن څخه راپورته شوی ، ددې ولایت علم دوسته او جهادپروره خلک په ټینګه دمجاهدینو ترڅنګ ولاړ دي ، همدا اوس زموږ تخمیني احصایه ښیي ، چې دبدخشان دعامو خلکو اتیانیصده له مجاهدینو سره یا عملا ولاړ دي او یا ورسره خواخوږي لري ، مرسته ورسره کوي .

پوښتنه: محترم مولوي صاحب په پای کې که دبدخشان ولایت دمجاهدینو په استازیتوب څه پیغام لرئ ، ترڅو یې دخپلې نشریې له لارې مخاطبینو ته ورسوو .

ځواب: دافغانستان دعامو خلکو په ادرس باید ووایم چې په دې وروستیو کې دښمن ساره جنګه /تبلیغاتو ته سخت زور ورکړی ، له مختلفو لارو او نیرنګونو په استفاده هڅه کوي ، داسلامي امارت مجاهدین بدنام کړي ، ترنورو یې وتړي ، دمجاهدینو داعیه کم ارزښته وښیي دغه راز دافغانستان دورونو قومونو ترمنځ دنفاق اور بل کړي .

خو دافغانستان مجاهد اولس باید متوجه واوسي ، اسلامي امارت او مجاهدین ددې په ځای چې ددښمن دتبلیغاتو له عینکو یې یې وګوري په خپله یې کړنې او کردار ته نظر وکړي ، دې ته نظر وکړي چې مجاهدین رښتیا دنورو لپاره دومره درنې قربانۍ ورکوي ، او که یوازې دخپلې عقیدې او اسلام غم ورسره دی ، دغه راز اسلامي امارت رښتیا دافغانستان تربوې سیمې او یوه اولس پورې تړلی او که له بدخشانه ترنیمروزه ، له هراته ترپکتیا دټولو سیمو ټول افغانان په کې برخوال دي .

ان شاءالله که افغانان ددښمن په تبلیغاتو باور ونه کړي او یوازې عیني حقائقو ته وګوري دمجاهدینو په اړه به دوی هیڅ پوښتنه پاته نه شي ، ځکه مجاهدین هیڅ کومه بیځلې داعیه او پټه برنامه نلري بلکې یوازې داسلامي نظام دحاکمیت ، دجهاد دارمانونه دپوره کولو ، دشهیدانو دهیلو درسته رسولو او دخپل اسلامي وطن دازادی دترلاسه کولو لپاره راپورته شوي دي .

سلطان صلاح الدین ایوبی

مؤلف: سید ابوالحسن ندوی

ترجمه: عبدالقدوس دهقان

جنگ‌های صلیبی خطری جدید برای اسلام

پیوسته به گذشته ....

مکارم اخلاق

سلطان / در کنار زهد پرهیز کاری و پاکدلی اش به صفات حسنه و اخلاق پسندیده ای همچون عدل، عفو و بخشش، جود و سخا، بردباری، مروت، صبر، قاطعیت، پایمردی و استقامت و غیره منصف بود، قاضی ابن شداد می گوید:

«سلطان در روزهای دوشنبه و پنجشنبه در مجلسی که فقها، علما و قضات حضور می یافتند و برای دادبخشی و دادرسی به دادخواهی و شکایات مردم می نشستند، در آن دو روز در به روی همه گشوده بود و همه مردم اعم از کوچک و بزرگ پیرزنان فرتوت و پیرمردان سالخورده، امکان حضور و دادخواهی داشتند، علاوه بر این که هیچگاه در به روی مظلومان و ستمدیدگان بسته بند و هر لحظه که مراجعه می کردند به آنان رسیدگی می شد، اما سلطان به دادرسی در این دو روز چنان پایبند بود که نه در حضر آن را ترک می نمود و نه در سفر، و هرگز ستمدیده، شاکی، مدعی و طالب حقی را از خود نراند، و با این وجود همیشه در ذکر و تلاوت قرآن مشغول بود و بر آن مواظبت می کرد، هرگاه شخصی به او شکایت می کرد با او می ایستاد به درد دل و حکایت ستمی که بر او روا داشته شده گوش فرا می داد و به آن رسیدگی می نمود، من خود شاهد بودم که روزی مردی از اهل دمشق به نام «ابن زهیر» از «تقی الدین» برادرزاده سلطان نزد وی شکایت نمود، با این که «تقی الدین» نزد سلطان بسیار محبوب بود و منزلتی ویژه داشت، سلطان او را به دادگاه احضار نمود، و در برابر حق به مقام و منزلت او هیچ اعتنایی نکرد»(١).

سلطان / بردباری و حلم عجیبی داشت، تاریخ نگاران از نیروی تحمل و برداشت و شدت بردباری و صبر سلطان بر ناملایمات و احسان به کسانی که به وی بد کرده اند حکایاتی نقل نموده اند که اگر از مردم عادی نیز حکایت می شد جای بسی تعجب و شگفتی بود، چه رسد به پادشاهی مقتدر و سلطانی قدرتمند!! روزی سلطان / آب آشامیدنی طلب نمود، اما در آوردن آب تأخیر کردند، دوباره خواسته اش را تکرار نمود و حتی تا 5 مرتبه آب طلب نمود، اما بازهم از آب خبری نبود، آخرالامر سلطان / گفت: برادران من دارم از تشنگی می میرم، آنگاه آب آوردند و سلطان نوشید و هیچ کسی را هم ملامت ننمود، یک مرتبه پس از بیماری طولانی به حمام رفت تا استحمام کند، اما آب حمام بسیار داغ بود، آب سرد طلب نمود، خادم آب آورد و ظرف بزرگی پر از آب و در دست خادم بود بر سر سلطان افتاد و تنها با لطف خداوند بود که از مرگ نجات یافت، اما سلطان بیش از این چیزی

(١)- النوادر السلطانیه، ص11.

نگفت که هر گاه قصد کشتن مرا داشتید مرا هم خبر کنید! خادم از ایشان معذرت خواست و سلطان / نیز دیگر حرفی نزد. قاضی «ابن شداد» دربارهٔ گذشت سلطان از امراء وسعه صدر و بردباری وی حکایات زیادی نقل کرده است»(۲).

قاضی «بهاءالدین» در باره عفو و حلم سلطان و گذشت از سربازان و همراهانش داستان های متعددی ثبت کرده است(۳).

بخشش و سخاوت سلطان / به قدری بود که آنگونه که ابن شداد می گوید، بسا چندین ایالت و اقلیم را یکجا بخشش می کرد. پس از فتح «آمَد» «ابن قره ارسلان» از سلطان / خواست که «آمَد» را به او ببخشد، و سلطان نیز چنین کرد. من خود دیدم که در قدس شریف دسته هایی نزد وی گرد آمده بودند. سلطان / قصد داشت به سوی دمشق حرکت کند، در آن هنگام در خزانه چیزی وجود نداشت که به آن دسته ها بدهد، من در این باره با ایشان صحبت کردم، ایشان برخی از وسایل بیت المال را فروختند و قیمتش را بر آنان تقسیم نمود و حتی یک درهم نیز از آن باقی نماند. مسؤلان بیت المال و خزانه داران چیزهایی را برای حالات اضطراری و مصایب و مشکلات غیر مترقبه پنهان می کردند. زیرا می دانستند که اگر سلطان آنها را ببیند حتماً آنها را خرج می کند. روزی از وی شنیدم که در میان سخنانش چنین گفت: شاید میان مردم افرادی باشند که طلا و خاک در نظر شان یکسان باشد. گمان می کنم منظورش از این سخن خود وی بود(۴).

ابن شداد در جایی دیگر می گوید:

«سلطان / بسیار مروت و حیا داشت. بخشنده و سخاوتمند و با میهمانان گشاده رو بود. اگر کسی نزدش می آمد، گرچه کافر هم می بود به او احترام و اکرام می کرد. من دیدم که شاه «صیدا» در «الناصره» نزد سلطان آمد و ایشان وی را احترام و اکرام کرد. و با وی غذا خورد و با این حال بسیاری از محاسن و ویژگی های اسلام را بر ایش بر شمرد و او را به اسلام دعوت داد».

سلطان / روح بلند و بخشنده ای داشت و نرم دل و مهربان بود. با مظلومان و ستمدیدگان غمخواری و همدردی می کرد و برای رفع مشکلات شان می کوشید. حکایتی که ابن شداد نقل نموده گویای این مطلب و مؤید آن است او می گوید:

«روزی من در مصاف با فرنگیان همرکاب سلطان بودم. یکی از پیشتازان سپاه زنی رنگ پریده و بیمناک را نزد سلطان آورد که بسیار می گریست و دست های گره خورده خود را بر سینه می کوفت. پیشتاز لشکر گفت: این زن از نزد فرنگیان به سوی ما آمد و درخواست نمود که او را نزد شما بیاوریم و اکنون او را آورده ایم. سلطان / به مترجمش گفت: از او بپرسد که چه کاری دارد؟ زن گفت: دیشب راهزنان به خیمه ام حمله کردند و دختر بچه ام را دزدیدند. دیشب را تا صبح به گریه و زاری پرداخته ام. شاهان فرنگ به من گفتند: سلطان بسیار رحم دل و مهربان است تو را نزد او می فرستیم. نزد سلطان برو و دختر بچه ات را از او طلب کن. بدینگونه مرا نزد شما فرستادند و من از شما می خواهم که دختر بچه ام را به من باز گردانید. دل سلطان به حال آن زن سوخت و اشک از چشمانش سرازیر شد و مروتش به جوش آمد. مأموری به بازار فرستاد تا از دخترک پرس و جو کند و هر کسی او را خریده باشد قیمت دخترک را به او باز دهد و دخترک را بیاورد. دیری نگذشت که مأمور در حالی که دخترک را بر شانه هایش نشانده بود آمد. همین که چشم زن به دخترک افتاد خود را بر زمین انداخت و چهره اش را به خاک مالید و مردم نیز از ستمی که به او روا داشته شده بود، می گریستند. زن نگاهش را به آسمان بلند کرده بود. نمی دانیم که چه می گفت: سپس دخترکش را به او سپردند و او را به لشکرگاه فرنگیان رسانیدند»(۵).

ابن شداد می گوید:

---

(۲)- نگا: النوادر السلطانیه و کتابهایی که در باره سیره نگاشته شده است.

(۳)- النوادر السلطانیه، ص21-24.

(۴)- النوادر ص،13-14.

(۵)- النوادر، ص26.

«هر گاه یتیمی نزد سلطان آورده می‌شد بر او ترحم می‌نمود، و از وی دلجویی می‌کرد و به او بخششی می‌داد و مصیبت و اندوهیش را سبک می‌کرد، و اگر یتیم سرپرستی قابل اعتماد داشت او را به سرپرستش می‌سپرد تا او را سرپرستی و کفالت کند و در تربیتش بکوشد، و هر گاه پیرمردی سالخورده را می‌دید بر او ترحم می‌نمود و به او عطایی می‌داد و مورد لطف و احسانش قرار می‌داد»(٦).

مردانگی و سوارکاری

آنچه قاضی بهاءالدین از سلطان / نقل می‌کند از صبر و استقامت وی در برابر سختی‌ها و مشکلات حکایت دارد، او می‌گوید:

«در «عکه» بسیار بیمار بود و بدنش از کمر گرفته تا زانو یکدست و به گونه‌ای دانه و آبله شده بود که نمی‌توانست راست بنشیند و در خیمه به یک پهلو تکیه زده بود، و بدین جهت نمی‌گذاشت که سفره غذا را جلویش پهن کنند و دستور می‌داد که آن را میان مردم تقسیم کنند، اما با این وصف باز هم در جنگ بود و نزدیک دشمن خیمه زده بود و خود دسته‌های میمنه و میسره و میانی سپاه را برای جنگ ترتیب می‌داد و از سپیدهٔ صبح تا غروب بر پشت اسب سوار می‌شد و میان صفها می‌گشت و بر شدت درد و سوزش آبله‌ها استقامت و صبر می‌نمود و من از او بسیار شگفت زده بودم و چون اظهار تعجب می‌کردم، می‌گفت: هر گاه بر اسب سوار می‌شوم دیگر درد احساس نمی‌کنم تا این که دوباره از اسب پایین بیایم، و این عنایتی است از جانب پروردگار»(٧).

در معرکه‌ای دیگر با وجود بیماری تا غروب آفتاب بر دشمن تاخت و چون شب شد برای او خیمه‌ای برپا شد. قاضی ابن شداد می‌گوید:

«آن شب با هم بودیم، من و پزشک سلطان به تیمارداری و پرستاری وی پرداختیم و او را سرگرم می‌کردیم. سلطان اندکی به خواب می‌رفت و دوباره از خواب می‌پرید. تا این که صبح دمید و بوق نواخته شد. سلطان و در پی ایشان تمامی لشکر بر اسب‌ها سوار شدند و به مصاف دشمن رفتند. دشمن به خیمه‌های خود در کناره غربی نهر عقب‌نشینی کرد. مسلمانان آنان را به تنگنای سختی گرفتار کردند و سلطان / در آن روز تمامی فرزندانش را که حضور داشتند به خط مقدم فرستاد. و تمامی کسانی را که نزدش بودند می‌فرستاد تا این که کسی جز من و پزشک باقی نماند. سلطان / با بیماری خود و تمامی لشکر تا غروب در برابر دشمن ایستادگی کردند و شب نیز به آنها دستور داد در حالت آماده‌باش شب بگذرانند و ما نیز به جای دیشبی خود باز گشتیم»(٨).

سلطان / رادمردی شجاع بود که در شجاعت و دلیری و شهامت ضرب المثل و زبانزد خاص و عام بود. قاضی ابن شداد در این باره می‌گوید:

«سلطان / حتماً روزی یک یا دو بار نزدیکی اردوگاه دشمن گشت می‌زد و هر گاه جنگ شدت می‌یافت میان صفها می‌گشت و از میمنه تا میسره می‌رفت و دسته‌های سپاهیان را ترتیب می‌داد، و به آنها دستور پیشروی می‌داد و آنان را در مواضع حساس و استراتژیک مستقر می‌ساخت و خود به دشمن نزدیک می‌شد و با آنان سخن می‌گفت. روزی به وی گفتم که شما در هر موقعیتی به استماع احادیث پرداخته اید، مگر هنگام جنگ، و اگر سرورم اینجا نیز

(٦)- النوادر، ص28.

(٧)- مرجع سابق، ص18.

(٨) نوادر، ص19-20.

چنین اجازه‌ای بدهند بسیار خوب است سلطان / اجازه دادند و کتاب حدیثی آورده شد و دو جزء از آن هنگام جنگ و میان صف ها قراءت و استماع گردید و ما بر پشت اسبها سوار بودیم، اندکی می رفتیم و لحظه‌ای می‌ایستادیم(۹). و «هیچگاه ندیده ام که سلطان / از کثرت نیروهای دشمنان هراسی به دل راه دهد(۱۰) «و در بسیاری از جنگ ها با دشمنی که آمارش بالغ بر 500 یا 600 هزار نفر بوده به جنگ پرداخته و خداوند او را بر آنان پیروز گردانیده، و توانسته است که بسیاری از آن را هلاک کند و بسیاری دیگر را به اسارت بگیرد».

«در شبی 70 و اندکی کشتی از دشمن در بندر عکه لنگر انداخت و من آنها را از عصر تا مغرب شمردم، و این امر از قوت نفس سلطان چیزی نکاست، بلکه باری مبارزه و مقابله با آن مصمم تر گردید»(۱۱).

«مسلمانان در جنگ شدید و سرنوشت ساز «عکه» شکست خوردند و پرچم‌ها به زمین افتاد، اما سلطان با افرادی اندک استوار ماندند و آخر کار به تپه‌ای پناه بردند، و سربازانی را که متفرق شده بودند جمع نموده و آنان را توبیخ و سرزنش نمود و برای حمله ای مجدد آماده ساخت، و سرانجام مسلمانان پیروز گشتند و 7000 نفر از دشمن را به هلاکت رسانید و سلطان / با وجود سپاه انبوه و مجهز

(۹)- النوادر، ص165.
(۱۰)- مرجع سابق، ص15.
(۱۱)- مرجع سابق.

دشمن تا آخر در برابر آنان استقامت نمود»(۱۲).

قاضی ابن شداد از سلطان / گفتاری نقل می کند که بر علو همت و اراده قوی و عزم آهنین و غیرت دینی سلطان دلالت دارد، او می گوید: روزی سلطان به من گفت: نمی‌خواهی که آرزوی قلبی ام را برایت بیان کنم؟ هرگاه خداوند فتح باقیمانده ساحل را برایم میسر کند، قصد دارم که شهرها را تقسیم نموده و توصیه‌های لازم را بکنم و خداحافظی کنم و بر پشت دریا سوار شوم و برای جهاد به جزیره ها و سرزمین‌ها دور دست بروم تا این که کافری بر روی زمین باقی نماند یا این که در این راه بمیرم»(۱۳).

علم و فضل سلطان

سلطان / عالم، فاضل و نسب شناس بود، قاضی ابن شداد می گوید: «سلطان / حافظ نسب ها و وقایع عرب ها بود، و علاوه بر این که به تاریخ و احوال آنان آگاهی داشت نسب‌های اسب‌های‌شان را نیز می‌شناخت، به عجائب، نوادر و شگفتی های دنیا علم داشت، از وی مطالبی استفاده می کردند که از دیگران ممکن نبود»(۱۴).

«برخی از تاریخ نگاران نوشته اند که ایشان کتاب «حماسه» ابی تمام را کاملاً از برداشت»(۱۵) «این پول» از اوایل زندگی سلطان چنین می گوید:

«طبعاً به علوم دینی متمایل بود، از علمای معاصر خود حدیث می شنید و در بارهٔ دلایل و راویان تحقیق می نمود و در مسایل فقه و تفسیر بحث می کرد، و علاوه بر این می کوشید که مذهب اهل سنت و جماعت را به حجتهای قاطع و دلایل قومی و ثابت مؤید کند»(۱۶).

(۱۲)- مرجع سابق.
(۱۳)- مرجع سابق.
(۱۴)- مرجع سابق.
(۱۵)- البدایه والنهایه، ابن کثیر، ج13، ص 5.
(۱۶)- السلطان صلاح الدین، ص262.

هندي سمندر کې د چين او هند ترمنځ د سيالۍ لوبه

(فرهاد)

هندي سمندر د نړۍ دريم لوی سمندر دی، چې د ټولې نړۍ د سمندرې اوبو ۲۰ سلنه اوبه لري، هم د نړۍ څو خورا مهمې سمندرې لارې لکه هرمز تنگی، سويس نهر، باب المندب، او د ملاکا په څېر سمندرې لارې پرې تېرې دي.

د هندي سمندر دسترا تيژک اهميت بل اړخ دادی چې دغه سمندر آسيا، منځنی ختيځ، او افريقا د نړۍ د دوه نورو وچو (اروپا او امريکا) سره نښلوي، له منځنې ختيځ اندونيزيا او برونائي څخه د تيلو دليږد لاره هم په دغه سمندر ده، په دې وجه د نړيوالې سوداگرۍ په هغو مهمو لارو کې راځي چې له لارې ئې سوداگري نه تو کې له آسيا ئې براعظم نه د اروپا او امريکا براعظم ورل کېږي.

اوس مهال دغه بحري لار د سېمې د دوه نوېو راټوکيدلو سيالانو ځواکونو (هند او چين) نه علاوه د نړۍ د نورو ځواکونو په ځانگړې توگه د امريکا لپاره هم د حياتې ارزښت بنه مونډلې.

د نړيوالو چارو د يوه کتونکي (رابرټ ډي کپلان) پر وينا: په راتلونکي کې به د نړيوالې سوداگرۍ ډېره سلنه د هندې سمندر له لارې ليږدول کېږي، په خاصه توگه د امريکا، چين او هندوستان مهمې گټې هم د دې لارې پورې تړلې دي، کپلان د راتلونکو نړيوالو منازعاتو رېښې د هندي سمندر څپو کې پټې وينې... چې ورته په کتو هند او چين دواړه په دې سمندر کې د مؤثر رول او د خپل، خپل نفوذ زياتولو هڅې چټک کړي.

دواړو هېوادشپه اوورځ يوه کړي چې په هندې سمندر کې خپل موجوديت د بل په وړاندې ثابت کړي، په ځانگړي توگه چين د خپل سمندرې ځواک د پياوړي کولو او غځولو باندې عملاً لاس پورې کړی دی او په "سېشلز" او "گوادر" کې د سمندري هډو جوړول هم ورته فرصت ورکوي چې ځان د هند په مقابل کې بنه پوره تقويه کړي، هم يې د سمندر غاړي او ساحلي هېوادو سره د خپلو ډيپلوماتيکو اړيکو پراخولو په هڅه کې دی.

د چين لخوا رواني هڅې د هند لپاره حيرانوونکي او له انديښنو ډک پيغام لري، ولې"

سېشلز" دچين په نسبت دهند ترزني لاندې واقع دی ،اوورته د دفاع لپاره دهند سمندري ځواک د چين په پرتله لنډ دی ، خوبيا هم چين هلته دهډې جوړولو کار پيل کړی دی ، ښکاره ده چين د سمندري غلوپه پلمه اوپه هغوئ دقابوموندلو لپاره ځان دهند په مقابل کې برلاسی کول غواړي .

چين په جنوب کې دڅو جزيروپر سردساحلي هېوادو (چې امريکائې ملاتړ کوي) شخړي لري ، بل چين په دې هم پوهيږي چې دامريکا د سمندرې ځواک سره يې ځواک ډغره نشي وهلی ،په وروستيو کې استراليا ته داوباماسفراوهلته ديوي لوي سمندري هډې جوړولو موخه هم دا ده چې امريکا هڅه کوي څودهند په سمندر کې دچين ځواک کمزوری کړي، په دې وجه چين ځان يوڅه دخپلو حريفانو اوسيالانو ترمنځ کلابند حسوي او دخپل سمندرې ځواک پياوړي کولو ّهوډ لري ، په ځانګړې توګه دامريکا او هند دځواک سره دتوازن فکرلري.

څنګه چې وړاندې مو ويل چې هند په "سيشلز " کې دچين لخوا دسمندرې هډې جوړولو اندېښمن کړی او ډار لري چې هسې نه دسمندرې غلو دمخنيوي په پلمه چين دخليج اوعدن پورې له ګزمي کولو تزوېري ګټې پورته کړي ...
دکارپوهانوپه وينا و دسمندري غلو په ډېريدو اړتيا ده چې چين په سمندر کې دوامدر ګزمه ولري ،هم دبلوچستان ګوادر بندر ګاه جوړولو لپاره چين اړدی چې خپل ځان په سمندر کې ځواکمن وښيې.

بي له شکه چين دصنعت له پلوه دنړی دلويو هيوادو په ډله کې ځای لري ، ددې لپاره دوامدار دانرجی واردولو ته اړتيا لري ، په خاصه توګه دتيلو دحمل ونقل لپاره دحساسو سمندرې تنګيو(لکه هرمز او ملاکا) نه دتيريدوپر مهال که هر هېوادهلته واک اوقبضه ولري هغه کولی شي چين ته دانرجی د ليږد مخه تپ کړي اوپه وړاندې يې موانع ايجاد کړي .

او داکارتربل هېواد ډېر امريکا کولی شي ،ولې دامريکا سمندرې بيړی هر وخت په دغو حساسوځايونو کې شتون لري ،نو په نړيواله توګه دغسې له ستونزو ډک حالت دچين لپاره واقعا هم له مشکلاتو ډک دی.

دهند په سمندر کې دچين اوهند د ګټو سيالي او ددې لپاره ددواړولوريو دګټو پرليسې تبارز ديوه نا ارام راتلونکي پيغام لري ، بريښې داسې چې دهريوه دحقوقودفاع دبل دحقوقو په بيه تمامېږي ،دامنيت له پلوه هره ستونزه وړه وي او که غټه ديوه لوی ټکر لامل کيدای شي ، بل داچې چين اوهند نوي راټوکيدلې ځواکونه دي ، په مخکې لوی اهداف لري ، هغوته درسيدو لپاره مجبوردي چې له ټکر او تصادم ځانونه لري وساتي، خو داهم يو روڼ حقيقت دی، چې دغه دواړه هيوادونه په چټکی ديوه داسې ميدان په لور ګامونه اخلي ، چې هلته ددواړو ترمنځ مخاصمت دهغه ميدان لازمي جزدی ، البته دمقابلې او ټکر وړاندې به ضروردغه دواړه سيالان هېوادونه له ترخو عواقبو نه داجتناب لارې چارې هم پېژني.

ګلورینې پاڼې

د درد جنازه

عبدالاحد حماد

درد په اوږو بار کړه له پرهاره جنازه
بیا وزي له دې ښاره ګنهګاره جنازه

غروب یې شو په برخه چې د غرب په خوا روان وو
د شرق په لمر خاته یې شوه تیاره جنازه

نن مړه دیموکراسي ده پاپ دې ناست بیا لاس ترزنه
شیطان وړي بیا د ستورو له انګاره جنازه

په تکه توره تنده به تور داغ د ماتې وړي
د پلار دې هم ده تللې په دې لاره جنازه

یو مست لونګین خوب یم د اشنا په څنګل وړی
له سره مې وتلې ده خماره جنازه

منم د شملورو به پوره وو په کې لاس
چې پورته دې له غاړو شوه زناره جنازه

نیمګړی التفات دی پام کړه لاس په خوله اېږده
اغیاره که مې ناخلې له آزاره جنازه

شهید د وصل خیاله په حماد پسې دې وړم
له دې خړو کوڅو له دې دیاره جنازه

له بهار سره خواله

بهاره سترې مه شې   قاري حبیب
ته به خبر نه یې چې زما او ستا په دې مېنه کې
په غرو ، رغو ، په اهلبندو ، په ورشوګانو باندې
دا لس یوولس کاله کېږي چې کلستر وریږي
په هر کلستر کې سل او شپږ شلې بمونه پټ وي
نیم یې چاودلي ، نیم ناچاود پاته دي
نو په شپنو او اوبورو دې غږ وکړه چې د هر پام وساتي
دلته د هر اهلبند او هرې ورشو
ترهرې تېږې ، کمر لاندې بم کمین نیولی
هسې نه ، خدای مه کړه ، لا قدر الله
له شوروي بمونو پاته پښې مو هم تالا کړې
داخل صلیب هم په یرغل راغلی
نو وایې بیا به مصنوعي اعضاء په چا جوړوو !!

. . .

بهاره سترې مه شې
ته به خبر یې او کنه چې کندهار یې لوټ کړ
د پنجوایي ، ژړۍ او ډنډ انګور یې تول وریبل
ارغند په خپلو اناري وینو کې ولمبېده
او د میوند په (کشمش خونو) لمبې وګرځېدې
نو د میوو سوداګران دې لږ په دې خبر کړه
چې هسې ځان دې د بخوا نه ستړیوي
هغه تاکان چې په ثمر یې دوی پیسې ګټلې
اوس د صلیب د زرهدارو تر چینونو لاندې
د شهادت رنګین خوبونه ویني !!

....

بهاره سترې مه شې
ته به خبر یې چې غربي دیموکراسۍ پښې له پرستن ایستلي
او د ذکورو ازادۍ نوې ریکارډ جوړ کړی
له څه مودې په دیموکرات نظام کې
په دری کلنو طفلکانو هم تیری دود شوی
بهاره خدای ومنه
سرکال شیخلي ، بشکې ، غاټول شنه نه کړې !!
هسې نه زمونږه ماشومانو ګلالیو ته بیا کار ومومي
نه چې د دوی سرو شرمښانو اربکیو ته بیا ښکار ومومي
بهاره خدای مه کړه ، سپیڅلي ماشومتوب مو بیا بې پته نه شي
چې لاریونونه بیا فایده نه کوي !!!

دیرغلګرو دتیښتې په ویاړ

مسجون

په پردیو مو تل کړي دي ترپکې
نه يې ټانګ شي ټينګيداى نه الوتکې

په يرغل او په بدنيت چې څوک راغلي
موږ ويستلي ترې وزرونه او ښکې

بارودي ټيکنالوجي راته هيڅ ښکاري
خداى راکړې حوصلې ارادې کلکې

ماشومتوب نه مو دښکار چل ده زده کړى
ګرځولي مو په غاړه دي غولکې

چې مو دام کې شي راګير بيا وتى نه شي
ترينه لارې د وتو شي نادرکې

دمسجون ټاټوبى خداى باندې ډير ګران دى
له سرزورو تل کې پاته وې څپلکې

دوينو نذرانه

چې دوينو نذرانه په ځلا راغله
دهيواد په اننګو کې رڼا راغله

سل مې واخله خو دسلو سر مې مه اخله
هرګه ! تم شه څه رنګينه سودا راغله

دشپبو اوښکو ولې يې کړې رارواني
په افق له تندر مخکې برېښنا راغله

درقيب ستر ګې مو پانې ، پانې ژوند له
له جلاله پرې څپه دحيا راغله

غزل

شمعه افغان

لاړو پسې وژړل او غرو ورپسې وژړل
ړنګ شول چينارونه ګودرو ورپسې وژړل

پاکه روح بښونکي مينه داسې نيمه خوا شوله
خپله دبيلتون ظالم لاسو ورپسې وژړل

لاړل بلبلان پرهر سينې له ګلابو څخه
څانګې ليونۍ شولې اغزو ورپسې وژړل

دومره ښايسته چې لحد حسن ترينه واخيستو
خپل ورباندې خوار شولو پردو ورپسې وژړل

خدايګو چې سرتورې يې دپټ په ټيکرو پټې کړې
داسې ککرۍ وې چې شملو ورپسې وژړل

ساندې او سلګۍ يې په قبرونو باندې تاو شولې
سرته په رفرف سپينو جندو ورپسې وژړل

څنګه به له داسې زندګۍ نه شمعه څوند واخلي
ډيرو ګلغوټيو پښتنو ورپسې وژړل

مفردات سعدی

داني چه گفته اند بني عوف درعرب
نسل بريده به که مواليد بی ادب

گ ر سفله بمال وجاه از آزاده به است
س گ نيز بصيد از آدميزاده به است

گوينده را چه غم که نصيحت قبول نيست
گ ر نامه رد کنند گناه رسول نيست

هر که گويند کلاغ چون باز است
نشنوندش که ديدها باز است

د غرب د مسلمانانو لپاره څه ډول اسلام غواړي

(مولوي عبدالهادي " مجاهد ")

غرب که له یوې خوا په ټوله نړۍ کې د اسلام او مسلمانانو په خلاف یوه هراړخیزه جګړه پیل کړې ده له بلې خوا بنه په شد او مد سره دا دعوه هم کوي چې غرب له اسلام سره دښمني نه لري. بلکه په اسلامي نړۍ کې دحکومتونو مرستې کوي، او غربي هیوادونه او مؤسسې د مسلمانانو ولسونو د ژوند دسطحې د لوړولو او هغوئ ته دخدمت کولو لپاره بنه ډیر پلانونه او پروژې لري. چې دا هر څه پدې دلالت کوي چې غرب له اسلام او مسلمانانو سره دښمني نه لري.

پور تنۍ دواړه خبرې هره یوه پر خپل ځای سمه ده. او هغه داسې چې غرب په خپل ذهن کې دوه ډوله اسلام لري، یو هغه اسلام چې د الله تعالی له لوري پر محمدصلی الله علیه وسلم نازل شوی، مسلمانانو د تاریخ په اوږدو کې منلی، له هغه یې دفاع کړې ده. او همدا دین مسلمانان د یو داسې امت په حیث معرفي کوي چې په خپل هر څه کې له نورو خلکو جلا او د خپل ایمان له امله تر نورو ټولو انسانانو غوره بولي. دغه اسلام هغوئ ته د شریعت د منلو او نورو خلکو ته دهغه د ر سولو امر کوي، دعوت د مسلمانانو وظیفه او د دعوت د رسولو په لاره جهاد فریضه بولي. شریعت یې په هر څه کې پوره دی، او له نورو دینونو او نظریاتو سره (پیوند کارۍ) ته ضرورت نه لري، له اسلامه پر ته نورو ټولو دینونو او نظریاتو ته (کفر) (جاهلیت) او (فتنه) وایي، او خپلو پیروانو ته امر کوي چې د (کفر) (جاهلیت) او (فتنې) په خلاف شرعي (قتال) او (جهاد) وکړي.

دغه اسلام (حق) یوازې په خپل ځان کې منحصر ګڼي، ځکه چې د ټولو پخوانیو منسوخ شویو اسماني دینونو (حق) او ښیګڼې یې په خپله غیږه راټولې کړې دي.

دوهم ډول اسلام هغه دی چې غرب د خپل (استشراقي) (استعماري) (تنصیري) او (پر اختیاغوښتني) دفهم، غوښتنو او مصالحو په رڼا کې د مسلمانانو لپاره جوړ کړی، او په اسلامي نړۍ کې یې د خپلو حلیفو نظامونو، مؤسساتو، او مفکرینو په توسط پر مسلمانانو ور تپل او مسلطول غواړي.

دغه دوهم ډول اسلام د (الهي وحیې) او (نبوي تعلیماتو) پر بنسټ نه بلکه یو (دیموکرات) دخلکو په خوښه جوړ شوی اسلام دی چې د قوانینو مصدر ور کې (قرآن او سنت) نه بلکه د (انسانانوعقل) او (داکثریت غوښتنې) دي.

دغرب دغه اسلام بنيآدموته يوازې د انسان په نظر ګوري ، ټول انسانان ور کې يو ډول حيثيت ،مر تبه او حترام لري. او د تفاضل (يو پر بل د بر ترۍ) ټول اسباب او عوامل ردوي. د ټولې نړۍ له خلکو سره په يو ډول (مشتر کو ارزښتونو) باور لري، او يو ډول بين المللي سياسي، حقوقي، او مدني قوانين مني .

دغرب پدې معرفي شوي اسلام کې د(جهاد)، (ولاء او براء) . او پر نورو اديانو او نظرياتو د (غلبې فکر) ته ځای نشته. دا اسلام کوم ځانګړی شريعت نه لري، بلکه په هغو (وضعي قوانينو) فيصله کوي چې انسانانو دخپل (عقل) او (ضرورت) پر بنسټ جوړ کړي دي .

پدې اسلام کې د(ښو) او (بدو) اخلاقو، افعالو او عقائدو تعيين د شريعت حق نه بلکه د انسانانو خپل حق دی. هر څه ته چې ښه وايي هغه (ښه) او هر څه ته (بد)و وايي هغه (بد) دي . په دې اسلام کې مسلمان کيدل (د اسلام د دين اختيارول) يو مکلفيت نه بلکه يو اختيار دی چې انسان په اسلام کې پاتې کيږي او که کومه نظريه لکه کمونيزم ، ليبر اليزم، ديموکراسي، هيومنزم، نشنلزم او يا کومه بله نظريه مني، خوپه هر صورت کې به انسان بيا هم مسلمان ګڼل کيدای شي که وغواړي چې (مسلمان) دې وګڼل شي .

دغرب له لوري دغه ډول جوړ شوی اسلام دغرب د (بشري حقوقو د نړيوالې اعلامې)له بې استثناء منلو سره هيڅ ستونزه نه لري، همدارنګه په ټولو هغو (ميثاقونو) او (تړونونو) عمل کول روا بلکه دمسلمانانو مکلفيت بولي چې د (ملګرو ملتونو) د اداري ، د (امنيت د شورى)، (ناټو)، (اروپايي اتحاديې) او نورو لويو سازمانو او ادارو له لوري رامنځته شوي دي.

پدې اسلام کې له ولسونو سره د روابطو او جنګ او سولې لپاره معيار (دين او عقيده)نه بلکه سياسي او اقتصادي مصالح دي. همدا رنګه پدې اسلام کې د جندر (جنس) فرق نشته، ښځې او نارينه ټول يو ډول حقوق او وجايب لري، او په هر څه کې سره برابر دي.

غر ب له هغه اسلام سره چې د الله تعالى له طرفه راغلی دښمني لري، خو ددې دوهم ډول اسلام د خپر اوي لپاره هم کار کوي ،او هم يې په اسلامي نړۍ کې له پيروانو څخه هر اړخيز ملاتړ کوي.

ددې لپاره چې دا موضوع مو د دلايلو په رڼا کې روښانه کړې وي په لاندې عنوانو يې ويشو :

له ريښتينې اسلام سره دغرب دښمني

غربيان په مجموعي ډول يا (يهودان) يا (نصر انيان) او يا هم ملحدان(دين نه منونکي) دي، او دا دريواړه طايفې د اسلام له شروع نه تر نن پورې له اسلام سره په جګړه کې دي ،چې د رسول الله صلى الله عليه وسلم په خلاف ديهودانو توطيې او داصحابانو په خلاف لښکر کشي ، داسلام په تاريخ کې صليبي جګړې، استعماري جګړې ، او دجهاد او ريښتني اسلام په خلاف روانه نړيواله جګړه يې ټول تاريخي شواهد دي.

قرآن کريم په ډيرو آيتونو کې اهل کتاب (يهود) او (نصارى) او نور کافران د الله تعالى او د مسلمانانو ددښمنانو په حيث معرفي کوي، او مسلمانان ديته هڅوي چې دهغوئ دښمنۍ ته تيار واوسي، او له هغوئ سره په هيڅ ډول دوستي ونکړي، ځکه چې هغوئ تر هغه د مسلمانانو له دښمنۍ لاس نه اخلي چې تر څو يې مسلمانان کافر کړي نه وي لکه چې الله تعالى فرمايي (ولن ترضى عنك اليهود ولا النصرى حتى تتبع ملتهم) البقره : ١٢٠.
ترجمه : (هيڅکله به يهود او نصارى له تا څخه خوشحاله نشي تر هغه چې دوئ په ملت پسې روان نه شې).

علماء وايي چې پدې آيت کې د (لن) ټکی درې مفهومه افاده کوي چې (نفي) (تاکيد) او (تأبيد) دي، يعني په يقيني ډول به دوئ هيڅکله لتاسې څخه تر هغه وخته راضي نشي تر څو مو چې د دوئ لاره نه وي خپله کړې .

الله تعالی په بل آیت کې له مسلمانانو سره د کفارو د تعامل په اړه فرمایي : (ولایزالون یقاتلونکم حتی یردوکم عن دینکم إن استطاعوا) البقره : ۲۱۷. ترجمه: (همیشه به کافران له تاسې سره جګړه کوي تر څو تاسې له خپل دین (اسلام) څخه مرتد کړي که چیرې دوئ پدې کار وتوانیږي).

دعربي ژبې علماء وایې چې ددې آیت د(ولایزالون) په تعبیر کې د (استمراري تجد) مفهوم پروت دی . پدې معنی چې جګړه به مستمره او دایمي وي خو په شکل او وسایلو کې به یې تبدیلي او نوی والی راځي .

قرآن کریم پدې دواړو آیتونو کې د(حتی) ټکی د مسلمانانو په خلاف د کفارو د ناراضي او دهغوئ دجګړې د (فاصل حد) په حیث ذکر کړی دی. پدې معنی چې که مسلمانان تر (حتی) پر دمخه حالت ټینګ ولاړ ول، او د کفارو پیروي یې نه کوله، نو دهغوئ په خلاف به د کفارو ناراضي او جګړه دوام لري. او په بیلابیلو ډولونو به د اسلام او مسلمانانو په خلاف ناراضي او جګړه دوام لري. خو که یې د کفارو دملت پیروي وکړه ، او دخپل دین داحکامو له عملي کولو وګرځیدل نو په هغه وخت کې به بیا د دوئ په خلاف د کفارو جګړې اومخالفت پای مومي .

د ریښتني اسلام په خلاف دغرب د معاصرو رهبرانو دریځونه

دمعاصر غرب سیاسي ، پوځي، او فکري رهبران هم په همدې ټینګار کوي چې مسلمانان باید د غرب (نظریات)،(نظامونه) (قوانین)، (فرهنګ)، او (ژوندبڼه) ومني. او که یې په رضا نه مني نو باید په زور او جبر ورباندې ومنل شي .

(رنډ کارپوریشن) چې په امریکا کې د امریکا نظام ته له امریکا څخه د دفاع لپاره د تحقیقاتو، مشورو ور کولو، او استراتیژ کو مطالعاتو لوی او مهم مرکز دی او دمعاصرې امریکا لوی رهبران اومفکرین یې غړي او مشاورین دي چې دهغوئ په دله کې د امریکا پخواني د دفاع وزیران (هارولډ براون) ،(فرانک کارلوچي) ،(ولیام پیري) ،(ډونالډرامسفیلډ) ، دملي امنیت پخواني لوی مدیران او مشاورین (سیکوکرفت)،(کندولیزارایس)، (زلمی خلیلزاد)، په دوهمه نړیواله جګړه کې دامریکایي پوځ لوی قوماندان جنرال (آرنولډ) ،د امریکا معاصر فیلسوف او مفکر (فرانسیس فوکویاما)، او د امریکا پخواني مشهور خارجه وزیر (هنري کیسنجر) شامل دي د امریکا لپاره د اسلامي نړۍ په اړه د پالیسۍ جوړولو ستر تحقیقاتي مرکز دی.

دغه مرکز په خپله هغه څیړنه کې چې په ۲۰۰۴ کال کې یې د (ډیموکراتیک متمدن اسلام) نامه خپره کړه دا تشخیصوي چې د مسلمانانو او غرب تر منځ به تر هغه کشمکش روان وي چې تر څو مسلمانانوغربي فرهنګ او ارزښتونه چې دغه مرکز یې (نړیوال فرهنګ او ارزښتونه)بولي نه وي قبول کړي.

څیړنه دغه مفهوم پدې ټکو کې بیانوي :

(له نړیوال فرهنګ څخه دمسلمانانو لیرې والی دهغوئ او د نورو ترمنځ د کړکیچ زمینه برابره کړې ده).

په پورتني عبارت کې که څه هم چې دمسلمانانو په خلاف دغرب دجنګ عامل چې دمسلمانانو له لوري دغرب دفرهنګ نه منل دي په ادبي الفاظو بیان شوی او په منافقانه ډول دغرب ته ور کې نړیوال فرهنګ ویل شوی خو ریښتنې معنی او مفهوم یې دا دی چې د مسلمانانو او غرب ترمنځ به جګړه او کړکیچ تر هغه دوام لري چې تر څو مسلمانانو (خپل فرهنګ) پرې ایښي او (نړیوال فرهنګ) یې خپل کړی نه وي . او هر کله چې د فرهنګونو دغه توپیر له منځه ولاړ شي نو په هغه صورت کې به کړکیچ هم په خپله له منځه ځي . او دا کټ مټ هماغه مفهوم دی چې الله تعالی په قرآن کریم کې په مخکنیو یادوشویو آیتونو کې بیان کړی دی .

د غرب او د اسلام ترمنځ دجګړې په اړه معاصر امریکایي مشهور مفکر او فیلسوف (ساموېل هنتګتن) چې د

(تمدنونو د ټکر) په نامه دجنجال پاروونکي مشهور کتاب مؤلف هم دی داسې وايي :

(داسلامي او غربي تمدن ترمنځ ټکر له ۱۳۰۰ کلونو راهيسې راروان دی . او دا ټولې پيړۍ د اسلام او غرب ترمنځ په مسلح کشمکش کې تيرې شوې او هيڅکله هم ددې جګړې اور ندی مړ شوی. ددې تمه نه کيږي چې دغه کشمکش به له منځه ولاړ شي، بلکه نور به هم زور واخلي، ځکه چې اسلام وينې بهوونکي تصور لري) .

دغه معاصر فيلسوف چې نظريات يې د امريکا په جنګي او ستراتيژيکو پلانونو کې مهم ځای لري په صراحت سره غرب او اسلام يو دبل دښمن معرفي کوي، او په ښکاره وايي چې دغرب او د اسلام ترمنځ دجګړې د دريدلو څه امکان نشته ، او علت يې هم دا ښيي چې اسلام له غرب سره جوړه نه مني . او له دخپلې بقا لپاره خپلو پيروانو ته د قربانۍ او وينو تويولو تصور ور کوي.

د ريښتني اسلام او غرب ترمنځ دجګړې دحقيقت او دوام په اړه هغه کميسون هم چې د (ستمبر د يوولسم) د پيښې په اړه يې تحقيق وکړ دی نتيجې ته رسيدلی چې له اسلام سره سوله نشي کيدای . دغه کميسون په خپل راپور کې ليکلي :

(دامريکا حقيقي دښمن اسلامي راديکال بنسټپال فکر دی . هغه چې د (ابن تيميه) او (سيدقطب) له افکارو يې سرچينه اخيستې ده. او لدې فکر سره په هيڅ ډول د سولې مجال نشته).

امريکايي محققينو ته دا ښه ور معلومه ده چې اسلام د (ابن تيميه) او (سيدقطب) د افکارو زيږنده نه ده، بلکه هغه دالله تعالی دين دی چې (ابن تيميه) او (سيدقطب) يې منونکي او پيروان دي ، خو دوئ دادواړه ځکه مشخص کړي چې دې دواړو هر يوه په خپل وخت کې د اسلامي فکر د (خالصيت) لپاره ژور کار کړی، او له اسلام څخه يې په خپل وخت کې (جاهلي تصورات) په خورا زورورتيا او معقوليت سره ځنډلي دي. او مسلمانان يې د(معاصر و جاهليتونو) په خلاف مبارزې ته هڅولي، او هغوئ ته يې د جاهليت په خلاف دمقاومت داسې يو روڼ تصور ور کړی دی چې له جاهليت سره ور کې دجوړ جاړي لپاره هيڅ ځای نشته .

امام (ابن تيميه) په خپل وخت کې ټول هغه (جاهلي تصورات)له اسلامي فکر څخه ليرې کړل چې جنګيزيانو د خپل مقدس قانون (ياسق) په بڼه کې داسلامي او غير اسلامي احکامواو تصوار توپه سره يو ځای کولو رامنځته کړي او له هغو څخه يې په اسلامي نړۍ کې خپلو رعاياوولپاره د ژوند تيرولو لائحه او قانول جوړ کړی وو.

او (سيدقطب) په شلمه ميلادي پيړۍ کې دغرب ټول هغه تاثيرات له اسلامي فکر څخه وغورځول چې غرب د(ديموکراسۍ) او نورو نظرياتوپه بڼه په اسلامي فکر کې ور داخل کړي ول.

که د اسلام او مسلمانانو په اړه د معاصر غرب درهبرانو دريځونو او ويناوو ته پام وکړو وبه وينو چې هغوئ په ښکاره د اسلام په خلاف خپله جګړه اعلانوي ،او غربيان دمسلمانانو په خلاف جګړې او دهغوئ دهيوادونو نيولو ته هڅوي.

د امريکا پخواني جمهور رئيس (ريچارډ نکسون)په خپلو يادښتونو کې دمسلمانانو په اړه وايي :

دمسلمانانو په اړه مونږ دحل يوازې دوه لارې لرو :
اوله دا چې له يوې مخې يې له منځه يوسو .
دوهم دا چې په مدني او سيکولر ټولنو کې يې ويلې کړو)).

همدارنګه د امريکا په خارجه وزارت کې د پلان جوړونې د څانګې پخواني رئيس او د منځني ختيځ لپاره د امريکا د يوه جمهور رئيس (جونسن) مشاور (ايوګين روستو) وايي :

((مونږ بايد پدې پوه شو چې زموږ او عربو ترمنځ اختلافات د دوو دولتونو او يا دوو ولسونو ترمنځ اختلافات ندي .بلکه دا د اسلامي نړۍ او مسيحي تمدن ترمنځ اختلافات دي . او د تاريخ حالات ددې ګواهي ور کوي چې امريکا دغربي نړۍ يو تکميلوونکی جز دی چې دغرب دفلسفې ، عقيدې او نظام د تکميل لپاره کار کوي، او دغه وظيفه امريکا په شرق کې د

اسلامي نړۍ، اسلامي فلسفې، او اسلامي عقیدې او دین په خلاف دجګړې په صف کې دروي. امریکا لدې پر ته بله لاره نلري چې په شرق کې داسلام په خلاف دیهوانو تر څنګ ونه دریږي، ځکه چې که امریکا لدې پر ته بله لاره غوره کړي نو بیا به یې خپلې ژبې، خپل فرهنګ، خپلې فلسفې او خپلو ټولو بنسټونو ته شاه کړې وي)).

(ایوګین روستو) په پورتني عبارت کې ددې نظریې اظهار کوي چې په اسلامي نړۍ کې د غربي اشغالګرو او یرغلګرو هدف د اسلام او اسلامي تمدن له منځه وړل دي، او ددې کار لپاره په شرق کې دیهودي دولت ټینګول اوملاتړ دغرب یو استراتیژیک ضرورت دی.

کله چې په تیره پیړۍ کې په مراکش کې د فرانسې جګړه اوږده شوه نو د فرانسې د پارلمان ځینې غړي د فرانسې خارجه وزیر (مسیوبیدو) ته ورغلل تر څو له هغه وغواړي چې دې جګړې ته د پای ټکی معلوم کړي. هغه ور ته په ځواب کې وویل:

((دا د هلال او صلیب ترمنځ جګړه ده)).

پدې معنی چې تر څو د مسلمانانو په منارو (هلال) پورت وي، او دغرب پر کلیساګانو (صلیب) ولاړ وي ونو دا جګړه به روانه وي.

دمسلمانانو په خلاف د جګړې او پر اسلامي نړۍ دتسلط په اړه د برتانیې پخواني صدراعظم (ګلادستون) وایي:

((تر څو چې قرآن د مسلمانانو په لاسونو کې وي اروپا به هیڅکله اسلامي نړۍ تر خپل تسلط لاندې رانه وستلی شي .او نه به اروپا په خپله په امن کې وي)).

د پورتني خبرې مطلب دا دی اروپا خو په هر صورت پر اسلامي نړۍ د تسلط هڅې جاري ساتي، خو ددې تسلط په مخکې خنډ د مسلمانانو په ژوند د قرآني تعلیماتو شتون او عملي کیدل دي، او تر څو چې مسلمانان د ژوند په چارو کې د قرآن له تعلیماتو لیرې نه کړای شي تر هغه به غرب خپل هدف ته ونه رسیږي.

غرب او په سر کې یې امریکا غواړي چې په هر قیمت چې وي باید د نړۍ خلک دغرب سیاسي، فکري، اخلاقي او اقتصادي ارزښتونه ومني. او که یې څوک په خپله خوښه نه مني نو باید په زور وربانديې ومنل شي.

د (جنګ او سولې لپاره په یوویشتمه پیړۍ کې د پنتاګون نقشه)

map :war and (The Pentagon's new peace in the twenty first century)

نومي کتاب لیکوال او د امریکا د دفاعي چارو کارپوه (Thomas P.M .Barnett) په خپل کتاب کې لیکي:

((د امریکا اوسنی نقش یوازې د ډیموکراسۍ او د بشر د حقوقو نشرول ندي، بلکه تر دې مهم د(پانګه وال نړیوالتوب)عملي کول دي چې باید د نړۍ په بیلابیلو برخو کې یې عملي کړي که څه هم چې په عملي کولو کې یې زور استعمال او دوسلې کارولو ته ضرورت پیښ شي)).

پر اسلامي نړۍ د امریکایي تسلط او دلته د امریکایي ارزښتونو د حاکمولو په اړه د امریکا د ملي امنیت پخوانی مشاوره او د (بوش) دوخت د امریکا خارجه وزیره هم وایي چې:

((مونږ باید په منځني ختیځ کې د کر کې او وژنې د افکارو (جهادي افکارو) په خلاف دجګړې له ټولو هغو لارو چارو کار واخلو چې د کمونیزم په خلاف مو دسړې جګړې په وخت کې ترې کار واخیست، او پدې فکري جګړه کې زمونږ اساسي هدف امریکایي ارزښتونو لکه آزادۍ، ډیموکراسۍ، او آزاد بازار ته رواج ور کول دي).

دغرب په معاصرو فلسفي مفاهیمو کې (آزادي) دچا له تسلط نه خلاصون ته نه ویل کیږي، بلکه دغربیانو په نزد آزادي له (دین) او (اخلاقي قیدوبند) څخه آزاد اوسیدلو ته ویل کیږي، او ډیموکراسي بیاد غرب سیاسي او اجتماعي نظام دی، او آزادبازار یې پر کمزورو هیوادونو د اقتصادي برلاسۍ وسیله ده. نو د(کندولیزا رایس) د خبرو ساده مفهوم دا دی چې:

مونږ باید اسلامي هیوادونه له دین او دیني اخلاقي ارزښتونو آزاد کړو، شریعت او د اسلام ټولنیز نظام له منځه یوسو، او دهغوئ په اقتصاد اواقتصادي منابعو د آزاد بازار له لارې خپټه واچوو، او ددې کار لپاره باید هر اړخیزه فکري جګړه وکړو.

تر دې ځایه خو له ریښتني اسلام سره دغرب د دښمنۍ په اړه قرآني دلائل او دغرب درهبرانو، فیلسوفانو، او مفکرینو دریځونه او ویناوې شوې چې دغرب او د اسلام ترمنځ دجګړې پر حتمیت ټینګار کوي، خو غرب د (ریښتني اسلام) په خلاف دجګړې تر څنګ په اسلامي نړۍ کې دیوبل اسلام درانجولو لپاره هم هر اړخیز کار کوي چې پدې اړه به په لاندې کرښو کې دغرب درهبرانو دویناو او دریځونو یادونه وکړو:

هغه اسلام چې غرب یې دمسلمانانو لپاره غواړي

هغه اسلام چې غرب یې د اسلامي نړۍ او مسلمانانو لپاره غواړي د امریکا داسترا تیژیکو څیړنو تر ټولو ستر مرکز (رنډ کارپورېشن) چې په پیل کې مو یې یادونه وکړه پدې ډول یې تعریفوي:

((امریکا، نوې صنعتي نړۍ ، او په مجموع کې نړیواله ټولنه یو داسې اسلام غواړي چې د نورې نړۍ له نظامونو سره پر یوه لار روان شي، ډیمو کراتیک او مترقي اسلام وي ، او په نړیوالو قوانینو، احکامو او اخلاقو وچلیږي)).

په پورتني یاد شوي تعریف کې لاندې نقطې مشخصې شوې دي :

١ – اسلام باید د امریکا او بین المللی ټولنې په خوښه وي .

٢ – اسلام باید یو بیل تشخص او ځانګړی نظام او شریعت ونه لري، بلکه د نورې نړۍ له نظامونو سره دې یو ډول وي .

٣ – اسلام باید ډیمو کراتیک وي ، یعنې قوانین او احکام دې یې دخلکو لخوا د اکثریت د تایید په شکل کې رامنځته شوي وي، نه دا چې د(وحیې) او (سنت) پربنسټ دې ولاړ وي .

٤ – اسلام دې باید خپل زوړ شکل پرې ایښی وي ، او (نوی مترقي) شکل دې یې غوره کړی وي .

٥ – اسلام باید په خپلو احکامو او اخلاقي فلسفه کې په نړیوالواحکامو او اخلاقو وچلیږي .

همدارنګه دهغه اسلام په اړه چې غرب یې دمسلمانانو لپاره غواړي د پینتاګان په یوه راپور کې چې (عقلونه، زړونه، او ډالر) په نامه لیکل شوی وو او په ٢٠٠٦م کال د (U.S newse) امریکایي مجلې خپور کړ د امریکا د دفاع وزارت داسې لیکلي دي :

(د امریکا د ملي امنیت مصالح یوازې په هغه څه پورې اړوند نه دي چې په اسلامي نړۍ کې پیښیږي، بلکه په خپله د اسلام په دین پورې اړه لري، او ددې معنی دا ده چې تر دې وروسته به زمونږ هڅې خپله د اسلام دین ته دجګړې دیوه ډګر په حیث متوجه وي، او دا توجه به پدې مقصد وي چې اسلام به پر نویو بنسټونو درولی کیږي، پدې معنی چې اسلام باید په غربي معیارونو برابر شي ،او په هغو افکارو ترکیز وکړي چې د اسلام او غرب ترمنځ مشترک دي، اسلام باید داسې پیغام ولري چې د (جهاد او قتال)،(ولاء او براء)افکار او نظریات او د اسرائیلو په خلاف د کرکې او نفرت روحیه ورکې نه وي)).

د اسلام د بدلولو په اړه د رنډ کارپوریشن د اداري مجلس مشر او د امریکا پخواني ددفاع متعصب وزیر (ډونالډرامسفیلډ) هم داسې وایي :

((مونږ غواړو چې د منځني ختیځ دهیوادونو اسلام باید داسې شي لکه د شرقي اروپا دخلکو اسلام)).

له شرقي اروپا څخه د (ډونالډرامسفیلډ) مقصد (بوسنیا) ، (البانیا)، (کوسووا)، او (مقدونیا) دي، هلته چې مسلمانانو ته یې یوازې د اسلام نوم ورپاتې دی، خو نور یې ژوند په مکمل ډول اورپایي او (سیکولر) یا (الحادي) شکل غوره کړی دی.

همدارنګه دغرب یوه بله مشهوره څیړه او په نړۍ کې دجهادي فعالیتونو د څارنې د اداري (Jihad watch) مشر (روبرټ سپنسر) د اسلام دبدلولو په اړه وایي:

(نوی اسلام باید پدې معنی وي چې نور دې دقرآن ټکي په ټکي منل پرېښودل شي).

یعنې هغه خلک چې د اسلام د نوي تعبیر لپاره کار کوي هغوئ باید داسې یو اسلام ایجاد کړي چې خلک ور کې د ټول قرآن په منلو مکلف نه وي.

معاصر امریکایي مفکر او فیلسوف (فرانسیس فوکویاما) او (د تاریخ پای) د کتاب لیکوال هم وایي چې:

((زه نور څخه داسې سبب نه وینم چې خلک دې اسلام ته له یوه نوي شکل ور کولو څخه منع کړي)).

دا یوازې دامریکا رهبران او مفکرین ندي چې داسلام بدلول غواړي، بلکه د اروپا مشهور شخصیت د فرانسې پخواني خارجه وزیر او بیا صداعظم (نیکولای سر کوزي) هم وایي:

((هغه اسلام چې فرانسه یې غواړي هغه فرانسوي اسلام دی، نه په فرانسه کې اسلام)).

یوبل فرانسوی مفکر (جیل کپیل) چې په ۲۰۰۴م کال کې یې (د اسلام په زړه کې دجګړې فتنه) په نامه کتاب ولیکه هغه هم په خپل کتاب کې د نوي غربي دوله اسلام او په هغه کې د یو نوي نسل دروزلو په هکله په خپل کتاب کې لیکلي:

((په اسلامي نړۍ کې یوه (اسلامي فتنه) (بنسټپالنه) پیدا شوې ده، دغې (فتنې) اروپا ته هم سرایت کړی دی، او لدې فتنې څخه دخلاصون یواځینی لار داده چې دمسلمانانو یو نوی نسل دې دغربي دوله فرهنګ په غیږه کې و روزل شي.))

دامریکا مشهور یهودي مفکر (توماس فریدمان) غرب ته توصیه کوي او د اسلام د تبدیلولو په هکله داسې ور ته وایي:

((که غرب غواړي چې له اسلام سره دلښکرو په جګړه کې ښکیل نشي نو د اسلام په خلاف دې په اسلام کې دننه د افکارو جګړه پیل کړي)).

غرب دمسلمانانو لپاره بې شریعته اسلام غواړي

د برتانیې پخواني خارجه وزیر په ۵/۱۰/۲۰۰۵م تایخ د (Heritage Foundation) دا ستراتیژیکو څیړنو مرکز ته د تروریزم (جهاد) په هکله یوه وینا وکړه هغه په خپله وینا کې وویل:

((په حقیقت کې داافکار او نظریه ده چې تروریستان یې په خوځښت راوستلي دي، هغه آزادي غوښتونکي حرکتونه چې له دوهمې نړیوالې جګړې وروسته په اسلامي نړۍ کې رامنځته شول او د استقلال، مساوات، دوینا د آزادۍ او دیته ور ته شعارونه یې درلودل هغه ترډېره حده دزغملو او منلو وړ ول، او له ډېرو سره یې جوړه هم وشوه، خو هغه چې په هیڅ صورت ور سره مذاکرات نشي کیدای او د منل کیدو ندي هغه دا دي چې:

اسلامي خلافت دې بیر ته اعاده شي.

په اسلامي هیوادونو کې دې شریعت تطبیق شي.

په اسلامي هیوادونو کې د دنارینه او ښځو ترمنځ دمساوات نشتوالی ومنل شي. او په اسلامي نړۍ کې دې دنظر د اظهارولو آزادي سلب شي. ځکه چې دا هر څه زمونږ د تمدن بنسټونه دي، او ددې اصولو په سر په هیڅ صورت له چا سره جوړ جاړی نشو کولای)).

د فرانسې اوسني جمهور رئیس هم په کلکه ددې مخالف دی چې د نړۍ په کوم ځای کې دې شریعت تطبیق شي.

هغه همدا څو ورځې مخکې په (مالي) باندې د فرانسې دیرغل په ورځ وویل:

(نړیواله ټولنه په هیڅ صورت او په هیڅ ځای کې دشریعت تطبیق نشي زغملی، دا هغه موضوع ده چې په قطعي ډول نه ورباندې له چا سره دخبرې امکان شته، او نه چا سره ورباندې جوړ جاړی کیدای شي. (نوربیا)

اسلامي هیوادو کې

شپږمه برخه ....

داسلامیت او مغربیت ترمنځ کشمکش!

اسلامي نړۍ کې دجدید یت اومغربیت ملاتړي اوناقدین

لیکوال :داسلامي نړۍ مفکرعالم مولاناسید ابوالحسن علی "ندوي"رح - ژباړه : ابوظهیر

دویم دریغ !

دویم دریغ دشکست خوړو ، بشپړي تسلیمۍ ، دوسلي اېښودو ، دهغه سرګردانه عقیدت لرونکي مقلد یا دهغه بلوغ ته دنه رسېدلي کم عمر شاګرد دی، چې دغرب مادي ،مشېني اوخاص مزاج لرونکی تهذیب داسلامي نړۍ په هره بره خه اوسېمه کې بشپړ منل اورائجول غواړي !او دهغه پر ټولو اساساتو، عقایدو ، فکرې تګ لوریو مادې افکارو ، اندونو ، سیاسي او اقتصادي اصولو ایمان راوړل ضروري بولي(دکوم زوکړه چې له اسلامي چاپېر یال څخه په بیګانه ، لرې اوبیوه ګډو وډ چاپیریال کې شوي) خپل هیواد ته هغه وړل غواړي او ددې لپاره له هیڅ ډول قرباني ورکولو دریغ نکوي د لوی نه لوی قیمت پریکولو ته هم چمتووي

په غربه کې دترکیې ننویستوکوښښونه اولاملونه:

ددغسي فکراوکړنلارې ترټولولومړی تجربه په ترکیه کې وشوه او هلته (ترکیه کې) دغه میلان دګنو طبعي عواملو او دیوه اوږده تاریخ پایله وه.

ترکي تراوږدې مودې دخان جوړولو او ددښمن په خبر پر علمې او صنعتي وسلو دخان مجهز کولو پرته یې له اروپا سره مقابله پیل کړه ، له اروپا دنویو ګټورو علومو او اړینو صنعتونو ، په نویو محاربوي معیارونو دپوځونو روزلو او منظمولو د ضروري کړنلارې په اخستو کې سستي او تغافل وکړ ، علماوو اودیني ښوونکو دملک او قوم د علمي اوفکري ښووو نې لړ کې دهغسې زړورتیا ، ذهانت ، اومحنت ازموینه ورنکړه دکومې چې د هغوئ دمنصب څخه تمه کیده او دهغو ذهني لوریو څارنه یې ونکړای شوه ،کوم چې په ډېره چټکتیا دغه هیوادته ورننوتل ، په هغو کې ځیني فطري او حق په جانب هم وه ، هغوئ دښو او بد و غوښتنو ترمنځ دتوپیر پرته دعلم اوفکر په هغه پوله ولاړ پاته ول ،له کومې پولي چې داتلسمې پیړۍ دعلم قافله لاوخت په سر پوره وتې وه او له دې ټولو څخه زیات داچې دترکیې وروستنیو پاچایانو دین دخپلو ځانګړو مصالحو اوشخصي ګټو لپاره کاراوه ، دهېواد په بیرته پاتیوالې ، پوځې انحطاط او رسوایو کې دهغوئ ونډه هم وه ، ډېر ځلې دغو پاچایانو ، دهغوئ

وزیرانو او دسلطنت غړو له دښمن سره پټ سازشونه جوړول آن په قوم پلورلو یې هم صرفه نه کوله ، دا پېښې اګرکه انفرادي وي خو هېڅکله پټې نه وي ، او دځوان نسل په بې لاره کولو او انحراف کې یې رول درلود.

دستونزو ډکه نازکه مرحله :

دنولسمې پېړۍ په پای و، چې ترکیه د یوه داسي حالت سره مخ کېدونکې وه ،چې هغه حالت په دې سربېره چې فطري او قدرتي و ، دنوعیت له پلوه دیوه اسلامي هیواد لپاره لومړۍ تجربه وه، ولې اسلامي نړۍ ددېنه وړاندې له دوه ډوله تجربو سره مخ شوې وه.

لومړۍ تجربه:
هغه وه چې په لومړۍ اودویمه پېړۍ کې اسلامي نړۍ ته پېښه شوه، هغه داوه چې هغه مهال اسلامي نړۍ دتازه دم ځواک ،د ژوند او ترقۍ له ګټوصلاحیتونو برخمنه وه ، دفاتح او غالب بڼه یې وه ، په مقابل کې یې دنړۍ دوه پخواني ستر تهذیبونه وو ،چې یو دلویدیځ رومي اویوناني تهذیب و ، دویم دختیځ ایراني تهذیب و ، ددې دواړو تهذیبونو په واک کې دنړۍ دپخوانیو علومو ، فنونو ، ادبیاتو ،فلسفې اونظامونو ټولې سرچینې وې، دتمدن او ټولنیز ژوند انه له صلاحیتون و اوفرصتونو برخمن ول ، اسلامي ټولنه چې دهرډول کمترۍ له احساس خوندي ، دځان پېژندنې او پر ځان دباور لرلو پانګې څښتنه وه. د هرډول ذهني غلامۍ اومرعوبیت پرته یې دخپلو اړتیاوو اوحالاتو سره سم له هغو ګټه پورته کوله ، هر هغه څه چې په ورته مناسب ښکاره شول، بعینه هم هغه یې نقلول ، پخپلو قالبونو کې دهغو له ځایولو وروسته ترې په سهې ځای کې استفاده کوله ، د ازادۍ اوغلبې په وجه دغسې استفادې او اقتباس دټولنې په روح او په اخلاقي ځانګړتیاوو اغېز نشو کولی.



دویمه تجربه: هغه وه له کومې سره چې اسلامي نړۍ په اوومه پېړۍ کې مخ شوه ، کله چې تاتاري لښکرې په فاتحانه توګه داسلامي نړۍ مرکزې برخې ته ننوتې او په سیاسي توګه مسلمانان مفتوح او دهغوئ ترلاس لاندې شول ، هغه مهال چې اسلامي نړۍ دکوم فاتح سره مخ شوه ، هغه دتهذیب ، تمدن ، علم ،فن ، قانون اودستور له پلوه خالي لاس و ، هغه نه کوم تهذیب لاره او نه دټولنیز ژوند فلسفې ، دذهني روزنې له پلوه بلکل په هغه لومړي حالت کې و ، کوم چې دصحرایانو اوجنګیالیو قومونو دی ، ددې نتیجه داشوه ، چې دمفتوحه اسلامي نړۍ په وړاندې دفاتح تهذیب ، ژوند ، فلسفې افکارو او اقدارو داستفادې سوال نه و و ، ددې برخلاف فاتح قوم ورځ تر ورځې له خپلو مفتوحه

قومونو متأثر کیدل په هغوئ باندې په تدریج سره د مفتوحو قومونو تهذیب ، ژوند ، علومو اوفنونو ،دهغوئ پرمختللي ژوند اصولو او لوړو ديني عقايدو ، او افکارو اغېز اوتاثير کا و ، بالاخر هغوئ (تاتاريانو) په پوره ډول دخپل مفتوحه قوم دين او دهغه تهذيب يې قبول کړ ، دمفتوح قوم ديني قالبونو ته به پريوتو داسلام دسياسي مرکزيت نړونکي داسلام دعقيدوي مرکز (حرم) ساتندويان شول ،داسلام دعلمبر دارانو په شکل څرګند شول

خوعثماني ترکان چې دنولسمې پېړۍ په منځ کې له څه ډول حالت سره مخ شول هغه ددې پورته دواړو صورتونو څخه يو مخ جلا صورت و ، هغوئ اګر که د يو پراخ او خپلواک سلطنت واکمنان ول، ليکن د وخت په تېريدو هغوئ دځان پېژندني او پر ځانو دباور لرلو جوهر له لاسه ورکړ ، د هغوئ دننه نه دلوړېدو قرنونو جوش و او نه دهغسې ايمان اوباور ځواک ، په مقابل کې يې غربي تهذيب له نوي ژوند او نوي ځواک څخه برخمن و ، دنويو ولولو او نويو ارادو علمبردار و او له ځان سره يې يوځای داسې صنعتي ، علمي او فکري انقلاب راوړ ، چې پولې يې ورځ تر بلې پراخېدلې، داناشوني وه چې ترکان له دغه انقلاب څخه صرف نظرشوي وای ، دڅا مرکزيت چې داروپا د زړه دننه پروت و ، ددې نوي ازمون اوتجربې څخه په بري سره دتېريدو لپاره نه دتېر اسلامي تاريخ په پاڼو کې درهنمائي کومه ببلګه موندله کيده اونه د موجوده اسلامي نړۍ څخه ؛ بلکې دهغوئ لپاره داپخپله لومړۍ تجربه وه ، کومه چې دترکيې په زمکه پېښه وه ،به دې وجه دنوري اسلامي نړۍ ستر ګې هم بيرته په ترکيه خښې وې، چې کرار شه ترکيه په دې لړ کې څه دريځ غوره کوي ؟او اسلا مي هېوادو ته درهنمائې لپاره څه ور کوي؟

ددې نازکې اوله ستونزو ډکې تجربې لپاره دلوړ ذهانت ،داسلاميت او مغربيت داوړو ژوري مطالعې او د پر لوی جرئت کولو ته اړتيا وه ، په حقيقت کې دايو مجتهدانه عمل و ، چې ترکيې به خامخا په زړه اونازړه دواړو حالتونو کېې سرته رسا وه او په اړه يې ټولې اسلامي نړۍ دترکيې تقليد اوپيروي ته انتظار کا و ، ولې ددې چارې تريشپړيدا پوري داسلامي نړۍ تهذيبي ،فکري او تر ډېره ديني اوسياسي راتلونکې تړلې و ، دا ضرورت نه ټال کيد اونه ترې سر سري پوريو تل اسان و ، نه ورته نور مهلت اخستل شونی و ، دايوه اړينه فريضه وه ، چې ادا کول يې ژرترژره يکا رو او په هره مسئله باندې ورته دلوړېتوب ورکولو اړتيا وه.

پخوانۍ اواوسنۍ ډلې :

ددې فريضې سرته رسولو په موخه ترکيه کې دوه ډلې وې ، يوه دپخوانيو علماوو ډله وه ،خو ډېر افسوس ! چې دغه ډله دنويو غوښتنو او نويو بدلونو سره تر وروستي کچې نا اشنا وه ، ددې ستري انديښنې له خطر ناخبره وه ، کومه چې دترکيې لپاره داروپا نوي پرمختللي ځواک پيدا کړي وه ، دې ډلې دسلطان سليم ثالث(۱۷۲۹ز ۱۸۰۷) او دهغه ځای ناستي سلطان محمود(۱۸۰۸ز ۱۸۹۳ز) په دورو کې دنويو پوځي روزنو او دهغونويو اصلاحاتو راوستو سره مخالفت کا و ،کوم چې داروپا دنوي راپورته شوي ځواک په مقابل کې دترکيې ددفاع لپاره يې پلې کول ضروري وو.

ترکومه پورې چې دنوي اوځوان نسل اړېکه وه ، (هغه چې په پاريس برلن ، اولندن يا دخپل هېواد کې په ځينو نويو غربي پوهنتونو کې په زدکړو بوخت ول) دهغوئ روزنه اوپالنه ددين په بې ارزښتوب ، له

دیني راتلونکې نه په نهیلېتوب د دیندارو خلکو پر تحقیرولو ، دغربي تمدن په لامحدود تقدیس او درناوي ، دمادي اقدارو او غربي رجحاناتو او افکارو په وړاندې دوسلې په غورځولو کېده ، په دغه نسل کې د داسې نظري اوفکري بلوغ نشتوالی و ، چې هغه دې دغرب په حیاتي فلسفه دتنقید وړتیا درلودلی ، څو هغوئ دامحسوس کړي وه چې دغربي فلسفې ډېرې کمزورې برخې کومې ، کومې دي ؟ په کوم ځای کې یې له افراط اوتفریط نه کار اخستل شوی ؟ هغه کوم څېزونه دي چې دترکیې لپاره (چې د اسلامي نړۍ سیاسي مرکز وه) ګټور اوترې استفاده او اقتباس روا او بلکې ضروري دی او هغه کوم څېزونه چې دترکیې دمزاج ، تاریخ او په نړۍ کې یې دسیاسي موقف سره د نامناسبت ترځنګ له لوړ قد سره یې سمون نلري.

ددغه نسل دقیادت چارې زیاتره دهغو استادانو یا پوځي ښوونکو لخوا رهبري کېدې چې د هغوئ تهذیبي پوهه پراخه ، ژوره او خپلواک نه وه ، یا دهغو خلکو په لاس کې وې څوک چې دژوندانه ځینو ځانګړو تجربو دعلماوو او زاړو پالو نه پام ، تنګ نظرۍ ، دپخواني نسل د رهبرانو د قول او عمل متضادو تجربو ، هېواد کې د انحطاط او ډېرته پاتېوالي عامه منظر اومشاهدوو چې هغوئ یې د هرپخواني اوشته نظام نه بغاوت ته اړېستلي وو او په ډېره لېوالتیا اوتیزۍ یې له ترکیې نه غرب جوړولو ته ملا تړلې وه.

ضیاء ګوک الپ او دهغه اند:

دفکري اوذهني تعمیر په ډګر کې هلته (ترکیه کې) د "ضیاء ګوک الپ" په څېر خلک پیدا شول ، چاچې په لوړ آهنګ او ښه جوش له خپلې نېږدې ماضي څخه دترکیې دبېلتون اوپرېکون او په قومي اومادي بنسټونو دتعمیرولو اوجوړولو بلنه ورکړه.

"ضیاء ګوک الپ" په ۱۸۷۵ز کال کې په دیار بکر کې زیږېدلی و ، دهغه دکورنۍ خلکو په حکومت کې په لوړو پوستونو کارکاو ، دیاربکر کې دحربي ښوونځي لوستلو وروسته د دیاربکر په عالي لیسه کې ګډون وکړ ، له پیله یې د ادب اوریاضي سره علاقه زیاته وه ، دتاریخ موضوع یې هم خوښه وه ، دښوونځي په زمانه کې "ضیا ګوک الپ" دفرانسوي او ختیځ پوهنې زدکړې پیل کړې وې ، اودخپل فاضل تره په مرسته یې د اسلامي مفکرانو لکه غزالي ، رومي ، ابن عربي ، ابن رشد ، ابن سینا ، فارابي اونورو مطالعه بشپړه کړې وه ، دامام غزالي د "المنقذ من الضلال" کتابه زیات متأثرشوی و ، داهغه زمانه وه چې دترکیې د ځوان نسل په وینو کې دفرانسوي انقلاب افکار اوخیالات څپې څپې وو ، دضیاء دښوونځي سرمعلم دګمراه کوونکو خیالاتو څښتن و ، دغه مهال په دیاربکر کې دازادخیالو یوه شړل شوي ډله هم وه ، هغې سره دضیاء اړیکې جوړشول ، دهغې په مرسته ضیاء دازاد خیالۍ او انحراف لړ کې د "تامق کمال ، ضیاءپاشا ، احمد مدحت افندي" اونورو مضامین ولوستل ، د "عبد الله جودت" د راتلو وروسته یې له دغه پټ خوځښت سره اړیکې نورې هم ټېنګې یشوي ، دا یوکرد ملحد ډاکټر و ، له هیکل(Haeckl) بشنز(BUCHHNER) اسپنسر(spencer) او لی بون(Le bon) څخه متأثر و ، په همدې زمانه کې دیوه یوناني استاد له اثر څخه دننه یې دعقیدې اوعقلیت کشمکش پیدا شو . هغه د اسلامي فلسفې اوتصوف نه تشفي غوښته ، خو په قول یې کامیاب نشو او په ارتیابت(Agnosticsm) کې ښکېل شو په ۱۸۹۲ز کې نوموړی قسطنطنیه ته

لاړ، هلته د "وترنري" یوه لیسه کې (veterinary)
ورته دنده پیدا شوه، دزدکړو په ځای یې ډېره توجه
سیاست ته وروکوله، په همدې وجه د پرمختیا او ترقی
دیوه ګوند غړی هم غوره شو، چې د "فری میسن" په
څېر په پټه کار به یې کاو، دخینو باغیانه لیکنو په
وجه له لیسې و وېستل شو او په بند محکوم شو،
دبند دمودې تېرولو وروسته په دیاربکر کې ترڅارنې
لاندې ونیول شو، په دغه موده کې یې ژوره مطالعه
وکړه، دمطالعې په دوران کې یې ډېره توجه غربي
مضامینو په ځانګړې توګه فرانسوي فلسفې،
سائکالوجي او سوشیالوجي ته وه او ډېر ژر د دیار
بکر دازاد خیالو دسر سړی شو، په ۱۹۰۹ز کې
دسلطان عبدالحمید خان دمعزولولو وروسته ضیاء
اودهغه ملګرو په ازادو متو کار پیل کړ اودوه
ورځپاڼې پیام او DECLE پیل کړل

اوپه سالونیکا کې مستقله استوګنه غوره کړه
،هلته دیوه ملت پال رهبر په توګه وپېژندل شو،
دترکیې په دې غربي پوله کې دمیشت کېدو وروسته
له نورو ترکیې غرب پلو روڼ آندو او غرب پوهانو ته
دنیږدېوالي چانس په لاس ورغی او په دې توګه یې
د ترکي ملت پالنې پر بنسټ داتحادو او تنظیم فکر

نوري غزونې وکړې، په کوم کې چې اسلام داساسي
عامل (FACTOR) حیثیت نلري، په ۱۹۱۲ز کې دبلقان
جنګ په نتیجه کې دترکیې دلاس لاندې ګڼ
حکومتونه (په ۱۹۱۲ ز کې البانیه په ۱۹۱۷ز کې حجاز)
ووتل، چې له امله یې دملت پالنې غورځنګونه نور
هم پیاوړي او غښتلي شول، دترکیې په نوي نسل
"ګوک الپ" هغه مهال دومره ډېر ذهني اثر وشیند چې
کله په ۱۹۱۵ ز کې د ذاتي استعداد او پوهې په وجه
پرته له علمي سند ه داستنبول پوهنتون کې دعمرانې
علومو لومړی درجه استاد وګومارل شو، په ۱۹۱۸
زکې یې دنورو ملت پالو ترکانو سره یوځای استنبول
پرېښود او ونیول شو، بیا چې کله په ۱۹۲۱ز کې کله
چې مصطفی کمال په یونانیانو بری ومونډ، له بنده
پرېښودل شو، په ۱۹۲۲ز کې دتالیف او ترجمې مشر
غوره شو، هغه دکمال کلک ملاتړی و او په ټاکنو
کې یې دهغه دملاتړ او بري لپاره ډېري هلې
ځلې وکړې، اګرکه د دواړو ترمنځ ذاتي
اړیکې هیڅکله هم ژورنه وو، په ۱۹۲۳ز
کې چې پارلمان منتخب شو، دی ورته
دیاربکر نه وکیل او استازی غوره شو، په
۱۹۲۴ زکې ورته ناروغي پېښه شوه، کمال
اتاترک یې په اروپا کې ددرملنې لپاره
دلګښتونو ذمه وهله، خو "ګوک الپ"
دومره ارزو وکړه چې دده دکورنۍ سره
همدردي وکړئ او دهغه تصنیف دچاپولو
چاري تنظیم کړئ کوم چې یې دترکي
دتهذیب په موضوع لیکلی، په ۱۹۲۴ داکتوبر په
۲۵مه نیټه د ۴۸ یا ۴۹ کلو په عمر ومړ او دسلطان
محمود په هدیره کې دفن شو نوربیا

ترکیې د ښېښې په نه غوښتلو د اسرائیلو غرور خاوري کړ

حسن مومند

د فلسطین په قبضه شوې خاوره کې جوړ شوی غاصب اسرائیلي دولت د ځمکې پر مخ هغه دولت دی چې د غلا او فریب په نتیجه کې د انګریزانو په لاس رامنځته شوی او پالنه یې امریکا په اوږو اخستې ده او بې قید و شرطه یې هر ډول مرسته او حمایت کوي نو دا دولت په خپل وجود او بقا دومره ډاډه دی چې د بلچا پروا نه لري، دی خو غرور او تکبر یې یا دومره زیات دی چې ښه په سپین سترګو د منلو شوو اصولو مخالفت او د بشري ضد اعمالو ارتکاب کوي خو د هیچا پروا نه لري.

اتوم دی، که د تو غندو پر مختللی نظام دی، که هوایي قوي ځواک دی ټول ورته د امریکا او یو شمېر نورو غربي هېوادونو له لوري برابر شوي دي، د همدې پر مختللو وسایلو په زور یې د ۱۹۶۷ جنګ کې د عربانو سیمې قبضه کړي، د همدې وسایلو په زور یې په ۱۹۸۱ کې د عراق او په ۲۰۰۷ کې یې د سوریې اتومي پروګرامونه بمبار او له منځه یوړل، که د نوموړو له لورې ور کړل شوي دا وسایل نه وای نو بیا یې په ځمکني جنګ کې زور معلوم ؤ دی چې هر ځل یې هم د حزب الله او هم د حماس په مقابل کې ماتې خوړلې، د دې ګړنه تښتېدونکي او په پردو وسایلو د مغرورو همدې اسرائیلو تکبر تر دې حده رسېدلی دی چې ظلم تل همدوی کوي خو ملامتیا پر مظلومو وراچوي چې په ‚‚فریډم فلوټیلا،، باندې حمله او بیا یې پرې پر وژل شویو تنانو وراچول د همدې خبرې یوه ژوندۍ بېلګه ده.

په ۲۰۱۰ کې چې د اسرائیلو د اوږدې محاصرې له امله د غزې مظلوم مسلمانان د خوراکي موادو او د درملو د شدید قلت سره مخامخ وو په اسلامي نړۍ کې یو دولت هم د دې مظلومانو سره د مرستې او د وحشي اسرائیلو د محاصرې د ماتولو لپاره قدم نه و پورته کړی او نه یې پلې اړه د سکوت شرمونکې روژه ماته کړې وه، بس په اسلامي نړۍ کې یوازې ترکیه هغه هېواد و چې په غزې کې یې د خپلو یو نیم میلیون نه د زیاتو مسلمانانو ورونو سره د بشري مرستو عزم وکړ، دې عزم ژر عملي شکل غوره کړ، د ‚‚فریډم فلوټیلا،، په نوم پر بشري موادو بار د سمندري جازونو یوه قافله تیاره او د استنبول نه د غزې پر لور وکوچېده، خو غزې ته د رسېدو نه وړاندې په بین المللي سمندري حدودو کې اسرائیلي کوماندویانو په دې قافلې شدیده حمله وکړه او په ‚‚ماوي مرمره،، نومې سمندري جاز کې ناست ۹ ترکان یې شهیدان او ۵۶ یې ټپیان کړل، د ترکي دولت دا حمله په ډېر سخت تکر وغندله، د اسرائیلو نه یې وغوښتل چې خپله غلطي ومني، د ترکې له ښېښه وغواړي، د وژل شویو تنانو وارثانو ته دې تاوان ور کړي او د غزې محاصره دې ختمه کړي تر څو بشري مرستې د غزې محصورو او ښېړونکو ته ورسېږي.

د ترکې دا غوښتنې نه یوازې دا چې د اسرائیلو روښې وزیر نتن یاهو رد کړې بلکې برعکس یې د قافلې په تیم ملامتیا وروا چوله چې د اسرائیلي عسکرو په مقابل کې یې د زور نه کار اخستی و.

خالي لاس خلک او د اسرائیلي کماندویانو په مقابل کې د زور کارول؟! دا څومره د خندا وړ او د غرور نه ډکه خبره وه؟!

اسرائیلي لومړی وزیر چې د ترکې دا غوښتنې رد کړې نو ترکې د اسرائیلو نه خپل سفیر راوغوښت او د اسرائیلو سفیر ته یې حکم وکړ چې په اوږني کې دننه دې له ترکې ووځي، د دې تر څنګ یې د لاتجې په اړه د ملګرو ملتونو ادارې ته رجوع وکړه او خبرداری یې ور کړ چې د عدل نړیوالې محکمې ته به رجوع وکړي.

د ترکې په غوښتنې د ملګرو ملتونو په نوم د غلامې ادارې د بشري حقوقو شاخګې د دې پېښې د څېړنو حکم وکړ خو مسلمانانو سره د څېړونکې پلاوي د دښمنۍ دا حال و چې په مرسته رسوونکو بین المللي کښتیو یې د اسرائیلو حمله پرځای وګڼله او ویې ویل چې په کښتۍ کې سپرو تنانو د اسرائیلي کماندویانو په مقابل کې د زور نه کار اخستی و، د دې لپاره چې د اسرائیل

پرستې او مسلمان دښمنۍ په حقیقت لګه پردې راوغورځي څېرونکي پلاوي دا اعتراف هم کړی وچې اسرائیلي کماندویانو هم د تشدد نه کار اخستی و.

د ترکې لومړي وزیر طیب اردګان د اسرائیلو پرپلوی ولاړ د ملګرو ملتونو دا راپور په سختو ټکو رد کړ او اسرائیلو سره د شویو تماسو تړونونو د منجمد کولو ترڅنګ یې ناټو سره د اسرائیلو د ګډو فوځي مانورونو پر ضد د ویټو حق استعمال او پدې مانورونو کې یې د اسرائیلو د ګډون په وړاندې خنډونه رامنځته کړل ، داد ناټو په تاریخ کې رومبی ځل وچې په فوځي تمریناتو کې دچا ګډون پر ضد د ویټو حق رکارېدلو ، له دې وړاندې د ناټو کوم غړي هیواد د اسرائیلو پر ضد کله خوله هم نه وه پرانستې داسې اقدام خو ډېره لرې خبره ده.

همدا راز طیب اردګان دغزې پر سفر هم ولاړ او د حماس د دولت سره یې د مرستو وعده وکړه چې پرې امریکا او اسرائیلو دواړو سخت ناراضایت ښکاره کړ خو ترکې یې د ناراضایت څه پروا ونه ساتله.

پر ترکې د فشار راوستلو لپاره اسرائیلو په سمندري سیمه کې د تیلو او ګازو د استخراج لپاره اسرائیلو د قبرص دولت سره تړون لاسلیک کړ چې سمدستي ورته ترکې اخطار ورکړچې که اسرائیلو پدې سمندر کې د تیلو د استخراج په نوم فعالیت پیل کړ نو ترکیه به یې د مخنیوي لپاره خپل سمندري ځواکونه ورواستوي.

هغه اسرائیل چې په منځني ختیځ کې د امریکا لپاره د بدماشۍ رول لوبوي او امریکا وړاندې تول سیمه تهدیدوي ورته د ترکې په څېر د اسلامي هېواد له لورې اخطار د اسرائیلو زیاته امریکا غصه کړې وه خو د ترکې پر ضد د څه کولو نه هم څکه عاجزه وه چې ترکې د ناټو غړیتوب درلودلو او که څه هم پر عراق د یرغل پر مهال یې امریکا ته د اډو ورکولو نه انکار کړی وخو د افغانستان او عراق په جنګونو کې د امریکا د رسمي اتحادیانو څخه وار دی دواړو هیوادونو ته یې د امریکا په ملګرتیا کې کم شمېر عسکر هم لیږلي وو.

د کمال اتاترک سیکولر ترکې اسرائیل په رسمیت پیژندلی او اوس یې هم په رسمیت پیژني د ډیپلوماتیکو او سوداګریزو اړیکو ترڅنګ ورسره په فوځي چارو کې د تعاون پوړې اړیکي هم لري.

خو د کله نه چې د عبدالله ګل او طیب اردګان د عدل او پرمختګ ګوند واک ته رسېدلی او اسلامي نړۍ ته یې د ترکې د ورنږدې کولو او ترکانو ته د عثماني خلافت د خپل زرین تاریخ د وریادولو هلی ځلی پیل کړیدي نو د هماغه وخت نه د لویدیځ او اسرائیلو نه ترکیه ورو ورو لرې کېدله .

بیاچې د کله نه ترکیه د فلسطین په مسئله کې جدي شویده ، په مختلفو وختونو کې یې د اسرائیلو ظلمونه غندلي دي او په څینو موکو د دواړو هیوادونو ترمنځ لفظي شخړې هم رامنځته شویدي نو د اړوابطونو هم کمزوري شویدي خو په فلوټیلا د یرغل نه پس پدې روابطو کې نوی درزونه راغلل چې د مرې ورځې نه بلې ته جوړ شول.

د دواړو هیوادونو ترمنځ د روابطو ښه کولو لپاره اسرائیلو بیا د ترکې نه د مذاکراتو غوښتنه وکړه خو ترکې ورته د خپلو درې وړاندې کړو غوښتنو د حملې له امله د ښښنې غوښتلو ، وژل شویو تنانو ته د تاوان ور کولو او غزې ته د بشري مرستو د رسېدو پر ته د مذاکراتو نه انکار کړیدی .

امریکا هم څو ځلې د ترکې او اسرائیلو ترمنځ د روابطو د ښه والي لپاره د دواړو دولتونو ترمنځ د مذاکراتو غوښتنه وکړه خو ترکیه چې د خپلو شرطونو نه تېرېدو ته نه وه چمتو او په خپل موقف ټینګه ولاړه وه نو د امریکا هڅو څه ګټه ونکړه تر دې چې امریکا عملاً منځګړیتوب ته راودانګل د روان ۲۰۱۳ د مارچ په رومبۍ نېټې د همدې هدف لپاره د امریکا د باندنیو چارو نوی وزیر جان کیری ترکې ته په سفر ولاړ ، د جان کیری او د ترکې د دولتي مشرانو ترمنځ د اسرائیلو سره د مذاکراتو په موضوع ډېرې اوږدې خبرې اترې وشوې خو د امریکا له لورې براېرې شوې ایجنډا ته عملي بڼه ورنکړای شوه .

طیب اردګان د امریکا د باندنیو چارو وزیر ته هم روښانه کړه چې تر څو دغزې محاصره نه وي ختمه ، د وژل شویو تنانو وارثانو ته تاوان نه وي ورکړل شوی او اسرائیلو د ترکې ولس نه د ښښنې غوښتنې لپاره Apology (ښښنه غواړم) تورې نه وي کارولای ورسره به د مذاکراتو پر مېز کېناستو ته چمتو نه شي .

جان کیری هېواد ته پر ستنېدو خپل ولسمشر په وضعیت خبر کړ او ورته یې روښانه کړه چې له شرطونو منلو پر ته د مسئلې حل نشته ، څکه دواړه پدې سلا شول چې باید اسرائیل دا شرطونه ومني د همدې هدف لپاره اسرائیلو ته د اوباما سفر اړین وګڼل شو چې د مارچ په ۲۲ مې نېټې دې سفر عملي بڼه غوره کړه .

د اوباما د سفر نه ترکیه باخبره وساتل شوه ، ددې لپاره چې د ترکې له لورې خبره ښه یقیني وي جان کیري د اوباما د راتلو نه وړاندې په یوې اوونۍ

کې د ترکې د باندنیو چارو وزیر داود اوغلو سره ٦٢ کرته ټیلیفوني تماس ټینګ کړ.

اسرائیلو ته په رسېدو بارک اوباما په هماغه اوله ورځ د اسرائیلو لومړي وزیر نتن یاهو سره پدې موضوع وغږېدلو او ورته یې روښانه کړه چې د ترکې سره د روابطو ښه کولو دا وروستی چانس دی، که اسرائیلو پدې اړه مثبت ګام پورته نکړ نو په سیمه کې به تنهاپاتې شي د دغو ورځو مسلسلو مخو په نتیجه کې اوباما پدې وتوانید چې نتن یاهو د ټولو شرطونو منلو ته تیار کړي. هماغه ورځ د نتن یاهو په شتون کې اوباما طیب اردګان ته ټیلفون وکړ، د وضعیت نه یې خبر کړ او بیا یې نتن یاهو ته ګوشکی لاس کې ورکړ، نتن یاهو طیب اردګان ته ویل ،، د فلوتیلا په پېښه کې د ۹ ترکانو په وژل کېدو او د ٥٦ په ټپي کېدو مونږ جوړ خفګان ښکاره کوو، د اسرائیلو له لوري په شویو فوځي عملیاتو کې ځینې شمېر خطا ګانې شوي وې، خو د ترکې ولس نه پدې پېښه ښښنه غواړم، د وژل شویو تنانو وارثانو ته به تاوان ورکړو او غزې ته د عامو خلکو د عامې ړنیا د شیانو د وړتللو اجازه هم ورکوم، تر څو وضع نورمال وي دا اجازه به تر مخې جاري وي،،

دا د فلسطین په قبضه شوې خاوره کې د رامنځته شوي اسرائیلي دولت په تاریخ کې لومړی ځل وچې لومړي وزیر یې د کوم اسلامي هېواد د مشر یا ولس نه ښښنه وغوښته.

طیب اردګان د اسرائیلو د لومړي وزیر ښښنه ومنله او ویې ویل چې د اسرائیلو له لورې دې شرطونو ته د عملي بڼې ورکولو پوره څارنه به وکړي، طیب اردګان بیا وروسته دا هم وویل چې د اپریل میاشت کې به غزې او د اردن سیند غربي غاړې ته سفر وکړم او بیا به وګورم چې غزې ته د انساني اړتیاد څیزونو وړتلو لپاره د دروازې پرانستل شوې که نه؟

د ترکې نه د اسرائیلو په ښښنې غوښتلو په ټولې عربي نړۍ اوځانګړې توګه په فلسطین کې لویه خوښي رامنځته شوه، عربي رسنیو دا د طیب اردګان ستر بریالیتوب وګڼلو او ښه په روښانه ټکو یې ولیکل چې هغه کار چې ټولې عربي نړۍ ونکړای شو ترک مشر په یوازې ځان وکړ. د اسرائیلو غرور یې د خاورو سره خاورې کړ او د فلسطینیانو زړونه یې وګټل.

دا خو یقیني ده چې په خپل موقف باندې د طیب اردګان ټینګ ودرېدل د طیب اردګان کامیابه پالیسي وه خو دا هم یو حقیقت دی چې که د امریکا فشار نه وای اسرائیلو به شاید هېڅکله هم ددې شرطونو منلو ته سر نه وای ټیټ کړی

خو دا د امریکا مجبوریت وچې اسرائیل یې د ترکې په مقابل کې سر ټیټولو ته اړ کړل.

د ترکې او اسرائیلو ترمنځ سولې راوستلو او روابطو ښه کولو ته د امریکا څه اړتیا ده؟

نو په لنډه یې ووایو چې یو خو پدې وخت کې رښتیا دا ده چې په نړۍ کې د اسرائیلو پر ضد ترېل هر وخت کړ که زیاته شوې او په سیمه کې د تنهایی ښکار دی، مصر او ترکیا دواړه هغه مهم هېوادونه دي چې اسرائیل په رسمیت پېژني ورسره یې ښه روابط وخوا وس د اسرائیلو سره ددې دواړو هېوادونو روابط ښه نه دي چې په دې سره اسرائیل تر ډېره حده دا نزوا ښکاره شوي او امریکا دغه انزوا نه غواړي خو ددې نه هم زیات مهم او س یو بل عاجل ضرورت دی او هغه دا چې که سورې کې د بشار الاسد واک له منځه ځي نو امریکا سخت د ریځه اخوانیان او د القاعدې سره تړاو لرونکي مجاهدین د واک نه لرې ساتل او یو لاسپوڅی اداره قائمول غواړي، دې هدف ته د رسېدلو لپاره به امریکا د سعودي عربستان لبنان قطر او مصر نه هم کار اخستل غواړي خو د سورې د دوه مهمو ګاونډیو هېوادونو ترکې او اسرائیلو ونډه په دې لار کې ډېره مهمه ګڼي چې ددې دواړو ترمنځ د ښو روابطو او همآهنګۍ په صورت کې به پایلې لا ډېرې ښې وي، بس دا امریکا مخې ته هم دا لوی اهداف وځکه یې اسرائیل د زهرو دې ګوټ ته مجبور کړل.

خو څه فکر کوم چې طیب اردګان دومره خام فکره سیاستمدار نه دی چې د امریکا د شومو اهدافو د حصول لپاره به اله جوړه او د مسلمانانو مجاهدینو سره ځان په سختۍ دښمنۍ کې راښکېل کړي بلکې څرنګه چې په خپل هېواد کې د بې دینه فوځ په واک راکمولو بریالی شو همدا رنګه به د سورې په چارو کې هم د امریکا، فرانسې، برطانې د لاسوهنو او پلمې ددوی د خو ښې د لاسپوڅي اداری د رامنځته کېدو مخنیوی وکړي ددې لپاره چې په سورې کې د جنوبي سوډان په څېر اسرائیل پلوې اداره رامنځته نه شي تر څو د سورې د مسلمان ملت ارمانونه هم پوره شي او د چارچاپېره نورو هېوادونو په شمول ترکیه هم د مشکلاتو نه وژغورل شي.

عالمان او لیکوالي

سیدسعید

منلې ده چې لیکنه په نني عصر کې دا ظهار مافي الضمیراو افهام وتفهیم تر ټولو اغېزناکه وسیله او اله ده .متأسفانه تر نوروډېردیني عالمانو دلیکنې مؤثرهنرته توجه کمه کړې ده .دخزان سیلۍ دعلم اوعرفان لوی لوی څلې راڅخه یوړل په داسې حال کې چې موږته یې د علمي نبوغ اوفیض څخه یوه تدوین شوې رساله هم راپاتې نه شوه. په ډېرزحمت ترلاسه کړې مرغلرې یې دمبارکو اجسادو سره هممهاله دقبرونو بندیوانې شوې.څرګنده وجه یې همداده چې دقلم سره دنه اشنایې له امله یې دزړه په وینو ترلاسه کړې لعل ومرجان نه خپله اونه هم کوم شاګرددقلم په جال کې بند کړای شول چې ددوی دسپېڅلو اروا ګانو لپاره پر جاري صدقې سربېره دمرحومه امت علمي پانګه هم پرې بډایه شوې وای.

مکاردښمن تیارپه کمین کې ناست دی ، تکړه خوبې ضمیره لیکوالان په ټنبه کوي اوډېر بل معاش ،کور ،خارجي سفرونو او ښځې په عوض یې کرایه کوي چې اسلام له دننه تخریب کړي.همدا کرایې عناصر بیاپه خوراجالبو اونوو عنوانو کې پردي فکرونه رانغاړي او ټولني ته یې دملي فکراوپرمختګ په نوم بلوتوت کوي .مثلادوی د اسلام کامل اوشامل نړیوال دین هم دنوروادیانو او ایډیالوژیوپه شان دزمان اومکان په څلوردیوالي کې محاصره کوي ،اودلادینیت(سکولریزم)په پیروي یې ترفردي ژوند او شخصي خوښې پورې محدودوي.دجهاداومیړاني فلسفه په دې غونډله چې :«اسلام دسولي دین دي » جرح کوي .بالکل اسلام دسولي دین دی ،جهاددهمدې لپاره کیږي چې شر ،فساد ،شرک اوفتنه ورکه اودین خاص الله تعالی لره شي ،چې دالله تعالی پرمځکه یوازي دهغه ستراولاشریک ذات(جل جلاله) احکام نافذشي ورکه

(سوله)به هرومرورراستنيږي.دغه رنګه دوی قصاص اوشرعي حدودوته ظلم وايي اودبشرله حقونوڅخه دسرغړوني په نوم ليکني پرې کوي.داسلام اوسياست پربېلوالي اودښځوپرمطلقي ازادۍ يې لوی اوواړه کتابونه ليکلي دي.که څه هم ليکونکي يې په هيوادکي دننه اويابهر(امريکاارپ او.....)کي اوسي ،خوليکني يې دهيواد پرهرکونج کي ترلاسه کيداشي.

خوپه مقابل کي يې موږپه خپله ژبه (پښتواودري)کي پرخوراحياتي - ديني موضوعاتو پام ورڅه نه لرو،تراوسه دبشريت دستر لارښود اوناجي (حضرت محمدمصطفی صلی الله عليه السلام)پرمبارک سيرت ،حجاب ،قصاص ،حدودوا..... نسبتاتفصيلي -ضروري کتاب نه لرو.زه چي پرافغانستان دروسانودپوځي يرغل پر لومړي (۱۳۵۸ل،)کال زيږيدلی يم اوس مي دادی دزني يوه برخه دمرګي قاصدانواشغال کړې ده ،يعني دجهادپه دومره اوږداوپراخ زماني واټن کي موپرجهاداوداسلام پرسياسي نظام داسي څه ونشوای ليکلای چي ضروري پوښتني موحل اوغوښتني مورفع کړي.

ډيری ځوانان به موليدلي وي چي دتقريراوريدلوته نيم ساعت وخت نه ورکوي ،خوپرورته موضوعاتوليکنوپسي کتابپلورنځي پلټي.دخوښۍ ځای دی چي دمطالعې سره دخلګوپه شوق کي زياتوب راغلی ،خوکه اړين اوګټورموادورته وړاندي نشي ډيره ويره شته چي دديني اوجهادي فکرځوانان دشرق اوغرب څخه په راژباړل شوګمراکوونکوروما نونو، ناولونو، کيسواوډراموباندي روږدي شي.- خدای جل جلاله دي نه کړي !- ځکه دانساني فطرت تقضی ده چي خپله ورکه ترلاسه نکړي پرنوروړلارواوشيانوپسې دموندلواوتندي خړوبولوهڅه کوي .

دليکني امتيازي ګټه داده چي دشراب اوکباب په محفلونو ،اغزنوسيمونواوسميټي ديوالونوکي دايروشووته دحق پيغام رسوي ،دغلامۍ په زنځيرونوکي بنديوانوته دازادۍ لارښيي اوښکني يې ورته بيانوي ،جامدفکرونه تحريکوي ،بيده\ويده ضميرونه ويښوي ،مړاوي هيلي تخنوي ،دښکېلاک رواني (نفسياتي)جګړې ځپلي په هوش راولي ،دتبليغاتي کمپاين له لوخړويې سپين ميدان ته راباسي ،اّن دنوي ټيکنالوژۍ په مټ ترلويو-لويوسمندرونواوزرګونوکيلومتره هاخواته زړونه فتح کوي اوتياره فکرونه تنويروي چي فزيکي ورتګ اومخامخ دعوت ورته ډيرزيات ګران وي.

داسلافو(رحمهم الله تعالی) دژوندحالات مومخ ته پراته دي چي په څومره کړکيچنوحالاتواوستونزمنوشرايطوکي يې داسي شهکاراثاروړاندي کړل چي تراوسه درقيبانوسترګي ترې سوځي ،دبېلګې په توګه دشمس الايمه سرخسي ،ابن جريرطبري ،قاضي ابوبکر ،امام محمد الشيباني او..... رحمهم الله تعالی تاليفات اوتصنيفونه يادولای شو.دغه رازپه وروستيودوو- دروپيړيوکي دهندستان ،پاکستان ،سعودي اومصردعالمانو هراړخيزي علمي اوتحقيقي ليکني ديادوني وړدي.

عالمان دي روښنايې ددې دنيا
عالمان دي دتمام جهان پيشوا
که څوک لارغواړي خدای اورسول ته
عالمان دي ددې لاري رهنما

دنیکمرغی ځای دی چې زموږ په ټولنه کې هم تکړه عالمان او ښه استعداد ونه شته ،فقط لیکلو ته پام نشته او یاد لیکنې ذوق کم دی ،که ذوقونه وپالل شي او وغوړیږي ،کیدای شي د تصنیف ،تالیف او ژباړې په ډګر کې موجوده خلا تر ضروري حده پرې ډکه کړای شي.

زموږ په عصر کې د لیکنې او چاپ پریمانه وسایلو ته په پام چې په هر ښار کې موندل کیږي او د سرکار له اجازې پرته لیکنې د چاپ په ګڼه پسولل کیدای شي ،هر عالم ،زده کوونکي او طالب باید وکولای شي چې لږ تر لږه په خپل مسلک او یا د خوښې فن کې لیکوال واوسي.ځینې وروڼه به ښایې فکر کوي چې لیکوالي او ږدې تربیتي پروسې ته ضرورت لري ،خو همداسې نه ده ،صرف ذوق او عملي کار غواړي.راځئ چې همدا اوس قلم ته لاس کړو دزده کړې ،تدریس ،جهاد ،دعوت ،سفر او حضر یوه خاطره ولیکو !،که زړه مو پرې ډاډه نشو په خپل ګاونډ کې یې کوم لیکوال ته د اصلاح په موخه وړاندې کړو.په باوري توګه ویل کیدای شي چې تر دوه درې ځلې وروسته به مو غلې استعدادونه راپوته شي او که خدای جل جلاله کول په لنډوخت کې به د کامیابو لیکوالو په قطار کې ودریږو.انشاءالله تعالی !،

نو همدا اوس قلم درواخلئ اخه چې مود فکر په تال زانګي ویې لیکئ !

په مجلس د عالمانو به سره زر شي

که وي کاني او یابو تې د صحراء

غزل

(افـــــــغان)

لاړو پسې وژړل او غړو ورپسې وژړل
ړنګ شول چینارونه ګودرو ورپسې وژړل

پاکه روح ښښونکي مینه داسې نیمه خوا شوله
خپله دبیلتون ظالم لاسو ورپسې وژړل

لاړل بلبلان پرهر سینې له ګلابو څخه
څانګې لیونۍ شولې اغزو ورپسې وژړل

دومره ښایسته چې لحد حسن ترینه واخیستو
خپل ورباندې خوار شولو پردو ورپسې وژړل

خدایګو چې سرتورې یې د پټ په ټیکرو پټې کړې
داسې ککرۍ وې چې شملو ورپسې وژړل

ساندې او سلګۍ یې په قبرونو باندې تاو شولې
سرته په رفرف سپینو جنډو ورپسې وژړل

څنګه به له داسې زندګۍ نه شمعه خوند واخلي
ډیرو ګلغوټیو ښښتنو ورپسې وژړل

ای کسانیکه میان عزت شرکت در جهاد و ذلت خانه نشینی متوددّ هستید!!!

حنظله بدر

بسیاری از برادران آرزو دارند بخاطر ادای بزرگترین عبادت که جهاد فی سبیل الله است، خانه را به قصد رفتن به سنگر ترک بگویند ولی وسواس شیطانی و مطاع زود گذر دنیائی آنها را متوددّ ساخته است. بنأاین نوشته خطاب به کسانی است که میان عزت شرکت در جهاد و ذلت خانه نشینی در شک و تردید به سر میبرند.

امروز کشور عزیزمان افغانستان توسط اتحاد صلیبی اشغال شده است. هیچ شک و شبه ای در این که جهاد بر ملت مسلمان افغانستان فرض عین می باشد نیست، هیچ کس نمی تواند در مقابل این حکم شرعی به سفسطه بازی و جدل بپردازد. نه تنها بر مردم افغانستان، بلکه بر تمام مسلمین جهان جهاد فرض عین است. منظور از کلمه ی جهاد، علاوه بر حضور نظامی در میادین مبارزه میان حق و باطل، میتواند کمک مالی باشد، میتواند کمک تسلحاتی باشد، میتواند پناه دادن مجاهدین در خانه های خویش باشد..... لذا شرکت در جهاد الزامی است. اما وظیفه ی ملت مسلمان افغانستان بسیار سنگین تر از دیگر مسلمین می باشد.

برادر مسلمانم! بدان هیچ مجاهدی به میادین جهاد روی نمیآورد، جز اینکه این مرحله تردید و کلنجار رفتن با خود، را تجربه می کند، اما برای برخی این تردیدها فقط چند روز یا چند ساعت یا چند دقیقه بیشتر طول نمیکشد و برای برخی آنقدر طول می کشد که تمام عمرش هم برای اتخاذ تصمیم قطعی کافی نمیشود .

«إِلاَّ تَنفِرُواْ يُعَذِّبْكُمْ عَذَاباً أَلِيماً وَيَسْتَبْدِلْ قَوْماً غَيْرَكُمْ وَلاَ تَضُرُّوهُ شَيْئاً» توبه/39

«اگر براي جهاد بيرون نرويد، خداوند شما را عذاب دردناكي مي‌دهد و قومي را جايگزينتان مي سازد كه جدا از شمايند و هيچ زياني به خدا نمي رسانيد.»

ای کسانی که ندای "حی علی الصلاة" را لبیک گفته اید هیچ خیری در شما نیست اگر " **حی علی الجهاد** "را تنها بگذارید. تا به کی حب جهاد در خوابهای بیداری و حدیث نفس محصور میماند و عیان نمیشود ، جز با لغزشهای زبان؟ تا به کی این علاقه در قطرات اشک خجالت زده ای تنها می - ماند که هنگام شنیدن مصیبتهای مسلمین از چشم سر ازیر می- گردند یا احساس زودگذری که هنگام شنیدن سرود یا خواندن قصیدهای یا دیدن صحنه های جهاد از طریق فلم های جهادی به شما دست میدهد؟ تا به کی حب جهاد یک سرگرمی از سرگرمی ها باقی میماند که اوقات فارغ تان را با آن میگذرانید؟

ای کسانیکه شوق و زوق جهاد دارید ولی از نعمت جهاد خویش را محروم نموده اید، ما شما را بین خود می - خواهیم، و اگر شما را نیافتیم همچنان میجوییم و می - جوییم. شما را در خلال محصولات رسانهای مان هدف قرار میدهیم و برایتان کمینهای تشویقی و مینهای تحریکی کار میگذاریم تا که حرکت و جنبش را در شما منفجر کند، و ذهن شما را مشغول کرده و قلبتان را برای پیوستن به کاروان قهرمانان پر از شوق کند، تا به ما بپیوندید.

همیشه به دنبال شما خواهیم بود و شما را جستجو میکنیم، مانند آرزوی زیبایی که گاهی شما را به خود می - خواند و یا گاهی مانند سایه خوفناکی که شما را تعقیب می - کند، زندگی را به کامتان تلخ خواهیم کرد هرگاه که به یادتان

میآوریم که مجاهدین را تنها گذاردهاید .نامههای رمزدارمان را در اخبار تلوزیونی و صفحات مجلات و سایتهای اینترنتی برایتان میفرستیم که معنی آنهارا جز شما کسی نمی فهمد. هر خبری که از ما سخن میگوید را خواهید خواند، انگار که از شما سخن میگوید، هر سخنی درباره ما مانند آن میشود که انگار از شما سخن میگوید و پشت کردن شما به ما، را به الله شکوه میکند،شما وارد لیست سیاه تحت تعقیب مجاهدین شدهاید، احساس خواهی کرد که مجاهدین در دنیا جز به دنبال تو نیستند و جز تو را به قتال تشویق نمیکنند، تا اینکه به ما ملحق شوی.

معانی آیات صریح و متون احادیث صحیح تو را تعقیب خواهند کرد، فصول سیره ابن هشام و سطور " اسد الغابة فی معرفة الصحابة" کتب مانند مشارق الاشواق به دنبال تو خواهند بود. هر گز از هیچ یک از عادات روزمرهات لذت نخواهی برد بلکه هر گز طعم هیچ یک از عباداتت را نخواهی چشید مادامی که در جهاد شرکت نکردهای، همچنان به دنبال تو خواهیم بود و تو را تعقیب میکنیم تا اینکه به ما بپیوندی

برادران ایمانیام، امت اسلام به طواغیتی دچار شده که مردم را از دینشان منحرف کرده اند، سنت مهجور گشته و بدعت شایع شده است، و فطرت فاسد گشته و جهاد فی سبیل الله در چشم بسیاری از عوام مسلمین ماجراجویی و ریسک بازی شده است. شیاطین انسی در کنار شیاطین جنی، در راههای عبور مسلمان نشستهاند و او را از جهاد فی سبیل الله باز میدارند و به او میگویند: در راه الله جهاد می - کنی و کشته میشوی و زنت بیوه میشود و به ازدواج دیگران در میآید و بچه هایت یتیم میشوند ! به او میگویند: چرا همسر زیبایت را ترک میکنی، چه کسی مادر ناتوانت را پرستاری میکند، چه کسی بعد از تو طفل کوچکت و پدر پیرت را سرپرستی میکند؟ چگونه شغل پردرآمدت را رها میکنی و از خانه گرانبهایت جدا میشوی؟

اما اگر به آنها بگویی که برای جهاد فی سبیل الله نمیروی، بلکه برای گذراندن تعطیلات تابستانی سفر می - کنی حتماً خواهی دید که چهرهها ی شان از خوشحالی درخشان شده و تو را با وقت و مال و مشورت یاری میکنند و آرزو میکنند که با تو همراه میبودند :

«لَوْ كَانَ عَرَضاً قَرِيباً وَسَفَراً قَاصِداً لاَّتَّبَعُوكَ وَلَكِن بَعُدَتْ عَلَيْهِمُ الشُّقَّةُ» (توبه/42)

«اگر غنائمي نزديک (و در دسترس) و سفري سهل و آسان باشد (به طمع دنيا) از تو پيروي مي كنند و به دنبال تو مي آيند، ولي راه دور و پردردسر (همچون تبوک) براي ايشان ناشدني و نارفتني است.»

برادرم برحذر باش که این دشمنان که در لباس خانواده و دوستان پنهان گشته اند، تو را از فریضه جهاد باز میدارند. برحذرباش که تو را فریب داده و گمراهت میکنند:

«يَا أَيُّهَا الَّذِينَ آمَنُوا إِنَّ مِنْ أَزْوَاجِكُمْ وَأَوْلَادِكُمْ عَدُوّاً لَّكُمْ فَاحْذَرُوهُمْ» (تغابن/14)

«اي مؤمنان! قطعاً بعضي از همسران و فرزندانتان دشمنان شما هستند. (شما را از راه خدا باز مي دارند، و از عبادت و طاعت سست مي گردانند) پس از ايشان خويشتن را بر حذر داريد.»

ای متردّد، برحذرباش که زندگی را طبق معیارهای دیگران بپذیری بعد از آنکه حق را دیدهای و ژرفای قلبت را لمس کرده است، مانند ابو طالب کاکای رسول الله صلی الله علیه وسلم مباش، که یقین پیدا کرده بود که برادرزاده اش پیامبر است، و هنگامی که مرگش فرا رسید اصرار داشت که عاقبتش آن باشد که دشمنانش میخواهند، و در آخرین رمق خود گفت: بر دین اجداد قریش.

و تو ای کسی که دانسته ای که جهاد حق است و با این حال خانه نشینی را اختیار کردهای: هنگامی که روی رختخواب بیماری مرگت فرا رسد، و کسانی که روزی گمان میبردند که جهاد نابودی وخانه نشینی ماندگاری است دور سرت جمع میشوند و نگاههای عزا را با سکوتی ناامید و با اشکهایی خجول که عاشقترین آنها به تو، از چشمانش سرازیر میکند، و اما دیگران ذهنشان مشغول کار غسل و کفن و دفن..... خواهد بود، روی رختخوابت وردی را نوشته اند

که آخرین دروغشان را به تو تفهیم کنند: شفای عاجل، در حالیکه یقین دارند که مرگ آمده تا تو را از بینشان ببرد . و هنگامی که مرگ چنگالش را نشان دهد، همه وردها فرار کرده و سودی نمیرسانند .آنگاه خواهی دانست که زیان زده تو هستی و آن خانهنشینان اطرافت که از جهاد بازت میداشتند، تو را فریبداده اند، خواهی دانست که تو با آن مجاهدینی که دوست داشتی یکسان نیستی هر چند در عقیده و فکر و ادعای حب جهاد فی سبیل الله به آنها شبیه هستی، آنها آنطور که دوست داشتند و آرزویش را میکردند مردند و تو آن طور که خانه نشینان اطرافت دوست داشتند مردهای و لاحول و لا قوة الا بالله.

برادران ایمانیام، بدانید که هنگامی که یقین ضعیف میشود و ایمان سست میشود و نفس برای معیارهای اعتقادیاش بر آنچه که از حواسش در مییابد تکیه میکند، در آن هنگام انسان گامی به مادی گرایی نزدیک میشود و به همان اندازه از ایمان به غیب دور میشود، در نتیجه به دنیا روی آروده و به آن دل خوش میکند و از آخرت روی گردان شده و از یاد آن اوقاتش تلخ میشود و زندگی دنیا در نظرش، حقیقت و معقول میگردد و زندگی آخرت خیال و مجهول، اینجاست که عقیده انسان منحرف گشته و عقلش از تصور هر نوع شکلی از اشکال زندگی غیر از زندگی که در این دنیا تجربه کرده، عاجز می شود.

آری ما شهیدی را ندیدهایم که به دنیا بازگردد تا به ما از دیدنیهایش بگوید اما این ایمان به الله و کتاب و روسلش میباشد، ایمانی که ما را وا میدارد که مرگ در راه الله را آرزو کرده و مشتاقش باشیم، و سوگند به کسی که جانم در دست اوست دنیا بر مؤمن تنگتر از رحم مادر بر جنینش است و آسانترین راه برای رهایی از این تنگی و اسارت، شهادت فی سبیل الله است. بلکه خون و رنج و دردهایی که جنین برای رسیدن به زندگی دنیا وارد آن میشود، اگر به کشته شدن شهید که از دردش جز مانند گزیدن مورچه، احساس نمیکند، مقایسه شود، مصیبت بزرگ و هراسناکی به شمار میآید. این است مرگ در فرهنگ مجاهد، انتقالی است از زندگی ناقص به زندگی کاملی که قبلاً آن را تجربه نکرده اما آن را از غیب همانطور که الله تعالی آن را وصف کرده است، شناخته است: «وَيُدْخِلُهُمُ الْجَنَّةَ عَرَّفَهَا لَهُمْ» (محمد/6)

«و آنان را به بهشتي داخل خواهد کرد که آن را بديشان معرفي کرده است.»

کسانی که در راه الله کشته شدهاند مرده نیستند هرچند که اجسادشان را زیر خاک دفن کنید، مرده نیستند هرچند که بر آنها در جمله اموات، رحمت بفرستید، مرده نیستند هرچند که بر آنها اشک بریزید و به خاطرشان خانه عزا بگشایید، آنها زنده هستند اما شما درک نمی کنید، آنها در مکانی زنده هستند که حواس شما قبلاً آن را تجربه نکرده و آن را نمیشناسید و اگر الله تعالی به شما امکان میداد که لحظهای به زندگی آنها در بهشت نگاه کنید میادین جهاد از طالبان این زندگی پر میشد، و اگر الله تعالی به شما امکان شنیدن سخن گفتن بین دو شهید را در کالبدهای کبوترهای سبز بهشتی، را میداد میدانستید که آنها هستند که برای شما از الله رحمت و استقامت درخواست میکنند .

شهادت، درجهایی است بسیار رفیع .. مؤمنان آن را خواهانن .. و صادقان برای رسیدن به آن تلاش میکنند.

با آن.. درجات، بالا میرود..

و با آن.. گناهان پوشیده میشود..

و با آن.. مومن به آرامش، امنیت و سعادت خواهد رسید.. چه آنگاه که روح از بدنش جدا میشود و چه آنگاه که در قبر است و چه، روز سختی بزرگ (روز قیامت).

و در بالاترین درجات بهشت، از نعمتهای خداوند بهرهمند است.. و هنگامی که کالا، بهشت باشد.. باید که بهای آن نیز زیاد باشد.

اللهم و اکفناهم بما شئت، أنت مولانا و لا مولی لهم

وآخر دعوانا ان الحمد لله رب العالمین

سجاد

گفتار نه؛ د کردار تله . . .

له مونږ څخه هر یو سړی د چارو تنظیمونکی دی ، له وړاندې د ټاکلو شویو اهدافو لپاره د خلکو ترمنځ نظم ونسق راوستل تل یو له ستونزو ډک کار وي ، زیاتره وخت لیدل کېږي چې د ځان شاو خوا خلک منظمول ستونزي لري ، ویل کېږي "خلک تر هغه کارته نه آماده کېږي، څو پرلپسي ونه ځارل شي " ایا دا رښتیا ده ؟څما په اند: دا یوه مفکوره او نظریه ده ، خو مثال او د عمل په زړپورې رویه نه ،هرکله چې هم دیو چا قدرو قیمت پېژندنې معیار دا وس په ځای د ماضي کارنامي وګرځول شي ، بیا د غه نظریه زېږون مومي.

"نک پلینګ " پخپله یوه لیکنه کې د لومړۍ درجه مسؤلینو لپاره زرین اصول ښودلي، خو ذما په اند د هغو ګرانبیه اصولو اطلاق د اجتماعي ژوند پرته زموږ پر شخصي ژوند هم کېږي ، ددې ترڅنګ په کورنۍ ، ټولنه ، کاروبار او د دفترونو په ګډون هرځای په دې زرینو اصول عمل کیدای شي ،هم دا راز د لیکوال دا څېړ نه چې خلک څه ډول په مؤثره توګه یو ځای او تنظیم شي؟ دا نه یوا ځې د کامل او اکمل دین(اسلام) د ټولنېزو او اخلاقي اقدارو سره بشپړ سمون لري ، بلکې په ښه اسانه توګه د نبوي سیرت په رڼا کې یې هم ارزونه شوي.

دوګړو تنظیمول:

په ګفتار نه؛ بلکې د کردار په ترازو تول ضروردی !! ستا عمل باید ستا د خپل ټیم لپاره مثال او د تقلید وړ وي!

وایي: ستا د عمل غږ باید ستا د لفظونو له غږ ډېر لري وا ورېدل شي ، نو د عمل او کردار له پلوه زیات احتیاط ته اړتیا ده ، د ټولنې د سالمي رهبرۍ او د خلکو د ښه تنظیم لپاره پوهانو د دې لاندې څو مهمو نکاتو او کار ېدونکي مهارتونو ل اړین ښودلي.

هرکله چې هم ته ! له بل سره خبرې کړې،نو بشپړ يوائيتوب او توجه يقيني کړه ، بايد دخبرو په منځ اودوران کې تيلفون يا بل څه خلل پېښ نکړي اوهم د خبرو دوخت لپاره يو ښکاره او کافي حد تعين کړه...

۲ - بل ته هم موقع ورکړه چې هغه خپله پيل کړي خبره بشپړه کړي او هغه ته ښه غوږشه ! ،خپل نوبت ته انتظار وکړه ! د ځان دننه د ښه په زړه پورې او مؤثره تو گه اورېدلو صلاحيتونونه پياوړي کړه ! په ياد ولره ! چې ښه غږېدونکې به ښه اورېدونکې هم وي ! باور ورکړه چې ته دهغه له خبرو سره دلچسپي لري او داډ ورکړه چې په رښتيا دهغه خبروته غوږيي !

ددې اظهار په غير يز تاثر، داثبات په موخه د سرپه ښورولو اولږوړاندې طرف ته په ورکگېدو سره کولی شي ، داورېدو په دوران کې خلکو ته اهميت ورکول له يو بل سره داړيکو په جوړولو اوټينگولو کې رول لري.

۳ - خامخانکته چينې اوبحث مه کوه ، په ياد ولره ! هرمؤثر ابلاغ په معقوله مفروضه سملاسي بصيرت غواړي.

۴ - که غواړې چې کامياب مشر شي !نو دلږځنډ لپاره ځان کشر شمار کړه اوبيا دپرېکړې سوچ وکړه چې اياته اوس هم ښه پرېکړه کولی شې؟

۵ - په زبر دستي داختتام هڅه مه کوه ! بلکې دو مره انتظار وکړه چې هغه(اختتام) پخپله راشي.

۶ - په توکوټکالو او گپ شپ دچارازمه برسېره کوه !

۷ - ديوه څېړپه اړه مختلفو خلکوته اندازې مه بيانوه ، (پخپلو کشرانو ملگرو کې دخپل رول اودرنښت ساتلو ته ځير اوسه)

۸ - دچا ترشاه هغه خبره مه کوه ! چې دهغه په مخکې يې له کولو ډډه کوې په يو چاکې د ليوالتيا ، سازش او له منفی سوچ اجتناب وکړه !

۹ - همېش سپينې وينا اوحقيقت ته غاړه ټيټه نيسه او مثبت سوچ ډېرکوه !

۱۰ - دخلکو په اړه خپلې راې ترهغه د ځان سره ساته ،څو هغه دحقيقت ښه مومې.

دا يوبل غوره نصيحت دی ، کوم چې دبشر داړيکو په تړاو غوره دي ، د "هنري فوډ "په خبره: که دبري يوائينی راز شته ، نو هغه دادی: چې دنورو نظرونوته غوږباسه ! بيا يو وخت هغه(نظر) دخپل او دنورو نظرونو په رڼا کې وارزوه ،په پای کې دچارو ديوه منتظم او مسؤل لپاره ديوبل هنرشتون هم ضروري دی: هغه داچې د خلکو سره داړيکو جوړونې اوپالنې صلاحيت لرل دنظري اوفني صلاحيتونولرلونه ډېر لوړ دی.

پای

د BBC تعصب دفلسطین په قضیه کې

شهید زوی..............................

په نړۍ کې دټولونه د زیات شهرت نه برخمنه برتانوي ملی نشراتي اداره دامهال دخپل وجود په تېر ۸۵ کلن تاریخ کې دتر ټولو سخت بحران سره مخامخ ده ، او بې له شکه چې خپل اعتبار یې تربل هروخت زیات له لاسه ور کړیدی.

ورانديې له دې چې په اوسني بحران وغږیږو لږ به د بي بی سی په پخوانو مشکلاتو هم رڼا واچوو.

محترمو لوستوالو ته به یادوي چې د تېر یانې ۲۰۱۲ کال دوتو په وروستیو کې بی بی سی دسختی بدنامی سره هغه مهال مخامخ شوه کله چې داخبره رابنکاره شوه چې د بی بی سی یو پخوانی مشر ,,جمی ساول,, له لورې د تېرو ۴۰ کلونو راهیسی کم عمره انجونې او هلکان په پرله پسې توګه دجنسي تېري بنکار کېدل. دحیر انتیا خبره خو داوه چې دجمي ساول له لورې دکوچنیانو د جنسي تېري دا ۴۰ کلنه لړۍ د بی بی سی په دفتر کې دننه روانه وه خو د بی بی سی نورو لوړ پوړو چارواکو پرې پرده اچوله اویا ترې نه ووخبر.

داخبره هم رامخې ته شوې وه چې په ۲۰۱۱ کې دجمي ساول دمړینی نه څو اوونۍ پس د بی بی سی نیوزنایټ (شپیني خبرونو)پروګرام کې دهغه د کړنونه پرده پورته کېدونکې وه خو ناڅاپه داتفتیشي پروګرام ترک اوپر ځای یې د تېر کال دکرسمس په موکه دجمی ساول په اړه د توصیف او تعریف نه دک درې جوړ شوي پروګرامونه یو په بل پسې نشر شول او د بی بی سی مشر جارج اینټ وسل وعده وکړه چې ددې پیښې پوره څېړنه به وکړي او حقایق به رامخې ته کړي خو تر اوسه هیڅ رامخې ته نه شول.

ددې پیښې نه څو ورځې پس د ۲۰۱۲ د نومبر په ۲ مې نیټې د بی بی سی په نیوزنایټ پروګرام کې دا دعوه وشوه چې د,, مارګریټ تیچر ,,د واکمنی پر مهال د ,,توري,,ګوند یو مهم مشر په شمالي ویلز کې د کوچنیانو د ساتنې او پالنې په یوې ادارې کې پر کوچنیانو جنسي تېري کې ککړ و، ددې مشر نوم نه و اخستل شوی نو په رسنیوو کې پرې بحثونه پیل او وویل شول چې شاید دا به ,,لارډمیک الپاین,,وي خو میک الپاین په ډېرو سختو ټکو دا خبره رد او ویې ویل چې په خپل عمر کې مې ایله یو ځل شمالي ویلز ته سفر کړی چې مې پکې د کوچنیانو یادې ادارې ته سر هم ندې ور بنکاره کړې.

پر لارډ میک الپاین دا تور په یادې اداري کې د جنسي تیري د بنکار شوي میشم نومې یو تن پر شهادت ولاړ و، دپروګرام د نشرېدو نه پس میشم ته دلارډ میک الپاین عکس ور وبنوول شو چې آیا دا هم هغه شخص دی چې پر تا یې کوچنیتوب کې جنسي تېری کړی و؟ هغه وویل نه دا هغه تن نه دی.

بیا وروسته معلومه شوه چې د اصل مجرم نوم هم میک الپاین وچې هغه لا ډېر د مخه مړ شوی و.

دجورنالیزم د اصولوله مخې د نیوزنایټ د پروګرام د نشر نه وړاندې باید میشم ته د میک الپاین عکس وربنکاره شوی او تصدیق ترې شوی وای خو چې داسې ونه شو او پخپله میک الپاین هم په دې اړه ونه پوښتل شو او نه یې موقف نشر شو نو دادجورنالیزم داصولونه سخت مخالفت وځکه خوپه سبا بی بی سی د ډېر تأسف اظهار وکړ او په خپلو کړو یې بښنه وغوښته، خو خبره همدلته پای ته ونه رسېده بلکې کله چې د بی بی سی د سهار په ،، ټو ډی،، (نن ورځ) نومې پروګرام کې د بی بی سی د مشر اینټ وسل سره جان همفریز مرکه کوله نو دداسې سختو سوالونو سره یکې مخامخ شو چې په جواب ورکولو یې ونه توانېد. اینټ وسل د مرکې په جریان کې دا حیرانونکې اعتراف هم وکړ چې نه یې د نیوز نایټ هغه پروګرام لیدلی وچې یکې په لاره میک الپاین تور لګیدلی و او نه یې هم په ګاړدین ورځپاڼې کې د میشم تردیدي مرکه لوستې وه. کله چې ترې جان همفریز وپوښتل چې د بی بی سی د مسئول په حیث ددې پروګرام نه لیدل خپل مسئولیت کې پاتې راتلل نه ګڼې؟ نو هغه مناسب جواب ورنکړای شو.

ددې مرکې د نشرېدو نه پس اینټ وسل ته له استعفی ورکولو بله لار نه وه پاتې نو ځکه یې تر ماښامه خپله استعفی اعلان کړه.

اوس چې بی بی سی د خپل تاریخ د ترټولو ستر بحران سره مخامخ ده پیل یې لا ۹ کلونه وړاندې هغه مهال شوې وچې دې اداري دبرتانې دهغه وخت د لومړي وزیر ټوني بلیر د غدر اودروغونه یو څه پرده پورته او ویلي یې وو چې د ټوني بلیر اداري پر عراق د یرغل د جواز لپاره د صدام حسین له لورې د عامه وژونکو وسلو خطر قصدأ لوی وړاندې کړی و.

ددې خبرو د خپرېدانه پس ټوني بلیر د بی بی سی پر ضد منظم فعالیت پیل کړ چې په نتیجه کې یې د بی بی سی دهغه مهال مسئول ،، ګریګ ډایک ،، استعفی ورکولو ته اړ شو او پرځای یې ،، مار کټامپسن،، ته د بی بی سی مشري ورکړل شوه. مار کټامپسن د دولت غوښتنو ته سر ټیټ کړ او چې دولت څه ویل هغه یې ومنل. کله چې دولت مار کټامپسن ته حکم وکړ چې په لګښتونو کې د کمي راوړلو لپاره په لوړه کچه اقدامات وکړه! نو مار کټامپسن د بي بي سي په مختلفو څانګو کې چاڼ پیل کړ او ۳ زره او ۵ سوه کار کوونکي یې له خپلو دندو ګوښه کړل او د ۱۵ مختلفو ژبو خپرونې یې هم ودرولې.

د مار کټامپسن په اړه دا خبره هم ډېره مشهوره وه چې هغه د اسرائیلو ګټو ته ډېر ژمن و ددې لپاره څوشواهد هم وړاندې کېږي دمثال په توګه د ۲۰۰۹ کال په جنورۍ کې پر غزې د اسرائیلو د یرغل پر مهال د دطبعي آفتونو دعاجلو مرستوبر تانوي تنظیم له لورې د غزې د محصورو اوسیدونکو سره د مرستو غوښتې داعلان نشرولو نه مار کټامپسن انکار وکړ. په تنظیم کې دبرتانې ټولې خیراتي اداري همغږې وې نوځکه کلیسا، دکابینې څو وزیرانو، ازادو رسنیوو او آن تر دې چې دبی بی سی یوشمېر جورنالستانو دبی بی سی ددې اقدام غندنه کړې وه اویواځې په ۳ ورځو کې بی بی سی ته په دې اړه ۱۱ زره شکایت لیکونه رسېدلي وو خوبی بی سی بیاهم ونه منله اومسئول یې بهانه داوویله چې دلته دې تشویش شتون درلود چې ددې اعلان دنشر په نتیجه کې چې کومې مرستې راټولېږي هغه به فلسطیني ولس ته ورسېږي او که نه؟

له دې وړاندې د ۲۰۰۵ په نومبر کې مار کټامپسن په تل ابیب کې د اسرائیلو د لومړي وزیر آریل شارون سره لیدلي وو، په بی بی سی کې داسرائیلو اوفلسطین په اړه دنشرېدونکو خبرونو او تبصرو دڅرنګوالي په هکله په خپلو کې سره سلا مشورې شوی وې اوپه دې اړه ددواړو تر منځ یو سند هم لاسلیک شوی و. د بی بی سی د مشر په حیث دا لیدل عادي لیدل نه وو نوځکه له دې امله د ډېرو زیاتو اعتراضونو لاندې راغلی و. دبر تانې دباندنیوو چارو ووزارت په توسط دبی بی سی نه غوښتل شوی وو چې ددې لیدنې جزئیات دې بی بی سی

خپاره کړي خوبي بي سي ترې انکار وکړ او پلمه يې داجوړه کړه چې ددې ليدنې جزئيات نه وو ثبت شوي .

ددې ليدنې نه پس په خپلو خبرونو او تبصرو کې بي بي سي ټول هغه اصطلاحات کارول پيل کړل چې به پرې د اسرائيلو دريغ تائيدېدلو، مثلاً د مسجداقصی قبة الصخره ته به په انګريزي کې ..دوم آف دی راک.. (دلويې ګټې ياپربنې ګنبت)اصطلاح کارېدله خو ددی ليدنې نه پس ور ته بي بي سي په خبرونو کې د اسرائيلو اصطلاح ..ماونټ ټيمپل .. (دمعبد غونډۍ)کارول پيل شول چې تر ننه همدا اصطلاح کارول کېږي . لامل يې دادی چې ديهودو دعقيدې له مخې په کومې غونډۍ چې اوس قبة الصخره ده ددېنه لاندې دحضرت سليمان عليه السلام دعبادت خانې بنستونه دي چې ور ته درسېدلو په لار کې بايد قبة الصخره او ټول مسجداقصی ړنګ او هيکل سليماني جوړ شي .

همدا راز په ١٩٦٨ کې د اسرائيلو له لوري غصب شويو سيمو ته د مقبوضه خاورو اصطلاح نه کاروي بلکې دويست بانک west bank (غربي غاړه) اصطلاح ور ته کارول کېږي.

يروشلم ته نه يواځې داچې مقبوضه يروشلم نه وايي بلکې د تېر کال داولمپيک دلوبو پر مهال خوبي بي سي داسرائيلو په پلازمېنې تعبيرولو

د مارک ټامپسنن همدا د يهودو طرفداري وه چې د بي بي سي د مسؤليت نه د استعفى ور کولو سره سم ور ته د نيويارک ټايمز مسؤليت ورپه برخه شو. په بي بي سي کې د مارک ټامپسن کلنی معاش ٨ لکه او ٣٤ زره پونډه وو خو په نيويارک ټايمز کې ور ته د کال ٦ ميلونه ډالر ور کول کيږي .د بي بي سي اداري کې د کار کونکو تر منځ دا خبره اوس هم مشهوره ده چې نيويارک ټايمز چې د يهودانو ملکيت دی مارک ټامپسن ته پکې دا دومره لوړ معاش او مسئوليت په بي بي سي کې د اسرائيلو د خوښی سره سمې پاليسۍ د رواجولو په بدل کې ور کول کيږي.

همدالامل دی چې لا ډېر دمخه په بر تانې کې دننه او بيرون د بي بي سي ليدونکو او اورېدونکو د بي بي سي اسرائيل پلوي او پر فلسطينيانو د اسرائيلو د ظلمونو نه بشکاره کولو شکايتونه کول خو اوس يو قدم وړاندې اخستل شوی . د بي بي سي ناپيلتوب په رسمي توګه د سوال لاندې راتلونکي دی او په ړومبي ځل د بي بي سي د اسرائيل پلوۍ په اړه په بر تانې کې هغو عامو بر تانويانو کمپاين پيل کړی دی کوم چې د رسنيو ناپيپلتوب غواړي او د بي بي سي اسرائيل پلوۍ ناراضه کړيدي . محکمې ته د بي بي سي دمسؤلينو او د بي بي سي د اداري نظم دفتر بي بي سي ټرسټ درابنکلو دغوښتنې لپاره دولسي وګړو نه امضاګانې اخستل کېږي چې تر اوسه ١٩ سوو تنانو ددې غوښتنې په حق کې امضاګانې کړيدي او چې کله شمېر ١٠ زره ته ورسېږي نو بيابه بي بي سي په قانوني لحاظ مسؤله وي چې دخلکو اندېښنو ته جواب ووايي .

تر اوسه چې کومو ١٩ سوو تنانو امضاګانې کړيدي پکې دقاطع اکثريت رايه داده چې د بي بي سي راپورونو کې دفلسطينيانو سره تعصب او د اسرائيلو طرفداري په ډېر شدت محسوسېږي . د بي بي سي راپورونو، خبرونو او تبصرو ته خلک داحترام او قدر په نظر ګوري خو اوس عام وګړي داسې

محسوسوي چې دټول منځني ختیځ او په ځانګړي توګه داسرائیلو او عربي نړۍ ترمنځ دروابطو او دفلسطیني ولس اړوند خبرونو او تبصرو کې ناپلیتوب نه وي او ټول داسرائیلو پرګټو راڅرخي ، دوئ داهم ویلي چې دیوې شخصي نشراتي ادراې له لورې که داکار وشي نوزیاته دتعجب او تشویش وړ نده خو دبي بي سي په څېر اداره چې دبرتانوي ولس په وړاندې مسؤله ده داسې کړه یې دزغم او منلو وړندي .

دیادولو وړده چې دمنځني ختیځ په اړه دبي بي سي پرخبرونو ، راپورونو او تبصرو لادېر له وړاندې اعتراضونه راروان دي چې په دې اړه بي بي سي خپل یو نامتوجورنالست ,, میلکم بیلن ,, ته دڅېړنې وظیفه هم ورکړې وه میلکم بیلن په ۲۰۰۴ کې پدې اړه یو مفصل تحقیقي راپور وړاندې کړ خو خلک ټول پدې حیران شول چې بي بي سي ددې راپور دخپرولو نه انکاروکړ ، دبي بي سي ددې انکار په سر خبره تربرتانوي محاکمو ورسېده خو له بده مرغه چې محاکمو هم بي بي سي ددې راپور خپرولو ته اړ نکړای شوه او ترننه ددې راپور نشر ته لاربرابره نه شوه .

همداراز کله چې د ۲۰۰۵ دجولای په ۷مه نېټه په لندن کې بمي برېدونه وشول نو بي بي سي په برتاني کې دمېشتومسلمانانو نه دفلسطینیانو او اسرائیلو په اړه دموضوع نه وتلې ډېرې نااشنا پوښتنې کړې وې چې له امله یې په برتانیه کې دمسلمانانو دتنظیمونو اتحاد ,, مسلم کاونسل آف برټن ,, په ډېر شدت دبي بي سي په اړه داشکایت راپور ته کړی و چې بي بي سي په برتاني کې دمسلمانانو په اړه په خلکو کې بې اعتمادي ته لمن وهي او داسرائیل پرستۍ پالیسي مخ په وړاندې بوځي ، ګېنې په برتانې کې چې بمې چاودنې کېږي دمسلمانانو نه دفلسطینیانو او اسرائیلو په اړه دپوښتنو څه معنی ؟

دفلسطین دمسلمانانو سره دبي بي سي دتعصب یوه بېلګه داهم ده چې هغه په سونو زره فلسطینیان چې د ۱۹۴۸ او ۱۹۶۷ م په جنګونو کې دخپلو کورونو نه ویستل شوي او دمنځني ختیځ مختلفو هېوادونو ته په کډه کولو مجبورشویدي اسرائیل یې بېرته خپلو کورونو ته دراتلو حق نه مني نو ورته دبېرته راتللو دحق لرونکو پرځای دبېرته راتللو دغوښتونکو توری کاروي بي بي سي هم پخپلو نشراتو کې همدا داسرائیلو دمطلب کلمه استعمالوي او داسرائیلو ددریځ دتقوی او رواجولو هڅه کوي .

ډېرخلک داشکایت هم کوي چې دبي بي سي په پروګرامونو او مرکو کې دفلسطین په پرتله داسرائیلو وزیرانو او ویندویانو ته زیات وخت ورکول کېږي اولامل یې دابښوول کېږي چې دبي بي سي مسؤلینوباندې تل د ,, برټش اسرائیل کمیونټي کمیشن ,, نومې هغه یهودي تنظیم وېره ناسته وي کوم چې دبي بي سي نشرات په ډېر دقت څاري او داسرائیلو دګټوخلاف شي په نشرېدو دشکایتونو نه تم کېدونکی لړۍ پیلوي .

دفلسطیني مسلمانانو سره دتعصب اواسرائیل پرستۍ په هکله داوسني رامنځته شوي ولسي غبرګون نه پس په بي بي سي کې دروانې نسل پرستۍ پرضد دغبرګون رامنځته کېدو انتظار کېږي دبرتانې نامتو څېړونکي ,, جمي میک ګورن ,, په یوې مرکې کې ویلي دي چې بي بي سي دانګلستان تر ټولوزیاته نسل پرسته اداره ده ، دبي بي سي یو پخواني مشر ,, براډ کاسټنګ هم اعتراف کړی چې بي بي سي دسپین پوستو اداره ده ، دبي بي سي یو تور پوستي کار کوونکي لیني هینري په داګه ویلي دي چې په بي بي سي کې دنسلي لګکیوو سره دظلم او تعصب نه ډک سلوک کېږي .

خو لنډه دا چې بي بي سي دناپیلتوب ددعوو دروغجنتوب خلکو ته ورو ورو راڅرګندېږي نوځکه دیولړ لویو اعتراضونو لاندې راغلی ده او په تدریجي شکل خپل نړیوال اعتبار له لاسه ورکوي .

اروپــــــا

راتولونه اوتحقیق: عبید قلموال

اروپا، ۱۰ میلونه کلومتره مربع وسعت اومساحت لري اودنفوسوشمیره یې ۸۰۷ میلونوتنوته رسیږي، اروپادنړۍ د ۷ براعظمونوله جملې څخه له استرلیاورسته دوهم وړوکي براعظم دی؛ خوپه پیشرفت اوترقی کې بیادنړۍ له ټولوبراعظموڅخه وړاندې اومخ په وده دی،

دشمال لورته له کنګل شووابو(منجمدشمالی) سره وصل کیږي ، جنوب ته بیادمدیترانی له بحرسره ځان نښلوي، غرب ته یې داطلس اقیانوس موجوددی اوشرق ته داوران غرونه دی چې هغه په پایله کې له اسیاسره هم خپل حدوداوپولې ټاکي، اروپا، دمرمرودډریاب په وسیله له اسیااودجبل الطارق دتنګي په وسیله له افریقاڅخه جلاکیږي

توره بحیره، ادریاتیک، بالتیک اود مدیترانې دریاب داروپامهم دریابونه ګڼل کیږي، مشهوربحرونه یې عبارت دي له : راین چې په المان کې بهیږي، سن چې په فرانسه کې، دانوب چې په اتریش اوالمان کې اونیپرچې دپخوانې شوروي اتحادپه قلمروکې روان دي

مهمې جزیرې یې عبارت دي له انګلیستان، ایرلیند، ایسلنداومالت څخه چې دامره جزیره ځانګړي هیوادونه دي، نورې جزیرې هم لري لکه دسیسیل اوساردنی چې هغه بیادایټالیاترهیوادپورې مربوط دي، همدارنګه کرس جزیره چې هغه دفرانسې ملکیت بلل کیږي، کرت بیاپه یونان پورې اړه لري، بالنارپه اسپانیې پورې، ګوتلندپه ډنمارک پورې اوبروتانې په فرانسه پورې.

مشهور اوتاریخي ښارونه یې لندن، روم، مسکو، آتن، او برلین شمیرل کیږي

داروپازیاتره ژبې له هندی ژبې اواروپایې څخه مشتقې شوي، چې په ډیرې سختۍ سره داروپایې هیوادونوګړي یودبل په ژبوپوهیږي

له سیاسي لیدلوري څخه اروپاپه دوبرخوویشل کیږي چې یوې ته یې شرقي اروپاویل کیږي چې په هغې کې دروسي په ګډون دپخوانې شوروي اتحاد دهیوادونویوانداز‌ه حصه په کې شاملیږي ، دروسي خاوره چې په نړۍ کې لوی هیوادبلل کیږي په اسیااواروپادواړوکې شاملیږي، سره لدې چې دروسي زیاته څمکه په اسیاکې حسابیږي خو دوګړو هغه جمعیت یې چې د آرال په غرونوکې استوګنه لري هغه بیاپه اروپاکې داخلیږي .

دغه اتحادیه په اصل کې دغربي اروپادوې په موخه د۶ هیوادونو په غړیتوب په کال ۱۹۵۷م کال کې منځته راغله، بیانوموړي اتحاد نورغړی اوملګري هم پیداکړل اووسعت یې پیداکړ.

په کال ۱۹۹۳ کې د (ماستریخت) تړون لاندې داروپایي اتحادیي قوانین وضع اوتعین شول، په کال ۲۰۰۷ ددسمبرپه میاشت یوبل تړون د(لیسبون) په نامه داروپادنوي راتلونکي په عنوان جوړ اوغوره کړای شو.

داروپایي اتحادیي دقوانینوپر اساس اروپایي وګړي کولای شي دتجارت اوسیاحت اونوروارتیاوو په خاطرپه ازادډول سیر اوسفروکړي او دپاسپورټ په ځای دمعرفت دیوه خاص کارډ په واسطه تګ اوراتګ وکړي.

اروپایي اتحادیه، دنړیوال تجارتي سازمان (WTO) او ملګروملتونو عضویت لري چې ۲۱هیوادونه یې په شمالي آتلانتیک (ناتو) کې هم غړیتوب لري.

د اتحادیي مهم ارکان عبارت دي له اروپايي پارلمان ، داروپا له کمیسون ، داروپادوزیرانوشورا ، دعدل او انصاف دیوان او داروپامرکزي بانک .

څلور هیوادونه لکه ترکیه ، کرواسی ، مقدونیه او صربستان داروپايي اتحادیی دغړیتوب په هیله ملې څلې کوي .

داروپايي اتحادیي دغړي هیواد اتباع کولای شي داروپایی پارلمان په ټاکنوکې برخه واخلي اوځان کاندیدکړي .

داتحادیي مرکزیت دفرانسي په استراسبورګ ښارکې شتون لري.

داروپايي اتحادیي غړي هیوادونه مرکال اتحادیي ته خپل ټاکل شوی حق العضویت ورکوي، له بل لوري بیا ټول غړي هیوادونه داروپايي اتحادیی له بودیجې څخه پیسي ترلاسه کوي، په خاص ډول دکرهنې ، کلتوري ودې تعلیم او دپیشرفت په نوروبرخوکې .

دغه راز ددې لپاره چې دمالدارو اوکمزوهیوادونو یوتربله توپیر اوتفاوت کم اوله منځه ولاړشي نومالداره هیوادونه دخپلې مالي پرمختیاپه تناسب حق العضویت تحویلوي اوغریب هیوادونه بیاله خپل حق العضویت څخه زیاتې پیسي دمرستې په نوم ترلاسه کولای شي .

داروپايي اتحادیی مشري دغړوهیوادونو له لوري په نوبت سره دشپږومیاشتو لپاره په غاړه اخیستل کیږي اودنده یې دوزیرانو دمجلس رهبري اودغړو هیوادونو ترمنځ توسط اومیانجګیري ده

داروپايي اتحادیي غړي هیوادونه :

هیواد	پلازمینه
اتریش	وین
بلژیک	بروکسل
بلغارستان	صوفیه
قبرس	نیکوزیا
چک	پراګ
دانمارک	کپنهاګ
استونی	تالین
فنلاند	هلسینکی
فرانسه	پاریس
آلمان	برلین
یونان	آتن
مجارستان	بوداپست
ایرلند	دوبلین
ایتالیا	روم
لتونی	ریګا
لیتوانی	ویلنیوس
لوکزامبورګ	لوکزامبورګ
مالت	والتا
هالند	آمستردام
لهستان	ورشو
پرتګال	لیسبون
رومانی	بخارست
اسلواکی	براتیسلاوا
اسلوونی	لیوبلیانا
اسپانیا	مادرید
سوئد	استکهلم
بریتانیا	لندن

عساکر ووسائط مستکبر جهانی (آمریکا)!

سعید بدخشانی

سپاس وستایش خداوندی را، که نیروهای سفاک وخونخوار جهانی(پیمان ناتو)به ویژه عساکر شریر ودرنده صفتان آمریکای مغرور را، با همه جنگ ابزارها،طیاره های بی 52،هلیکوپتر های نظامی ،طیاره های بدون سرنشین ،تانگ های زیری پوش وضد ماین ، آلات کشفی وجاسوسی ، اسلحه مدرن وتکنالوجی جدید وپیش رفته ،خلاصه با همه غرور ودبدبه اش توسط یک مردم ویا یک قشرکه از لحاظ آلات محاربوی ،جنگی ، اقتصادی وپشتبانه سیاسی نهایت ضعیف وبی چاره بودند،همچو(اصحاب فیل که برای تخریب و ویرانی بیت الله کمربسته بودند خداوند لایزال وتوانا به واسطه مخلوق ضعیف خود درهم وبرهم کرده ،وخانه وبیت خود را حفاظت نمود)، به زانو درآورده وبنیٔ شان را به خاک وخون مالید،علاوه بر رسوای اخروی به نزد جهانیان نیز شرمسار وذلیل ساخت.

وبه همه گان آشکار ساخت که اگرخدا بخواهد ابرقدرت وکفر جهانی را توسط عاجزترین مخلوق دگرگون می سازد،واین شیاطین متجاوز فعلی را همانند قشون سرخ جماهیر شوروی زبون وخجیل ساخت ،همین است که این طواغیت بین المللی چند روز می شود که وسایط وکانتینرهای ، که به چقدر مصارف هنگفت از راه های برّی وبحری وازکشورهای مختلف وازمسافه های خیلی ها دور وبعید وارد افغانستان نموده بودند همین حالا به حالت فلاکت بار وذلت آمیز دوباره به کشورهای کفری بر می گردانند وسلسله انتقالات شان بشدت جریان دارد.

پس ای ملت افغانستان!خوب بدانید که پروردیگار حامی وپشتی بان مؤمنان ومجاهدان راه حق است،نصرت خداوندی شامل حال مبارزان وپیکار جویان راه حریت وآزادی میباشد، وبدانید که هرمشقت آسایشی در قبال خواهد داشت ودارد،وخداوند زحمات وتکالیف مسلمانان را ضایع نمی کند همین حالا شما مشاهده می کنید که همه روزه ساحات ومناطیق مجاهدین وسیعتروگسترده تر شده وروزانه دها تن از صف ورژیم اداره مزدور جدا شده و به مجاهدین امارت اسلامی می پیوندد، وفتوحات روز افزون نصیب مجاهدین می گردد.

شایان توجه !امریکای که همه مردم در اوایل از وحشت ودهشت او

انه وخروج فلاکت بار

خوف زده شده بودند، وهوا دارانش همواره به نفع او تبلیغات می کرد که مقابله با امریکا کاردشوار وسخت است ،بلکه می گفتند مقابله با او حماقت وبی خردی است،زیرا که هیچ چیز از آنهاپنهان نخواهد ماند حتی که زیر زمین را میبینند،پس با چنین مردم پنجه نرم کردن و وارد میدان نبرد وجنگ شدن اصلاً ممکن نیست.

پس مبارزه ومقابله سربازان امارت اسلامی افغانستان در برابر عساکر وحشی واشغالگر جهان کفری ، وضربات پیهم وخستگی ناپذیر سرسپردگان راه اسلام بر پیکر کفر والحاد علی الخصوص بر اعناق آمریکایها،وشکست مفتضحانه آنان وهمینگونه اعتراف خود آنها بر قوّت وحملات مجاهدین،واراء نمودن آنها به ارقام وآمار کشته شدگان ومجروحین سربازانشان همه دسایس وپورپاگندهای قبلی شان را خنثی وتلیسم شانرا درهم کوبده و به خاک یکسان کرد.

اینک فرار را به قرار ترجیح داده وشتاب زده وسائط وعساکر خود را راهی کشورشان نمودند،باید گفت :که همین اکنون اشالگران خود به شکست وخروج شان معترف هستند واعتراف هم کردند.

مارکیس سپید یک سخنگوی نیرو های امریکایی در افغانستان گفت، ایالات متحده 50 کانتینر وسایل را در اخیر هفته گذشته به پاکستان انتقال داد که این کانتینرها، اولین بخش انتقالات تجهیزات نیرو های امریکایی از افغانستان است .

گونتر کتز سخنگوی آیساف در کابل نیز این موضوع را تایید نموده ولی در مورد رقم دقیق این کانتینر ها چیزی نگفت :

»بلی من این را می توانم تایید کنم، اگر کوتاه بگویم، اولین بخش از کانتینرها در حال انتقال اند، رقم دقیق را نمی دانم«.

با خروج نیرو های امریکایی از افغانستان، حدود 50 هزار عراده نظامی امریکایی و 100 هزار کانتینر فلزی که هر کدام حدود شش متر طول دارند، نیز از افغانستان خارج خواهند شد.

اموال امریکایی از راه جنوب افغانستان به پاکستان و بعداً از بندر کراچی به امریکا منتقل خواهند شد.

اندیشمندان و خوانندگان گرامی! شکست غرب وغربیان والحادیون آنها در این سر زمین مجاهدپرور وخاک دلیران یک امرمحتوم ولازمی بوده وهست واینک خود شما به چشم سر مشاهده می کنید که نهایت به ذلت وخواری یکی بعد از دیگر راهی کشورهای خود گردیدند،من ازخداوند هازم الاحزاب رجامندم که بقیه کفار واشغالگرانیکه در کشور ما مانده اند ویا در دیگر کشورهای اسلامی بر ملت مسلمان جبر وستم می کنند ،همه تجهیزات وتکنالوجی شان را نیست ونابود وعساکر وحشی وسردمداران جابر شان را تباه وهلاک ساخته ومسلمانان جهان را از شر وگزند آنان محفوظ نگهدارد. آمین.

حلال خواړه

او اسلامي هیوادونه

اتل ....

اوس مهال په نړیواله تو که د ۶۴ ملیارد ډالرو په ارزښت دحلالو خوړو باذاریامار کیټ شتون لري ،په دې کې بازار کې دمسلمانانو دبرخې سلنه ډېره کمه ده. سربېره په دې چې دنړۍ زیات اسلامي هیوادونه خپله هم ملیونونه حلال څاروي لري، بله حیرانوونکې داده چې دبهرنیو هیوادونو څخه دحلالې غوښې واردونکې هیوادونه دمسلمانانو دي. په خاصه تو که خلیجې هیوادونه د کفرې هیوادووڅخه حلاله غوښه راوړل کېږي ، برازیل چې دنفوسو په حساب نړۍ کې پنځم لوی هیواددی ، هغه دغوښې نړیوال باذار نیولی ، درسنیو له قوله ؛ یواځې په یوه کال کې یې دسمندر لارې دصادراتو له درکه ۱۰ ملیار دډالر ګټه ترلاسه کوي

برازیل دخلیج هیوادونوته ۵۴ سلنه غوښه ورکوي ، دهغه وروسته دویم هېواد هندوستان دی ، هغه دخلیج هیوادونوته ۱۱ سلنه غوښه ورکوي ، دریم دنړۍ بل سیکولر هېواد استرلیاده ،هغه په اسلامي هیوادو ۹ سلنه غوښه پلورې ،له هغې وروسته اروپائې هیوادونه دي ، هغوئ په اسلامي هیوادو ۷ سلنه غوښه پلورې ،بیا نیوزرلیند ،امریکااوارجنټاین راځي هغوئ د خلیج په هېوادو ۸۹ سلنه حلاله غوښه پلورې

هرمسلمان چې په دې پورته لړلیک نظراچوي نو دحیرانتیاوو په سمندر لاهو کېږي ، بل هر اسلامې هېواد هر کال دملیاردو ډالرو په ارزښت تیار شوي خوراکي توکي له بیرون واردوي ، چې په هغو کې د شیدو ، کریم او ملائې څخه نیولې ترغوښې او کیمکلو ټول راځي ،بله داچې دزیاترو اسلامي هیوادونو اړیکې له امریکااروپااوچین سره تړلي دي ، اسلامي هېوادونه راوړونکې توکې دهمدغو هیوادو دي ، په خاصه توګه دخلیج هیوادونو دوبی ، اونورو تنها غربې سوداګروته اسانتیاوي ور کړي اوداسلامي نړۍ سوداګروته پام نلري

اوس دفکرمندۍ ور داده چې دااسلامي هیوادو سوداګر ولې داروپااو امریکاسره سوداګري کوي ؟دویمه پوښتنه داده :اسلامي هیوادونوولې دخلیج دحلالې غوښې واردولو مارکیټ برازیل ، هندوستان ، استرلیا اودامریکالپاره خلاص کړی دی ؟ که مسلمان سوداګر لږه توجه هم وکړي شوني ده چې دغه سوونو میلیارد ډالر دمسلمانانو لاسو ته ورشي ، خو اصلي خبره داده چې اصلا دغه خبره داسلامي هیوادو په پلانونو کې نشته ، تردې زیاتره اسلامې هیوادونه دغوښو واردولو لپاره خپل شرکتونه هم نلري

داسلامي هیوادو سوداګرو ته په دې فکر مندي ښودل پکار دي چې په ټولو اسلامي هیوادو کې دبرازیل هند ، ارجنټاین ، غوښه پلورل کېږي ، ټېره اوونۍ سعودي عربستان داروپا څخه دحلالي غوښي ، په راوړو له دې امله بندیز ولګاو ، چې دغواي غوښي په نوم راوړل شوي غوښه داس وخته ، له هغه وروسته یې له اروپا څخه په راوړونکي غوښي بندیز ولګاو تیره میاشت یو داسې کانتینر هم ونیول شو چې پکې دغوایي په نوم دخنزیر غوښه بار وه

چې دادټولو اسلامي هیوادو لپاره دافسوس ور دی ، چې دهغوئ خپلمنځې تجارت او راکړه ور کړه په نشت حساب ده پکار دا ده چې داسلامي هیوادو ترمنځ دسوداګرۍ اړیکې ډېري پیاوړې وای ، اوکفري هیوادونه په دې لړ کې وروسته وای ، خو اصلي خبره داده چې مسلمانان دیته ډېر لږ پام لري ، اودتجارت پشان لویه شعبه ددوئ دپاملرنې څخه محروم ده ، پکار ده اسلامي هیوادونه او مسلمان سوداګر دیته پام وګرځوي ، چې لږ ترلږه دخوړلو ، څکلو او په بدن دلګیدونکو توکیو تجارت پخپل لاس کې واخلې او په دې لړ سوچ وکړي چې توکې له کفري هیوادو راوړل کېږي ،چې ایاهغه رښتیاهم حلال دي؟

د کلک زړه علاج

مولوي عصمت الله عزام

بسم الله الرحمن الرحیم

نحمده ونصلی علی رسوله الکریم امابعد:

که موږ خپلو حالاتو او ځانونه ته فکر وکړو، راته ثرګنده به شي چي زموږ په ډېرو کارونو کي ډېر نقصانونه او کمي شته.

لکه د بېلګي په توګه په لمانځه کي مو خشوع او عاجزي نشته، د قرآن کریم د تلاوت په وخت کي له قرآن کریم څخه اثر اخیستل په موږ کي کم دی، ژړانه وي، په کاروبار کي له شبهاتو څخه د ځان د ژغورني دهڅونه شتون، د نورو خلګو پر حقونو تېری او ظلم کول په موږ کي شته، د وروڼو په منځ کي د بد ګمانی شتون او په کورنیو کي اختلافات او جنجالونه.

له دغو ټولو نښو څخه جوتېږي چي په موږ کي یو خطرناک مرض موجود دی چي هغه د زړونو کلکېدل دي.

د زړه کلکېدل یو ډېر ناوړه مرض دی چي په مخکنوېي لاري شویو امتونو کي را ثرګند شوی وو او الله پاک د دوی د دې ناوړه صفت له امله بد ویلي او مؤمنانو ته یې حکم کړی چي د دوی له ورته والي څخه ځان وساتئ! او له دې ناوړې ناروغی څخه ځان لېري وساتئ!

الله جل جلاله فرمایلي دي:

{وَلَا يَكُونُوا كَالَّذِينَ أُوتُوا الْكِتَابَ مِنْ قَبْلُ فَطَالَ عَلَيْهِمُ الْأَمَدُ فَقَسَتْ قُلُوبُهُمْ وَكَثِيرٌ مِنْهُمْ فَاسِقُونَ} (سورة الحدید ۱۶)

(ترجمه او چي (مومنان دي) د هغو کسانو په شان نه کېږي چي له دې مخکي کتاب ورکول شوی ؤ، چي اوږده زمانه پرې تېره شوه، زړونه یې کلک شول، او له هغوی څخه زیاتره فاسقان وو!!)

یعني باید مؤمنان د مخکینو کتابیانو له مشابهت څخه ځان وساتي څکه د هغوی زړونه سخت شوي وو، نونه یې وعظ قبلوی او نه د دین طرف ته بېرته را ګرځېدل

له هغوی څخه اکثره فاسقان وو: یعني د زړه کلکوالی په ټولو کي وو، خو ځینو کسانو توبې وایستلې خو زیاترو یې توبې هم ونه ایستلې.

په حدیث کي راغلي دي: وان ابعد الناس من الله القلب القاسي(رواه الترمذي ص ۶۲ج۱۲ ریاض الصالحین ص ۴۴۳) ژباړه: یقینا له الله پاک څخه په خلګو کي ډېر لري کلک زړه دی!!

سخت زړي انسان دحق او باطل ترمنځ توپیر نه شي کولای، له نصیحت څخه ګټه نه اخلي او نصیحت نه قبلوي، حق ته غوږ نه نیسي او دالله تعالی عبادت خوندنه ورکوي.

اسلام زړه ته دپام وړپاملرنه کړې او انسان یې هڅولی چې دی باید دده په بدن کي ددې مهم غړي دعلاج لپاره دېري هلي ځلي وکړي

داسلام دمبین دین سترلاربنود جناب محمد رسول الله ﷺ فرمایلي دي: (الا وان فی الجسد لمضغة إذا صلحت صلح الجسد کله واذا فسدت فسد الجسد کله ألا وهی القلب) متفق علیه (ترجمه:خبرشئ ! دانسان په بدن کي یوه ټوټه غوښه ده، کله چي هغه سمه شي ټول بدن سمیږي او کله چي هغه ټوټه خرابه شي ټول بدن خرابیږي خبرشئ ! هغه زړه دی !!)

دزړه دکلکوالی دختمېدلو لپاره څو علاجونه شته چي دهغو په اختیارولو سره به انشاءالله په زړه کي نرمي پیداشي.

دزړه دکلکوالي علاجونه :

١ له الله پاک څخه هدایت غوښتل او دُعا وې کول.
٢ مسکینانو ته خوراک ورکول.
٣ پریتیمانو شفقت او ترحم کول،

وعن ابي هریرة رضی الله عنه ان رجلا شکی الی النبي ﷺ قسوة قلبه قال امسح راس الیتیم واطعم المسکین(رواه احمد \ مشکاة المصابیح ص ۴۲۵ج۲)

له حضرت ابوهریره رضی الله عنه روایت دی چي یوه سړي رسول الله صلی الله علیه وسلم ته دزړه له کلکوالي شکایت وکړ!

رسول الله ﷺ ورته وفرمایل:دیتیم پرسرلاس تېروه او مسکینانو ته ډوډۍ ورکوه !!

له حضرت ابوالدرداء ﷺ روایت دی چي رسول الله ﷺ ته یو سړئ راغی او دخپل زړه له سختوالي یې شکایت وکړ. رسول الله ﷺ ورته وفرمایل: ته غواړې چي ستا زړه نرم او خپل مقصد ترلاسه کړې؟

پریتیم رحم کوه، پرسریې لاس تېروه، له خپله خوراکه هغه ته هم خوراک ورکوه ستازړه به نرم او خپل حاجت به ترلاسه کړې !!

۴ دفرضي لمونځونو پابندي کول.
۵ دحلال کسب هڅه کول او دامانت اداءکول.
۵ نفلي لمونځونه او نورعبادتونه زیات کول.
۲ دزړه دنرمېدلو لپاره لوی سبب دالله جل جلاله ذکرکول دي

دالله تعالی ذکرچي کوم انسان کوي دهغه زړه به نه سختیږي، څوک چي څومره دالله تعالی له بندګۍ او ذکره غافل شي هغومره به یې زړه سختیږي.

۷ دخبروکمول داهم دزړه په نرمېدلو کي ډېرمؤثرعمل دی.
۸ مسخرې او ګپ شپ پرېښودل، له دې امله له رسول الله ﷺ څخه په ټول عمرکي یوازي شل ځله مزاح رانقل شوې دي، سره ددې چي دپیغمبرصلی الله علیه وسلم ګپ هم حق وي.
۹ دمرګ یادول:دمرګ یاد انسان له ټولو ګناهونو څخه راګرزوي او دانسان په زړه کي له دې امله ډېره نرمي پیداکېږي.
۱۰ دقبرونو زیارت کول ،

دقبرونو زیارت کول دادانسان زړه نرموي ځکه چي دقبرونو دزیارت په مشروعیت کي غرض دادی چي انسان ته آخرت ورپه یادشي او له دُنیا سره یې مینه کمه شي.

کله چي دانسان ددُنیا سره مینه کمه او آخرت ته توجه زیاته شي نو په زړه کي یې نرمي پخپله راځي.

۱۱ جنازي ته حاضرېدل.
۱۲ سخاوت او دخلګو سره نېکي کول.
۱۳ توبې او استغفار ونه زياتول او پرګناه باندي له اصرار کولو څخه ډډه کول.
۱۴ ددیني علم او دذکر په مجلسونو کي ګډون کول
۱۵ دنېکانو خلګو سره مجلس او دعلماوو سيرت ته پام کول.
۱۶ له دُنیا سره مينه کمول، ددُنيوي ژوندانه په کموالي کي، دحالاتو په بدلېدلو کي بې فکر کول او الله پاک چي کوم نعمتونه نېکانو ته تيار کړي دي دهغو سره مينه او رغبت کول.
۱۷ دمريضانو، مصيبت وهليو او مرګ ته نږدې کسانو زيارت کول او ددوی له حال څخه نصيحت اخيستل.
۱۸ دقرآن تلاوت دفکر او سوچ سره زيات کول.

زړه ولـــي کلکيږي

دزړه دکلکوالي اسباب دادي:

۱ له قرآن کريم او دالله پاک له ذکر څخه اعراض او مخ ګرزول:
۲ دفرائضو داداء کولو په هکله کمزوري کول.
۳ حرام مال خوړل.
۴ ګناهونه کول.
۵ په جهالت او ناپوهۍ سره راضي کېدل او دعلم دزدکړي پرېښودل.
۶ تکبر او لويي.
۷ بحثونه او مناظري ډېري کول.
۷ بد اخلاقي.
۸ ډېر خوراک.
۹ ډېر خوب.
۱۰ ډېري خبري.

وعن ابن عمر رضی الله عنهما قال:قال رسول الله صلی الله علیه وسلم :لاتكثر الكلام بغير ذكر الله، فان كثرة الكلام بغير ذكر الله قسوة للقلب، وان ابعد الناس من الله القلب القاسي(رواه الترمذي ص ۶۲ج۲)

له حضرت ابن عمر رضی الله عنهما څخه روايت دی چي رسول الله ﷺ وفرمايل: دالله پاک له ذکر پرته خبري مه ډېروه ،ځکه دالله تعالی له ذکر پرته دخبرو ډېرول دزړه لپاره کلکوالی دی او يقيناله الله پاک څخه په خلګو کي ډېرلري کلک زړه دی !!

۱۱ دخلګو سره ډېر تعلق او ګډون.

ابن قيم رحمه الله ليکلي دي چي زړه دځلورو شيانو له امله سختيږي کله چي ترخپلي اندازې واوړي: خوراک، خوب، خبري او اختلاط (دخلګو سره ډېر تعلق او ګډون)(الفوائد ص ۱۲۷)

۱۲ اميدونه
۱۳ دغير الله سره تعلق.

ابن قيم جوزی رحمه الله ليکي: زړه پنځه شيان خرابوي: ډېر اختلاط(دخلګو سره ډېره ناسته او ګډون) اميدونه، له الله پرته دبل چا سره تعلق، موړوالی(په ډک نس خوراک کول) او(ډېر) خوب(مدارج السالكين ص ۴۴۳ج۱)

وروسته ابن قيم رحمه الله په خپل کتاب کي ددې شيانو تفصيل او لاملونه ليکلي دي.

نو که څوک له دزړه دکلکوالي له دغو اسبابو څخه ځان وژغوري نو انشاءالله زړه به يې نه کلکيږي.

الله پاک دي زموږ زړونه سالم زړونه کړي

وصلی الله علی نبينا محمد وعلی آله واصحابه اجمعين

(مجاهد)

مناقشهٔ شبهاتی در مورد مشارکت در دیموکراسی وپاسخ به آن

پیوسته به گذشته...

شبهه چهارم ـ مشارکت در دیموکراسی به منظور مصلحت دعوت

عدهٔ از اشخاص وگروه های اسلامی به بهانهٔ مصلحت دعوت در نظام دیموکراسی سهم میگیرند و، استدلال میکنند که اگر آنها بهدف انتخاب شدن خود را کاندید نکنند شاید کدام شخص و گروه اسلام دشمن آن جارا اشغال نماید. ویااستدلال میکنند که آنها تلاش می ورزند تا از طریق پارلمان زمینه تطبیق قوانین اسلامی را مساعدسازند. ویا هم استدلال می نمایند که در نظامها وحکومتهای دیموکراتیک به آنهای اجازهٔ فعالیت دعوت علنی داده می شود که دیموکراسی راپذیرفته ودر قالب نظام دیموکراسی زندگی نمایند، وآنهایکه دیموکراسی رانمی پذیرند بامحدودیتهای گوناگون مواجه میگردند، پس برای اینکه اجازهٔفعالیت علنی داشته باشند، وپیام خودرابه همهٔ طبقات جامعه به صورت آشکار رسانیده بتوانند، مصلحت دعوت تقاضا میکند که باید نظام دیموکراتیک راپپذیرند، واز آزدی بیان موجود در دیموکراسی استفاده کنند.

جوابهای چهارگانه در رد دلائل وبهانه های وهمی فوق الذکر

جواب اول : نظامیکه براساس کفر (سیکولرزم) استوار باشد، ودین (وحی الهی) در امور زندگی وحکومتداری حق مداخله نداشته باشد. تعین حلال و حرام در آن مطابق خواسته بشر ودرقالب طاغوت اکثریت انجام می یابد، حق تشریع درآن به شکل مطلق از الله متعال گرفته شده وبه بشر داده شده باشد، وفرق میان کفر واسلام درآن وجود نداشته باشد، وبه همه تنها از دیدهٔ انسان بودن نگریسته شود، وبه قضاوت کافر ومسلمان در مورد اشخاص واشیاء صلاحیت وارزش یکسان داده شود، وامر بالمعروف ونهی عن المنكر به دلیل تضاد داشتنش با آزادی شخصی ممنوع قرار داده شود، وارتداد حق شخصی افراد خوانده شود، واز هر نوع مجازات مصؤون میباشد، وبلند کردن صدای اعتراض ومخالفت بااحکام اسلامی تحت نام آزادی اظهار رأی کار جائز وقانونی شمرده شود، پس آیا مشارکت در همچونظام کفری به معنای طاغوت وپذیرفتن آن نخواهد بود؟

آیا کار کردن درچارچوب چنین نظامی وپذیرفتن آن منافی آن توحیدی نخواهدبود که از همه اولتر کفر ورزیدن به طاغوت راتقاضا می نماید؟ توحیدی که آغازش به (لا إله) شده، وانکار ازهر نوع طاغوت راقبل از (إلا الله) گفتن مطالبه میکند؟

در اسلام ایمان آن شخص درست خوانده نمیشود که توحید رامی پذیرد اما در مقابل شرک موقف دشمنانهٔ آشکار ندارد، وبرضدآن اعلان جنگ نمیکند. الله متعال جل جلاله (کفر

بالطاغوت) را پشتر از (ایمان بالله) یادنموده است ، چانچه می فرماید :

﴿ فَمَن يَكْفُرْ بِالطَّاغُوتِ وَيُؤْمِن بِاللّهِ فَقَدِ اسْتَمْسَكَ بِالْعُرْوَةِ الْوُثْقَىَ لاَ انفِصَامَ لَهَا وَاللّهُ سَمِيعٌ عَلِيمٌ ﴾ البقره / ۲۵۶ .

ترجمه : (پس هر که بر طاغوت کفر ورزد و بر الله ﷻ ایمان بیاورد یقیناً بر حلقهٔ محکم چنگ زده که جدائی ندارد. والله ﷻ شنوا و دانا است) .

پس آیا مصلحت دعوت اسلامی درین خواهد بود که صف کفر جدا وصف اسلام جدا باشد، تا توحیدخالص متحقق گردد. وبیزاری وانکار از کفر به صورت آشکار اعلان گردد؟ و یا اینکه بمقصد بعضی از مصالح موهوم وجزئی مصلحت علیای توحیدقربان شود؟ در اسلام بزرگترین همهٔ مصالح توحید الله متعال جل جلاله، وبیزاری از طاغوت است ، اگر این مصلحت سترگ از بین می رود، پس مصالح دیگر هزار بار از بین بروند.

نشستن در کنار مشرکان، سیکولران ، کمونستان، وملحدین در یک مجلس ،ودر محدودهٔ یک قانون، وبرای پیشبرد یک نظام، وبابه آنها دادن حق تبلیغ وبیان کفر هیچگاهی نه اسلام است ،ونه مصلحت دعوت اسلامی میباشد، بلکه الله متعال جل جلاله از نشستن باهمچو مردم به صورت آشکار منع نموده است، چنانچه میفرماید :

﴿ وَقَدْ نَزَّلَ عَلَيْكُمْ فِي الْكِتَابِ أَنْ إِذَا سَمِعْتُمْ آيَاتِ اللّهِ يُكَفَرُ بِهَا وَيُسْتَهْزَأُ بِهَا فَلاَ تَقْعُدُواْ مَعَهُمْ حَتَّى يَخُوضُواْ فِي حَدِيثٍ غَيْرِهِ إِنَّكُمْ إِذًا مِّثْلُهُمْ إِنَّ اللّهَ جَامِعُ الْمُنَافِقِينَ وَالْكَافِرِينَ فِي جَهَنَّمَ جَمِيعًا ﴾ سورهٔ النساء / ۱۴۰ .

ترجمه : (ویقیناً (الله متعال) در کتاب بر شما نازل کرده است که چون شنیدید به آیات الله کفر ورزیده میشود، وآنها به بازیچه گرفته میشوندباچنین کسانی منشینید تاآنگاه که به سخن دیگری میپردازند. بی گمان درین صورت (که بایشان همنشین شده و با استهزاء آنان گوش فرا می دهید) شما هم مثل آنان خواهید بود، یقیناً الله متعال گرد آورندهٔ همهٔ منافقین و کفار در جهنم میباشد).

در پارلمانهای موجود به طور آشکار دیده میشود که عناصر سیکولر (بی دین) ، کمونستان، بندگان هوا وهوس، وسایر گروهای گمراه بصراحت از ارتداد دفاع میکنند، از قوانین کفری جانبداری کرده، وبر احکام اسلامی چون جهاد، حدود، حجاب وغیره تمسخر میکنند، وبه نامهای بد گوناگون از آنها نام میبرند. ولکن باوجود همهٔ این فجائع باز هم مسلمانان نام نهاد دیموکرات وپارلمانی به بهانهٔ مصلحت دعوت در یک پارلمان بااین زنادقه و مرتدین یکجا کارمیکنند.

جواب دوم : گروهی که خود رانمایندگان مسلمانان معرفی می نمایند در اکثریت پارلمان های جهان اسلام در (اقلیت) قرار دارند که نمی توانند به علت اقلیت بودن در مقابل اکثریت (سیکولر) کوچکترین تبدیلی را در قوانین مخالف اسلام بیاورند . زیرا در نظام دیموکراسی رأی اکثریت (حق) شمرده میشود، وبه همین علت طی هشتاد سال گذشته که دیموکراسی در حکومتهای جهان اسلام رخنه کرده است در هیچ گوشهٔ از جهان اسلام دیده نشده که شریعت اسلامی از طریق دیموکراسی وانتخاب نافذ گردیده باشد. ولی شیفتگان مسلمان نمای دیموکراسی با وجود اینهمه از دیموکراسی دستبردار نمیشوند، وبهدف تحول مثبت به منهج نبوی اسلام رجوع نمی کنند، که این باعث شکوک درنیات واخلاص مدعیان خدمت به اسلام ازطریق دیموکراسی میگردد.

جواب سوم : مشرکین مکه نیز به پیامبر ﷺ پشنهاد تشکیل یک نظام مشترکی که شبیه دیموکراسی امروز بود کرده بودند، که در آن از یکطرف عقاید، نظریات، تصورات، واعمال شرکی آنها مصؤون میبود، واز جانب دیگر شایداسلام نیز تاحدی درآن دیده میشد. ولی تفاوتش بادیموکراسی امروزه درین بود که مشرکین مکه درآنزمان

رهبری،زعامت،مال ،وحتی حکومت وقیادت سیاسی را بدون انتخابات و کسب اکثریت آراء به پیامبر ﷺ میسپردند. چنانچه در سیرت مبارکه رسول الله ﷺ آمده است که : رهبران مشرکین مکه مجلسی را تدویر نمودند، ودرآن فیصله کردندتا (عتبه بن ربیعه عبشمی) راکه یکی از بزرگان قبیله (بنوعبدالشمس)بودباهمین پیشنهادبه پیامبر ﷺ بفرستند. عتبه پیشنهاد مشرکین رابه صورت ذیل به رسول الله ﷺ ارائه کرد:

(ای برادرزاده! خودت میدانی که تو در میان ما از حسب ونسب خوبی برخوردار هستی،مگر برای قومت چنان دینی راآورده ای که به سبب آن اتفاق واتحاد قومت ازمیان رفت. قومت را کم عقل خواندی، وایشانرا بد گفتی،دین شانرا کفر ،وپدران ونیاکان شانرا کفار خواندی،من چند پیشنهادی برایت دارم ،آنهارا بشنو! ممکن است عدۀ از آنهارا بپذیری!

رسول الله ﷺ به او گفت : ای ابو الولید! بگو!آنرا می شنوم . عتبه پیشنهادهای خودرا چنین مطرح کرد :

(ای برادر زاده ! اگر تو با این پیامبری مال میخواهی ، آنقدر مال برایت جمع میکنیم که نسبت به همۀ ما مال تو زیاد شود. واگر باآن عزت میخواهی ترابحیث چنان بزرگ وسیدخود میپذیریم که هیچ فیصلۀ بدون موافقت تو اجراء نشود. واگر پادشاهی میخواهی ترا پادشاه خودخواهیم ساخت.واگر بر تو جنی نشسته وخود رااز چنگش رهانیده نمیتوانی، در آنصورت ترابه کاهنی میبریم که بر تو بخواند.ودرین راه هر قدر مالی که از مامصرف شود، مصرف میکنیم تا ترا ازین آسیب بر هانیم).

رسول الله ﷺ بعد ازینکه همه حرفهای او را شنید به او فرمود: ای ابوالوالید! سخنت تمام شد؟) او گفت بلی . رسول الله ﷺ به او فرمود : (حالا از من بشنو!) . وسپس آیاتی از سوره متبرکه (فُصِّلَت) رابرایش تلاوت نمود. وپیشنهاد تأسیس چنین نظام مشترک باقریش راکه زعیم ورهبر آن نیزخود رسول الله ﷺ میبود رد کرد.

از رد نمودن رسول الله ﷺ پیشنهاد کفار را که در آن تشکیل نظام مشترک راخواسته بودندبه خوبی آشکار میگردد که رسول الله ﷺ نظریه تشکیل نظام مختلط باکفار راحتی در وقت محرومیت ومظلومیت که اصحابش بااذیت وتکلیف شدیدمشرکین مواجه بودند نیز نپذیرفت، درحالیکه در صورت قبول آن پیشنهاد ممکن بود بر مسلمانانیکه در حالت مظلومیت قرار داشتندیکمقدار آسانی نیز می آمد. ولی باآن هم پیامبر ﷺ این کار رابخاطری انجام نداد تا مسلمانان رابیاموزاند که مؤمن و کافر هیچگاه در یک نظام مشترک باهمدیگر یکجا مانده نیتوانند، وخصوصاً زمانیکه زمام امور نیز بدست جاهلیت و کفر قرار داشته باشد.

واین هم معلوم است که مشرکین قریش در آنزمان مانند کفار عصر حاضر دروغگو ودو روی نبودند. آنها باوعده هائیکه باپیامبر ﷺ مینمودند صادق بودند. آنها واقعاً به رسول الله ﷺ سیادت، مال، پادشاهی ،وزعامت رامیدادند. ولی در مقابل آن خواستار توقف مبارزۀ رسول الله ﷺ علیه نظام جاهلیت آنهابودند. کاریکه کفار دیموکراسی عصر حاضر نیز از مسلمانان همین مطالبه رامی نمایند. ولکن رسول الله ﷺ این پیشنهاد آنهارا هیچگاه نپذیرفت.

حالا سوال درین جاست که آیا آنعده اشخاص وگروههائیکه خود را اسلامی میدانند، وبامشارکت خود در دیموکراسی از آن تأیید میکنند، ازهمین گونه حیثیت برخوردار هستند؟ ظاهرست که به آنها دربدل تأیید کفر دیموکراسی هیچ چیزی به جز چند مشت پول داده نمی شود.

آیا به اینگونه اشخاص و گروه های اسلامی که خود را فریب میدهند واقعاً اجازۀ بیان اسلام راستین، ورد نمودن همۀ انواع کفر ،وانجام اقدام عملی بر ضد آنها داده میشود؟

اگر داده میشود پس در جریان یک قرن گذشته این در کدام یک از کشور های اسلامی دیده شده؟ واگر داده نمی شود پس چرا به همچو حجتهای باطل استدلال میکنند. واز

منهج نبوی دعوت به اسلام که زند گی ودعوت صحابه رضي الله عنهم مثال زندهٔ آن است عدول نموده وبه کناره میروند؟

اگر اینگونه مشار کت به مصلحت دعوت میبود، رسول الله ﷺ آنرا درآنزمانی که مسلمانان به جز از پیشه کردن صبر کار دیگری نمیتوانستند قبول می کرد.

در آنزمان رسول الله ﷺ اصحاب مظلومش را امر نمود تا به (حبشه) مهاجر شوند، ولی به آنها زند گی نمودن باکفار را دریک نظام مشتر ک اجازه نداد، تابه مردم بفهماند که اسلام برای زند گی محیط ونظامی میخواهد که از هر نوع قیدوبند جاهلیت آزاد باشد. ومسلمانان تا زمانی ارام نه نشینند که برای خودیک نظام آزاد واسلامی خالص ساخته نباشند.

جواب چهارم : تاریخ ومشاهده هر دو ثابت نموده اند که در گذشتهٔ نزدیک کشورهای جهان اسلام دیمو کراسی تنها نظامهای مخالف اسلام را به بار آورده، وبرای اسلام صحیح وراستین درآن هیچ جایی وجود ندارد. حتی اگر مسلمانان ازطریق انتخابات نیز به قدرت رسیده باشند.

(الاخوان المسلمون) درمصر از هشتادسال بدینسو بخاطری ایجادحکومت اسلامی از طریق مشار کت در دیمو کراسی فعالیت جدّی می نماید، اما هر زمانیکه نظام حاکم درمصر کوچکترین علامهٔ تغییری بدست الاخوان المسلمین را ببیند، فوراً اخوانیها را بایک مصیبت جدید مواجه میسازد. رهبران واعضای فعال آنرا به زندان می افگند، ویافعالیتهای سیاسی آنها را محدود می نماید، ویااینکه فعالیت این تنظیم راکاملاً ممنوع قرار داده، وهمه دارایی های آنرا مصادره میکند، وبزر گانش را از صحنه سیاست وتأثیر گذاری بر جامعه محروم میگرداند. نتیجه اش این شد که درجریان هشتاد سال گذشته نه حکومت مصر اسلامی شد. ونه جامعهٔ اسلامی درآنجا به میان آمد، ونه هم تنظیم الاخوان بر همان منهج فکری وعلمی که شهیدامام حسن البناء، و شهید سیدقطب از آن در تألیفات ونوشته هایشان یاد کرده اند استوار باقی ماند، بلکه دیمو کراسی با گذشت زمان عزم آنها را سست ومتزلزل نمود، وسیاستهای شانرا تغیر داد.

در تر کیه نیز تنظیم اسلامگرای نجم الدین اربکان (حزب سلامت ملی) در انتخابات اکثریت رامطابق اصول دیمو کراسی بدست آورد، وحکومت ساخت، ولی زمانیکه ارتش سیکولر ومدافع دیمو کراسی تر کیه علامات تغیر رابه نفع اسلام مشاهده نمود، فوراًحکومت رااز بین برد، وبر تنظیم اربکان ممنوعیت اعلان کرد، ورهبران تنظیم رااز فعالیت سیاسی منع نمود.

وهمچنان در بزر گترین کشور مسلمان افریقا (الجزائر) زمانیکه (جبه اسلامی نجات) طبق اصول دیمو کراسی در انتخابات اکثریت رابدست آورد، درآنجانیز ارتش سیکولر مداخله نمود، نتائج انتخابات راالغوقرار داد، ورهبران ومنسوبین عالی رتبه (جبه ٔ اسلامی نجات) رادر زندانها افگند، وملت مسلمان الجزائر رادر چنان یک جنگ داخلی در گیر ساخت که آتش افروختهٔ آن تاامروز ادامه دارد، وده ها هزار انسان درآن سوختند.

در پاکستان نیز زمانیکه عدهٔ از گروه های اسلامی ازبر کت قربانی دیگران در سال (۲۰۰۲م) در انتخابات (صوبه سرحد) برنده شدند، وحکومت ساختند، در طول دوران حکومت خودحتی یک قانون اسلامی رانیز نافذ نتوانستند، ونه به نفع اسلام کدام اقدام مثبتی راانجام دادند که تاریخ آنرا به حیث دست آوردآنها ثبت کرده ودر دل خودجادهد. بلکه به تمام مشکل به انجام همان کارهای رامیکردند که حکومتهای سیکولر آنرابا آسانی به پیش میبردند، وعلت آن نارسایی این بود که به این حکومت دیمو کراتیک از طرف حکومت مرکزی اجازه تنفیذاسلام داده نمیشد. واینهانیز سو گند (وفاداری) به (دیمو کراسی) رایاد نموده بودند

د شهامت دارالافتاء

زموږ د کلي امام

محترم مفتي صاحب لکه څرنګه چې دا یو څرګند حقیقت دی چې امامت یوه سپیڅلې او درنده دنده ده او هر څوک نه شي کولای چې دغه دنده ترسره کړي خو زمونږ د کلي ملا امام صیب یو سپین ږیری شیخ فاني دی چې د کلی امامت کوي داسې کوم خاص کتابونه یې هم نه دي ویلي، تلاوت یې بلکل غلط دی، تجوید یې هم صفر دی، څوک یې د لوی ق او وړوکي ک تر منځ توپیر نه شي کولی او نه د ث او س او همدا راز ذ او ز او داسې نور........ حتی تر دې پورې چې په قرآن کریم کې له خپل ځان څخه حروف اضافه کوي لکه واو، فا، او داسې نور حروف چې په آیت کې دغه حروف نه لیدل کیږي،

او بله مهمه مسله دا ده چې کله لمونځ کوي نو التحیات تر تشهد پورې وایي، بیا سلام اړوي او درود شریف نه وایي، آیا پدې امام پسې لمونځ کیږي؟ هیله ده چې مفصل او له دلیل سره جواب راکړی مننه. وررور مو احمد شاه.

الجواب حامدا ومصلیا وبعد: که نو موړی امام په مشروع ډول سره د امامت وظیفه سرته نشي رسولی [یعني عالم یا مجود، قاري نه وي، حروف سم نشي اداکولی یا یې غلط وایي] نو شرعاً له دې منصب څخه معذور ګڼل کیږي، او دلمانځه د امامت مستحق نه دی، د جماعت د لمانځه لپاره یې تعین نه دی جائز، باید په ځای یې داسې یو څوک امام وټاکل شي چې له دیني علومو سره د تجوید او قرآئت علم هم ولري، همدا راز د امام لپاره په ذکرشوو صفاتو سربیره د تقوی صفت هم ضروري ده.

همدا راز په لمړي او دوهمه قعده کې درود شریف ویل سنت دي، که څوک دغه درود سنت ګڼي او د سنتي له امله یې پریږدي نو ګنهکار ګڼل کیږي،

او که چیري دغه درود بالکل سنت او حق نه ګڼي نو بیا یې د کفر ویره ده او په دغسې امام پسې لمونځ صحت نه لري

عن ابن مسعود رضي الله عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم يؤم القوم اقرأهم لكتاب الله فان كانوا في القراءة سواء فاعلمهم بالسنة ÂÂ الحديث مشكوة ١٠٠ باب الامامة

عن ابن عمر رضي الله تعالى عنه قال قال رسول الله صلى الله عليه وسلم ثلاثة لاتقبل منهم صلوتهم من تقدم قوما وهم لها كارهون الحديث مشكوة ص\١٠٠ باب الامامة

وفي الهداية ص\١٠۴ باب الامامة واولى الناس بالامامة اعلمهم بالسنة...فان تساووا فاقرءهم...فان تساووا فاورعهم لقوله عليه السلام من صلى خلف عالم تقي فكانما صلى خلف نبي فان تساووا فاسنهم لقوله عليه السلام وليؤمكما اكبركما سنا الخ وفي ذيله في تخريج الاحاديث في مجمع الزوائد الحديث بمعناه بلفظ ان سركم ان تقبل صلوتكم فليؤمكم علماؤكم فانهم وفد فيما بينكم وبين ربكم اخرجه الحاكم في المستدرك .الخ

في رد المحتار ١\۵٠۴ من أنه لو ترك السنن فإن رآها حقا أثم، وإلا كفر، لانهم عللوه بأنه ترك استخفافا، كما عزاه في البحر إلى التجنيس والنوازل والمحيط،

وايضا فيه ٣٨٣ والصلوة على النبي صلى الله عليه وسلم سنة في الصلوة اى في قعود اخير مطلقا وكذا في قعود اول في النوافل غير الرواتب الخ ومثله في حلبي كبير ص\٣٧٢

په کوچیانو کې دځايي ملا امامت؟

الاستفتاء: يو ملا امام چې خپله ځايي دى ،خو په کوچيانو کې امامت کوي او له هغوئ سره اوسي، لمونځ پوره ورکوي، نو پوښتنه داده: چې هلته د کوچيانو سره د دغه ځايي ملا امام اقامت صحيح کيږي اوکنه؟ اولمونځونه يې صحيح دي اوکنه؟ مولوي عرفان.قندهار

الجواب حامدا ومصليا وبعد: که کوچيان دسفر په حالت کې نه وو، بلکې په کومه دښته کې يادوښو په سيمه کې دااقامت په حالت کې وو نو هغوئ مقيم ګڼل کيږي، مګر د ملا امام دااقامت نيت يې په دغسې ځای کې نه صحيح کيږي، بلکه که د سفر په مسافه له خپل وطن څخه ليري وو نو دی مسافر دی ،لهذا امام به مقتديانو ته پوره لمونځ نه ورکوي بلکه قصر يعني په څلور ورفرضو کې به دوه رکعته کوي، اومقتديان به پوره لمونځ کوي.

البته: که داځايي ملا په کوچيانو کې واده وکړی ،أوله هغوئ سره زندګي اختيار کړي ،نو بيا يې نيت دااقامت په هغوئ کې صحيح کيږي، همدارازکه دغه امام خپل کور کوچيانو ته ورولي يعني په کده ورشي اوله هغوئ سره واړوي بيا يې هم نيت دااقامت صحيح کيږي.

اوکه چېرته کوچيان هم دسفر په حالت کې وي اوامام هم دسفر په حالت کې وي نو دواړه مسافر بلل کيږي اولمونځونه يې صحيح دي.

لمافي فتح القدير ٣٢/٢:أمامن ليس من اهل البادية بل هو مسافر فلا يصير مقيما بنية الاقامة فى مرعى أوجزيرة ،وفى الشمنى بهامش الزيلعي ١/ ٢١٣ :وقال فى الفتح أمامن ليس من أهل البادية الخ.وفى البحر الرائق ٢/ ٢٣۵ :وقيد بأهل الاخبية لأن غيرهم من المسافرين لونوى الاقامة معهم فعن أبى يوسف روايتان ،وعند أبى حنيفة لايصرون مقيمين وهو الصحيح....

وفى البدائع الصنائع ١ / ٢٧١ :وأما المكان الصالح للاقامة فهو موضع اللبث والقرار فى العادة نحو الامصار والقرى ،وأما المفازة ولجزيرة،والسفينة

فليست موضع الاقامة حتى لونوى الاقامة فى هذه المواضع خمسة عسريومالايصيرمقيما... فصار الحاصل أن عندأبى حنيفة لايصيرمقيمافى المفازة ان كان ثمه قوم وطنوا ذلک المکان بالخيام والفساطيط.

وفى الدرالمختار ۷۳۲/۲ :بخلاف اهل الاخبية كعرب وتركمان نووهامقيمين فى المفازة فانهاتصح فى الأصح وبه يفتى اذاكان عندهم من الماء والكلاء مايكفيهم مدتها لأن القامة أصل الااذاقصدوا موضعا بينهمامدة السفرفيقصرون انووا سفرا والالا ولونووغيرهم الاقامة معهم لم يصح فى الأصح .مثله :فالفقه الاسلامى وأدله ۱۳۲۰/۱ . والله تعالى اعلم بالصواب

له مسجدڅخه دشرير سړي منعه کول ؟

الاستفتاء: زموږپه مسجد کې يو تن ډيرشرير دى يعنى(دخلکوپه مابين کي شيطانت کوي خلک سره أخته کوي نوري هم ډيري فتني جوړه وي)نوکليوال کولی شي چې دغه تن له مسجد څخه منع کړي ؟ عبدالولى سرگوده.

ألجواب حامد ومصلياوبعد:له مسجدڅخه دخلګومنعه کول شرعاسخت منع دي ،ځکه چې سخت وعيد يې پرمنعه وارددى ،البته کوم تن چې په مسجد کښې شرارت اوشيطانت کوي،أودمسلمانانو په مينځ کښې تفريق اچوي ،اوډول ډول فسادونه پيښوي نوبيادداسې تن منعه کول شرعا جائز دي.

لمافى الدرالمختار ۹۴/۱ :...وكذاكل مؤذولوبلسانه. وفى ردالمحتار تحته:والحق بالحديث كل من آذى الناس بلسانه،وبه افتى ابن عمروهواصل فى نفى كل من يتأذى به.والله تعالى أعلم بالصواب.

که مې ورور خداى پاک جوړ کړ نوداپسه به حلالوم : دانذردى؟

-الاستفتاء:که يوه تن نذر کيښود:چې که وروړمې الله تعالى راجوړکړنوداپسه به حلالوم،الله تعالى يې وروړجوړکړ،نوأوس څوپوښتنې دي:

(۱)په دغه تورو سره نذرواجبيږي أوکنه؟

(۲)که نذرصحيح شي ،نوبياله دغه منذورپسه څخه خوراک کولی شي أوکنه؟

(۳)ددغه پسه دحلاليدو په ځاى قيمت ورکولاى شي أوکنه ؟بينواتوجروا المستفتى نواب خان.

الجواب حامداومصلياوبعد:په مذکوره صورتونوکې دلومړي صورت حکم داده چې که ترڅوپوري دنذرصيغه يادنذرتوري ياله دغه وړاندي تورو سره دالتصدق بلحمه(داپسه حلالوم أوغوښي به يې خيرات کوم)توري ونه وايې نذرنه واجبيږي.

لمافى ردالمحتار۵۴۴/۵ :قال:ان برئت من مرضي هذاذبحت شاءة فبرئ لايلزمه شئ،الا أن يقول فلله عليّ ان أذبح شاءة وهى عبارة متن الدرروعللهافى شرحه بقوله: لان اللزوم لايكون الابالمنذوروالدال عليه الثاني لا ألأول فأفادأن عدم الصحة لكون الصيغة المذكورة لاتدل على النذرأى:لأن قوله:ذبحت شاءة وعد لانذر.

مثله:فى الهندية۲۲/۲ :ومثله:فى احسن الفتاوى ۴۸۳/۵ .

وفى الدرالمختار ۵۴۴/۵ :ولوقال:ان برئت من مرضي هذاذبحت شاءة أوعلى شاءة أذبحها ،فبرئ لايلزمه شئ لأن الذبح ليس من جنسه فرض بل واجب كالأضحية فلايصح الااذازادواتصدق بلحمهافيلزمه لأن الصدقه.

أوددوهم صورت حكم داده: چې دمنذورخوراک دناذر أوصلو أوفروعويعني مورپلارنيکه أوددا ولاد لمسيانوته نه ده صحيح أونه خپله ناذرته صحيح ده.

لمافی تبيين الحقائق ۱/ ۳۰۱ :ای:لايجوز الدفع الی أصوله وهم الابوان ،والاجداد ،والجدات من قبل الاب والام وان علوا ولاالی فروعه وهم الاولاد ،وأولاد الاولاد وان سفلوا الی آخرماذکرلأن بين الفروع والأصول اتصالا فی المنافع لوجود الاشتراک فی الانتفاع بينهم عادة وکذابين الزوجين ولهذالوشهدله Â أحدمنهم لم تقبل شهادته لکونهاشهادة لنفسهÂ من وحه فلم يتحقق التمليک علی الکمال وبالدفع الی عبده ومدبره ... الخ .ومثله:فی ردالمحتار ۳/ ۳۷۹ .

أوددريم صورت حکم داده: چې دمنذورشوي پسه په ځای قيمت ورکول هم جائزده.

لمافی فتاوای دارالعلوم ديوبندبلغة بشتو ۱۲/ ۸۵ :زيدنذرومنی چې که زمازوی پيداشونويوه غوابه خيراته وم ... الخ.

جواب په قيمت اداکولوسره دزيدغاړي خلاصي سوي أوپه څومره موده کې چې دی وغواړي چې قيمت خيرات کړي صحيح ده. والله تعالی اعلم

په دې ډول نکاح کې دمهريادول ضروري دي ؟

الاستفتاء :محترم مفتي صاحب !موږديوداسي سړي نکاح تړوچې ميرمني ته يې بائن طلاق ورکړي دي ،نومهربه په دې نکاح کې ياد ووأوپه خاوندباندې مهرشته أوکنه ؟ مولوي نورالله.

الجواب حامداومصلياوبعد:په ذکرشوي صورت کې چې ددې سړي أوميرمنې نکاح ورتړئ نودمهريادونه بهضرورپه کې کوئ ، همداراز په خاوند باندې لازم ده چې ميرمنې ته ددغې نکاح مهرورکړي، البته دمهر له تعين څخه وروسته که بې ميرمن په طيب دنفس سره ورمعاف کې نوبيابيله خبره ده.

قال الله تعالی :((وَأُحِلَّ لكم مَاوَرَاءَ ذَالِكم أن تَبتَغوابِأموالِكم))الاية سورة النساء پاره ۵.

وفی الهداية ۱/ ۳۰۳ :ثم المهرواجب شرعاابانة لشرف المحـل.

وفی الخانية بهامش الهندية ۱/ ۳۷۹ :وذکرشمس الائمة الحلواني رحمة الله تعالی فی شرح الحيل اذاجددالنکاح فی المنکوحة وروي عن أبي حنيفة رحمه الله تعالی آنه يلزمه المهر الثاني ألخ.

وفی الهندية۱/ ۳۲۳ :واذاتزوج امرأة ودخل بها ثم طلقهابائناثم تزوجهافی العدة ثم طلقها قبل الدخول بهافی النکاح الثاني کان عليه مهر بالنکاح الأول ومهرکامل بالنکاح الثاني فی قول أبي حنيفة رحمه الله تعالی الخ.

وفی ردالمحتارمع الدرالمختار ۴/ ۲۲۳ :ويتاکدعندالوطئ أوخلوة صحت من الزوج أوموت احدهماأوتزوج ثانيا فی العدة الخ .قال:المحقق علامه ابن عابدين رح وهووجوب العدة عليهامنه فيمالوطلقها بائنابعدالخول ثم تزوجهافی العدة وجب کمال المهر الثاني بدون الخلوة والدخول. الله تعالی اعلم بالصواب.

په دار سرونه

حمدالله فطرت

دآزادۍ د ناوې هار ته دي په کار سرونه
دې قربانۍ ته وړاندي شوي دي بې شمار سرونه

د تن په وینو يې د يو ې د خپلواکۍ بلیږي
آن تر منزله يې شیندلي دي پرلار سرونه

که چابې تنکو مو شمله د بابا تیټه کړله
لا خو درانه شته په شمله او په دستار سرونه

دا ستا په مینه کي تل لوبې په سرونو کوي
هیواده! نه دي ناغه شوي دایثار سرونه

موږ بیا ژوندۍ کړه د منصور دعشق خوږه افسانه
هغه دي څوړند مو تراوسه دي په دار سرونه

shahamat

ګوانتنامو سندربول

استاد ناګار

دننګ او پت د کارنامو سندربول
زه د تکبیر د زمزمو سندربول

ښکلیه! په کړې ژمنه څنګه به شي
د مړاوو سترګو دلیمو د سندربول

د زړه دوینو انځور ګرېږي منه
د پرګنو د هنګامو سندربول

په بلوسګر ځله لکه تندر لګي
د یو څو تورو، کلیمو سندبول

چې په شفق د قربانۍ رنګین دي
یم د هماغو مابښامو سندربول

سوزېږي دی یو خو د واړه سازه لري
داد ځرخي، ګوانتنامو سندربول

د زړه اېلبند ته ګوره بیا ختلی
شپیلۍ په وکلې د رمو سندربول

ناګاره! ستره یې د پیغام والی
د نا اېللو د نغمو سندربول